# نبوغ او عبقریت

قیام الدین خادم

۱۳۹۴ ش. کال

**کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** نبوغ او عبقریت

**لیکوال:** قیام الدین خادم

**لومړی چاپ:** ۱۳۴۰ش. کال، پښتو ټولنه

**دوهم چاپ:** ۱۳۹۴ش.کال

**خپرندوی:** د استاد خادم د آثارو د چاپ علمي بورد

**کمپوز:** رضوان الله شپون

**ډیزاین:** څېړنوال عبدالظاهر شکیب

**چاپ زیار:** څېړندوی وجیه الله شپون

**چاپخی:** القدس خپرندویه ټولنه

alquds.printing.press@gmail.com
+93 (0) 799 022 720

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ټوکه

**«دا کتاب وړیا وېشل کېږي»**

بسم الله الرحمن الرحيم

## یادونه او مننه

د هر علمي، ادبي ، فلسفي او هنري اثر د پاڼو بیا بیا اړول او لوستل بې ګټې نه دي. کتاب یو ملي او معنوي همېشنی پانګه ده چې لیکوال یې خپلې ټولنې ته په میراث پرېږدي . لوی استاد (خادم بابا) تر اویاوو زیات کتابونه (چاپ او نا چاپ) لیکلي چې د وخت په تېرېدو یې ځینې کتابونه په فزیکي لحاظ زاړه شوي ، خو معنی او محتوا یې دکلونو په تیریدو سره بیا هم ژوندۍ او تازه ده.

دکتاب او ادب درنو مینه والو! دخوشحالۍ خبره ده چې د خادم بابا د آثارو د بیا چاپ لړۍ پیل او دا دی په تیرو څو کلونو کې د بابا تر لسو زیات کتابونه په چاپ ښکلي شول او دا لړۍ روانه ده چې په کې د خادم بابا د آثارو د بیا چاپ د علمي بورډ په زیار (د پښتون سته او ځانګې) ، (خیالي دنیا )او د (نبوغ او عبقریت) په زړه پورې کتابونه بیا چاپ شوي دي. په نږدې راتلونکې کې به ( آسماني غږ) او (دمرغلرو امیل) کتابونه چې د چاپ چارې یې رواني دي ، ستاسې مطالعې ته وړاندې شي. د نبوغ او عبقریت دکتاب په کمپوز، پروف لوستلو، ډیزاین او نورو تخنیکي چارو کې چې ښاغلو هر یو: څیړنوال عبدالظاهر شکیب ، څېړندوی وجیه الله شپون ، عبدالقیوم صداقت ، رضوان الله شپون او د القدس چاپخونې مشر عبدالحی صداقت زیارګاللی، د زړه له کومې مننه کوم. په همدې تو ګه له خپلو ګرانو خوریونو هر یو: عبدالوکیل اتک ،اجمل اتک یوسفزی، خوشحال ، انجنیر خالد ، ډاکټرې ملالۍ او ډاکتر حامد خادم څخه چې دخپل بابا د آثارو په چاپ کې یې هر اړخیزه مرسته کړې ، مننلویه یم . په پای کې دخپل خواخوږي، مرستندوی او د ژوند له ملګري ښاغلي ځاځي صاحب څخه هم د زړه له کومې مننه کوم چې د خادم بابا د آثارو په را ټولولو او تنظیم کې یې لویه برخه اخستې او شپه او ورځ زیار ایستلی دی. په ډیر درنښت

دخپل هیواد او ولس یوه کو چنۍ خدمتګاره

ډاکټره ثریا خادم

تورنټو ــــ کاناډا

# د کتاب فهرست


گڼه سرلیک مخګڼه

۱ـ یادښت........................................الف

۲ـ تقریظ........................................ج

۳ـ تقریظ........................................هـ

۴ـ تقریظ........................................ح

۵ـ تقریظ........................................ی

٦ـ مقدمه........................................۱

۷ـ آیا له نبوغه انکار کېدای شي؟........................................۲

۸ـ نبوغ څه شی دی؟........................................۵

۹ـ د استعدادونو او صلاحیتونو تفاوت........................................۷

۱۰ـ د اجتماع عصر او نبوغ........................................۱۱

۱۱ـ یوه لویه اشتباه........................................۲۳

۱۲ـ فلسفه او ساینس........................................۲۸

۱۳ـ آیا چنګېزخان نابغه و؟........................................۳۴

۱۴ـ د جنون او نبوغ فرق........................................۳۸

۱۵ـ د نبوغ اقسام.......................................................................۴۱
۱٦ـ د نوابغو نخښې.......................................................................۴۹
۱۷ـ د نبوغ د انکشاف موجبات او موانع.............................................. ۵۸
۱۸ـ نوابغ عصر پيدا کوي که عصر نوابغ؟........................................... ٦۵
۱۹ـ د نبوغ پېژندل او پالل.............................................................. ۷۱
۲۰ـ له نبوغ څخه کار اخستنه............................................................۸۰
۲۱ـ يو نابغه هلک..........................................................................۸٦
۲۲ـ ملاحظات...............................................................................۹۸
۲۳ـ د شلمې پېړۍ نابغه.................................................................۱۰۰
۲۴ـ د نبوغ مخالفت......................................................................۱۰۴
۲۵ـ په تېره مقاله زموږ ملاحظات.................................................... ۱۱۵

## یادښت

نبوغ او عبقریت هغه اثر دی چې مرحوم استاد قیام الدین خادم په ۱۳۳۷ش.کال تألیف کړی او پښتوټولنې په۱۳۴۰ش.کال لومړی ځل په دولتي مطبعه کې چاپ کړی دی. څرنګه چې دا ارزښتمند کتاب پوره ۵۴کاله وړاندې چاپ او خپور شوی و، نو طبیعي ده چې په دومره موده کې هر کتاب په اصطلاح د نایابو کتابونو په جمله کې راځي او د بیا چاپ او خپرېدو اړتیا یې احساسیږي. په همدې اړه څو میاشتې وړاندې د مرحوم استاد خادم د آثارو د چاپ علمي بورد او په ځانګړې توګه زما دوست ښاغلي عبدالوکیل اتک د نبوغ او عبقریت کتاب د بیا چاپېدو په موخه په فیسبوک کې له دوستانو او مینه والو څخه د دغه کتاب د یوې نسخې د ترلاسه کولو په هیله یو پوست کړی و، نو دا چې له ما سره یې یوه نسخه موجوده وه، ما ورته د ورکولو ژمنه وکړه.

زما یل دوست ښاغلي غازي خان ځاځي، د ده مېرمن آغلې ډاکټرې ثریا خادم او ښاغلي اتک بیا د کتاب د کمپوز او پروف لوستلو په چار کې له ما نه د همکارۍ غوښتنه هم وکړه. ما هم ځان مکلف او مفتخر ګڼله چې د هېواد د دغسې نومیالیو لیکوالو او استادانو د آثارو په چاپ او خپراوي کې خپله ونډه اداء کړم. کتاب مې د کمپوز لپاره ګران رضوان الله شپون ته حواله کړ، هغه کمپوز کړ او ما یې پروف ولوستل. د پروف لوستلو پرمهال د لومړي چاپ د چاپي تېروتنو پر سمون سربېره کومې کلمې(عربي،دري او نورې)چې مرحوم استاد د خپل مطلب د اداینې او مسایلو د افادې لپاره غوره کړې او کښلې

وې، پرته له لاس وهلو، ژباړلو او تعديلولو، په هماغه خپله بڼه پرېښودل شوي او د ليکنې د سبک خونديتابه ته پاملرنه شوې ده. يواځې د ليکدود له پلوه د خينو گوتو په شمار کلمو او اداتو کې ليکنی جزئي جوليز بدلون راوستل شوی چې دا هم په هېڅ حساب دی.

زه د کتاب د ارزښت ، اهميت او منځپانگې په اړه څه نه وايم، ځکه دغه مسايل د وخت څلورو تنو درنو پوهانو په خپلو تقريظونو کې په څرگنده بيان کړي دي. زما په اند د کتاب او د کتاب د مؤلف په اړه د مرحوم استاد مجروح دغه وينا کافي ده چې وايي: «زه د نبوغ او عبقريت له لوستلو څخه وروسته د خادم صاحب په خپل نبوغ قايل شوم».

زه د دې ارزښتمند کتاب د بيا چاپ او خپراوي له امله د علم او ادب ټولو لارويانو ته مبارکي وايم او د الله جل جلاله له درباره د کتاب مؤلف مرحوم استاد خادم ته د مغفرت او جنت الفردوس هيله کوم.

څېړندوی وجيه الله شپون
د افغانستان د علوماکاډمي
د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز سرپرست رئيس

## په کتاب باندې تقریظونه او تبصرې

(۱)تقریظ:

### د ښاغلي محمد قدیر تره کي په قلم

رسالهٔ مختصر و پرمعنی و عمیق معنون به«نبوغ و عبقریت»نویسندهٔ محقق و متعمق جناب ښاغلی«خادم»را خواندم و بدون مبالغه باید عرض کرد که زیادتر حظ بردم و به آیندهٔ محیط علمی و ادبی خود امیدوار شدم و فهمیدم که هنوز هستند مردمیکه در محیط ما هم در مباحث مهم که از مشغلهٔ عقول متفکرهٔ جهان متمدن امروزه است، قلم و قدم می زنند و آثاری بیرون می دهند.

درین کتاب یا رساله از شعر و شاعری چیزی نیست، از زلف و کاکل بحثی به میان نیامده و از سیمای زیبای معشوقه های فتان حکایتی نیست ، ولی آنچه هست از موضوعات و مباحثی است که هنوز در محیط ما نیامده، ولی دنیای امروزه در آن بارها مدرسه و مسالک علمی و فلسفی داشته و دارند و از آن حظی می برند که مردم ما از زلف و کاکل و یا معاشقه های جوانان شیک و شنگ حاصل می کنند.

سالها است در همین موضوعات فکر و مطالعه می کردم و آرزو داشتم دران باره اثری بنویسم، ولی هنوز عطالت ها و تنبلی های که مولود بیکاری دائمی من است، به من مجال تحریرچنین اثری نه داده بود که دیدم خوشبختانه آن آرزوی دیرینم از دماغ و قلم ورزیده تر از من، بیرون آمد.

من این اثر را قابل هرگونه تقدیر می دانم و علت آن هم این است که این اثر و امثال آن آثاری است که ما را هم با دنیای تفکر غرب آشنا می کنند و نیز هوس و ذوق می بخشد قدری جدی تر و عمیق تر بحث کنیم. بنا بران این اثر باید در درجهٔ اول قدر شود و به سرعت ممکنه طبع گردد و مورد استفاده واقع شود. امید ما به تکثیر امثال این گونه آثار همیشه بدرقهٔ همت و ذوق ارباب فضل خواهد بود.

محمد قدیر تره کی»

کابل، کارتهٔ۴، ۱۷عقرب۱۳۳۷

**(۲) تقریظ**

## د ښاغلي غلام جیلاني جلالي په قلم

نبوغ او عبقریت د یو ښکلي کتاب نوم دی. دا کتاب که څه هم د حجم په لحاظ وړوکی بریښي، اما د موضوع په باب خورا ستر او مهم اهمیت ورته ټاکلی شو. لکه له عنوان څخه یې چې څرګندیږي، د دې کتاب محتویات په یوه بغرنجه بشري فلسفه راڅرخېدلي او له شروع تر آخره پورې د نبوغ او عبقریت په شا و خوا کې علمي څېړنه کوي.

د نوموړي اثر لیکوال، مشهور لیکونکی ښاغلی قیام الدین«خادم»دی. ما په خپل نیمګړي ژوند کې دې موضوع ته راجع، ډېر مختلف مضمونونه لوستي او لیکلي مې هم دي. سربېره پر دې مې د نړۍ د سترو پوهانو نسبتاً زیاتې نظریې او مقالې ترجمه کړي دي، مګر تر اوسه پورې ما ته د کتاب په ډول په دې باره کې کوم اثر په نظر نه دی راغلی چې یواځې په دې موضوع مشتمل وي. رشتیا خبره دا ده چې ښاغلی مولانا خادم د نبوغ او عبقریت د کړاوې فلسفې موضوع ښه تعقیب کړې او د قدر وړ زحمت یې په کې ګاللی دی. زما په عقیده دا رساله د پښتو د نوي ادبي نهضت لومړی اثر دی چې تر اوسه د پښتو ټولنې له خوا لیکل شوی او د لوست ډګر ته راوتلی دی. څکه دا کتاب د علمي اسلوب پر ښنسټ سم لیکل شوی او د مخصوصې او ټاکلې ښې او سبک خاوند دی. پوهان پوهیږي چې د پښتو د نوي ادبي رجحاناتو د تلې پله بې له کوم قید او شرط نه په ډېرو پانو او حجم لرونکو آثارو نه درنیږي،

بلکې يو متين او د موضوع په لحاظ پوخ اثر که وړوکی هم وي د ژبې هغه حقيقي پانګه ګڼل کېدای شي چې د اولس اړه ور پورې تړلې شوې وي.

که موږ غواړو چې د خپلې مورنۍ ژبې(پښتو)اهميت په ناآشنا وګړو باندې ومنو، نو لومړی پلا دا لازميږي چې دا مهمه او باقاعده ژبه په دغسې علمي او ادبي آثارو مجهزه کړو چې د هغو په لوستلو د هر چا ادبي تنده ماته او اړتياوې يې بشپړې شي. د نبوغ او عبقريت کتاب بې له مبالغې د هغو آثارو له جملې څخه يو اثر دی چې لوست يې هر چا ته ګټور ثابتيږي. سربېره پر دې هر کله چې په دې ډول آثارو کې د متکامل انسان، عادي او تر عادي ټيټ انسان په فطري استعدادونو علمي څېړنه کيږي نو د ادب په نړۍ کې هم ښه ګرانښت لري.

ښاغلي مولانا خادم په دې کتاب کې دا لاندې مهم عناوين تر څېړنې لاندې نيولي دي: آيا له نبوغه انکار کېدای شي؟ نبوغ څه شی دی؟ د استعدادونو او صلاحيتونو تفاوت، آيا چنګيزخان هم نابغه و؟ د جنون او نبوغ فرق، د نبوغ اقسام، د نوابغو نښې، د نبوغ د انکشاف موجبات او موانع، نوابغ عصر پيدا کوي او که عصر نوابغ؟ د نبوغ پېژندل او پالل، له نبوغ څخه کار اخستل.

د خادم صاحب دا ليکنه له دې کبله د قدر وړ ده چې دی هر ځای خپله مدعا او موضوع په منطقي، تمثيلي او حسي مثالونو څرګندول او ثابتول غواړي او له نظر سره يې عمل يوځای ملګری دی.

شک نه شته چې فلسفه او بيا تطبيقي فلسفه خورا ګران کار دی. خو خادم صاحب مؤفق شوی دی چې په دې تنګ ډګر کې ارت ګامونه اوچت کړي. که څه هم د ده د بحث موضوع(نبوغ او عبقريت)دی خو دی د خپلې

څېړنې د اسانه کولو له پاره د خینو نورو پوهنو مقدمات او خینې مظاهر هم یادوي او له بلې خوا یې په تضّمني ډول خینې پېښې، علمي شخصیتونه او د نورو مثبته حقایقو مجمله څېړنه هم تر کتنې لاندې نیولې ده چې د نبوغ په موضوع له هرې خوا نه رڼا واچول شي او مطلب غامض پاتې نه شي.

خادم صاحب که څه هم د ګربزي(روباه فطرت)په بلا اخته انسانان د ځان له پاره فوق العاده ګڼي چې شهرت پیدا کولی شي، نوابغ نه دي بللي او د ارستو په شان یې هغه بنیادمان انانیت پسند، نفع دوست او د فردي ګټې مریان ګڼلي دي. له دې خبرې څخه د خادم صاحب اوږده څېړنه او وسیع معلومات څرګندېږي.

دومره اجازه غواړم او ویلی شم چې خادم صاحب د(جنون او نبوغ)له موضوع څخه لنډ تېر شوی دی. یعنې ډېر بحث یې نه دی باندې کړی. خادم صاحب نوابغ دوه ډلو ویشي چې یو ته یې علمي او فني او بل ته یې اجتماعي او اصلاحي نوابغ وایي او د دې ادعا د اثبات له پاره یوناني او منطقي دلایل او څه نور عقلي مثالونه بیانوي. ده د سترو متصوفینو نظریات هم یاد کړي دي او د (لا ادري)طایفې له افکارو سره یې هم تماس کړی دی. دی شهرت د نبوغ پرچم بولي او داسې نوابغ هم مني چې شهرت یې د خینو عواملو په وجه پټ پاتې شي دا خبره ربښتیا ده. په مجموعي ډول د خادم صاحب دا کتاب د ده د ستر استعداد نماینده دی زه ده ته تبریک وایم او اوږد عمر ورته غواړم.

غلام جیلاني «جلالي»

## (۳) تقريظ

### د دوکتور حفیظ الله «ناصري» په قلم

جناب محترم مولانا خادم صاحب!

کتاب شما را تحت عنوان«نبوغ و عبقریت»مطالعه کردم. با آنکه لسان پشتوی بنده چندان قوی نیست، لیکن انسجام معانی و جملات، مشکل را مرفوع می ساخت. گذشته از همه معانی بزرگ و تحلیلات علمی که دراین کتاب به عمل آمده، هر دانشجو و طالب علم و معرفت اجتماعی را به خود می کشاند. مطالب پخته و قوي در این کتاب با اندک نقائص که شاید در تجدید نظر ثاني مرفوع شود مرموز گشته که از نقطه نظر کاوشهای علمی در بعضی گوشه های علوم اجتماعی و روحیاتی خیلی با ارزش است.

این کتاب از نقطه نظر عموم برای جمیع ذوقمندان دانش و از نقطه نظر خصوص برای دانشجویان فاکولته های حقوق و ادبیات و غیره خیلی مفید و چیز خواندنی و دانستنی می باشد. اگر که هم مطالب این کتاب از کدام مأخذ قوی اخذ شده باشد باز هم امثلهٔ آن محیطی و ادراک خواننده را به اصل مطلب روز رهبری کرده تعقیدات ذهنی را از بین می بردارد و هضم آن چندان ثقیل نیست و فعلاً برای مردمان ما مفید می باشد.

۱۰/ ۱/ ۱۳۳۷«ناصري»

یادگیرنه: ما له ښاغلي دوکتور ناصري څخه پوښتنه وکړه چې مراد په(اندک نقائص)سره مثلاً څه شی دی؟ ده را ته وویل چې «لکه په لومړی

برخه کې الکترون ذکر شوی دی، دلته باید پوزیترونونه چې د ایتم اجزاء دي، هم ذکر شوي وای»ما ورته په خندا وویل: دا خبره خو په اندک نقائص کې نه راځي. ځکه چې د الکترون ذکر دغلته ضمني او تمثیلي دی او د ایتم د نورو اجزاوو ذکر نه لازموي او په اصل مفهوم او مضمون کې فرق نه راولي.(خادم)

## (۴)تقریظ

### د سیدبهاءالدین مجروح د ادبیاتو د فاکولتې د رئیس په قلم

ما د خادم صاحب «نبوغ او عبقریت» کتاب ولوست. دا موضوع یوه ډېره مهمه موضوع ده او ښاغلي خادم چې کوم زیار او زحمت د دې موضوع په شرح او تحلیل کې ایستلی دی، د ډېر قدر وړ دی.

زه د نبوغ او عبقریت له لوستلو څخه وروسته د خادم صاحب په خپل نبوغ قایل شوم. ځکه چې ده یواځې له خپل شخصي فکر څخه کار اخستی او د نبوغ په باره کې یې د خپلو شخصي افکارو او د خپل ژوند د تجاربو نتیجې په دې کتاب کې ځای کړي دي. ښاغلي خادم صاحب په دې کتاب کې ډېرو مهمو موضوعاتو ته اشاره کوي. شک نه شته چې په دې موضوعاتو بل شان خبرې هم کېدای شي او د خادم صاحب په نظریاتو بعضې انتقادات واردېدای شي. مگر دا هم د «نبوغ او عبقریت»یو بل صفت دی چې د علمي بحثونو او فلسفي نقادی له پاره لار پرانیزي. هر څوک دې باید دا کتاب ولولي. د دې له پاره ښایي چې پښتو تولنه د دې پښتو اثر چاپولو ته توجه وکړي.

۲۸/ ۳/ ۱۳۳۹سیدبهاءالدین مجروح

---

### ښاغلی محترم سیدبهاءالدین مجروح د ادبیاتو د فاکولتې رئیس!

ستاسو په تبصره کې چې زما په کتاب«نبوغ او عبقریت»باندې مو لیکلي ده د «یواځې د خپل شخصي فکر(او)د خپلو شخصي افکارو، د خپل ژوند د تجاربو نتیجې» عبارات راغلي دي. لطفاً د دې پوښتنې اجازه او

خواب راکړئ چې د «پواخې» او«شخصي»کلماتو خو به گوندي دا معنی نه وي چې د دې کتاب مندرجات عندي دي او څه علمي او فلسفي قیمت نه لري؟ ستا کلمې قیمتي دي، نو خکه مو صراحت وغوښت. په احترام ۳۰د جوزا۱۳۳۹«قیام الدین خادم»

## خواب

ښاغلی خادم! تاسې ته او ټولو خلکو ته به معلومه وي چې د فلسفې او علم الاجتماع په ساحه کې هر څه لکه په طبیعي علومو (ساینس)کې مثبت او بدیهي نه وي. په انساني علومو مثبتیت او په طبیعي علومو کې مثبتیت یو ډېر عمیق فرق لري. پر دې اساس په طبیعي علومو کې باید هېڅکله عندي او نفسي ملاحظات داخل نه شي. مگر برعکس په انساني علومو کې له خپلو شخصي ملاحظاتو څخه کار اخیستل او د خپل شخصي فکر په وسیله تحقیقات کول ضروري او لازمي شی دی او په ذات خود علمي او فلسفي ارزش لري، نو گومان کوم چې اوس به زما د کلماتو مفهوم ښکاره شوی وي. ستاسې کتاب له هر نقطه نظر څخه ارزش لري، ښه مطالب په کې پراته دي. پر مختلفو موضوعاتو ښه ښّه بحثونه شوي دي او په لوستلو کې یې د هر چا فایده وینم.

سیدبهاءالدین «مجروح»

۱۳۳۹ /۴ /۴

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله والصلوة علی نبیه والسلام علی من اتبع الهدی.

نبوغ او عبقریت د دې عصر له مهمو مسائلو څخه خورا مهمه مسئله ده. په تېرو دېرشو کالو کې ما پر دغه مسئله څومره چې ممکنه وه، مطالعه کړې ده. په دې ورځو کې مې چې له ځینو دوستانو څخه د نبوغ او عبقریت په باب ځینې خبرې واورېدې، نو زه بې دې ته اړ کړم چې د دغې موضوع د روښانولو لپاره یوه مقاله ولیکم. که څه هم فرصت او صحت ما سره مساعدت نه درلود، خو په دغه کار مې لاس پورې کړ. د موضوع غوښتنې، مقاله د رسالې او کتاب حد ته ورسوله. زه نه شم ویلای چې د موضوع حق به اداء شوی وي، خو دومره ویلای شم چې د پښتون ټولنې ته یوه نوې او زښته ډېره ضروري مسئله په پښتو وړاندې شوه.

هیله ده چې د دې اثر لوستل به لوستونکو ته ډېره فایده ورسوي. دا فایده د منلو، نه منلو او تردید په دریواړو صورتونو کې ممکنه ده، اګر که هر لیکونکی د خپل اثر د مقبولیت هیله من وي او دا زموږ هم آرزو ده.

کابل، میوند واټ،«خادم مېنه»

۱۰د سنبلې ۱۳۳۷قیام الدین«خادم»

## آیا له نبوغه انکار کېدای شي؟

لکه څنګه چې دا دنیا له متضاداتو پیدا ده، همدغه شان به د فکر او ادراکاتو په عالم کې ډېره لږه کومه داسې یوه مسئله وي، چې زیات اختلافات به په کې نه وي. ولې د عقل او پوهې وظیفه دا ده، چې د دغو اختلافاتو د تورتم له منځه کومې رڼا ته ځان وباسي او په کلي یا مؤقتي ډول د انسان د خبر لپاره په یو څه حقایقو تشبث وکړي. زموږ دا حاضر عصر له یوې خوا د مثبته علومو او ساینس عصر دی او د تجربې له برکته ډېر څه پېژندل شوي دي او له بلې خوا د انسان د فکر د حرکت او تجسس زمانه ده.

(نو په دې دوهم لحاظ خیني خلک په باور باندې هم باور نه لري او نه شي کولای چې په ایمان باندې هم ایمان راوړي)

نوره دنیا خو هر څه چې ده له کوم ځایه کوم ځای ته رسېدلې ده. اما زموږ دا دنیا له ډېر جګ ځای څخه ډېر ټیټ ځای ته رالوېدلې ده. په دې ټیټ ځای کې تیاره ده. خاموشي ده او وهم او ترهه ده. اوس چې لږه رڼا لګېدلې ده، خلک خوځېدلي دي، خو لا روان شوي نه دي روانیږي به هله چې لاره ښکاره شي او خلک باور وکړي چې هو همدغه لاره ده. تر څو چې لاره ښکاره شوې نه وي او خلکو باور نه وي کړی چې پر دغه لاره

کوم ځای ته رسېدل ممکن دي، نو په تیاره کې او په پټو سترګو به څنګه د مزل او تګ کړاو په سر واخلي؟ څو چې انسان په یو څه متیقن شوی نه وي، نو د شک، ګومان او ظن لپاره هېڅکله هم ځان په کړاو او جنجال کې نه اچوي.

یو له دغسې مسئلو څخه چې دنیا یې ادراک کړی دی او مو‌ږ لا اوس هم په کې د شک په اندازه کې یو، هغه د ((نبوغ)) مسئله ده.

د نبوغ په باب تر اوسه په دنیا کې ډېر بحثونه شوي دي او دا موضوع یو سرحد ته رسېدلې ده. پخوا به خلکو دا ویل، چې د دنیا ټول لوی اجتماعي او سیاسي حوادث د دې عالم نه د باندې قوتونو یا د طبیعي تصادفاتو په واسطه کېږي. کوم وخت چې د علم رڼا دنیا روښانه کړه، نو د ځمکې او د آسمان او د مادې او عناصرو د تحقیق او تجربې نه وروسته خبره تر الیکترونونو او پوزیترونونو، چې د اتوم اجزاوې دي ورسېده. د مللو او اقوامو د تاریخ د سپړلو څخه پس انسان د انواعو د تاریخ یعنې طبیعي تایخ پاڼې واړولې او وروسته د انسان په نفس او روح کې ورننوت. وایي چې علم النفس لا تر اوسه په ابتدایي مراحلو کې دی.

خو په دغو ابتدایي مراحلو کې هم د انسان د شعور او تحت الشعور ډېرې غوټې ببرته شوې دي. نن چې په هر علم او د حیات په هره خوا کې

نوی قدم اخیستل کیږي، یا چې پخوا څه شوي دي او موږ ورباندې علم لرو د نوو علومو او کشفیاتو په رڼا کې دغه ټول دوه سببه لري؛ چې یو یې د تاریخ تسلسل او بل یې د انسانیت نبوغ دی.ځینې دا هم مني چې تصادفاً هم په دنیا کې یو څه کارونه کیږي. مګر اکثره له دې نه منکر دي او وایي چې تصادفات او اتفاقات هماغه امور دي، چې علل او اسباب یې غامض وي. د تاریخ د تسلسل دا معنی ده چې کوم وخت انسان اور وموند، نو پخلي ته متوجه شو او په دې فکر کې ولوېد چې اور څه شی دی او په کومو کومو ذریعو پیدا کیږي.

نو ډېره زمانه وروسته یې برق وموند او چې برق پیدا شو نو موټر پیدا شو او موټر بیا د هوا او ځمکې د تګ او حمل و نقل لاره هواره کړه او دغه شان زرګونه ماشینونه او آلات ور نه په کار ولوېدل. خو یاد لرل په کار دي، چې په دې ټولو علومو او اختراعاتو کې د انسان نبوغ شامل و. یوازې د ساینټیفک اختراعاتو او انکشافاتو خبره هم نه ده، بلکې ټول ادبي، اجتماعي او سیاسي ابتکارات د نبوغ د اغېزې لاندې منځ ته راغلي دي.

تر دغه اجمال وروسته بنایي چې په نبوغ کې بحث وکړو او دا مهمه موضوع د خپل توان په اندازه وڅېړو. نو د مطالعې او استفادې د سهولت لپاره باید موضوع وویشو او په بېله بېله برخه ځانته ځانته وغږېږو.

## نبوغ څه شی دی؟

نبوغ یوه عربي کلمه ده. د عربو په ادبیاتو کې نابغه، عبقري او داهي تقریباً د یوې معنا لپاره استعمالیږي. کوم وخت چې سړی عربي قاموسونو ته مراجعه وکاندي، نو دغسې لغوي شرحې په کې میندی شي: په المنجد کې لیکي(نبغ،ینبغ، نبوغاً)الشئ: خرج و ظهر.الماء:نبغ.الرجل: قال الشعر و أجاده.فی العلم و غیره: أجاد. نبغه القوم: خیارهم(النابغه)—ج.نوابغ: المجیدالفصیح:(الرجل العظیم الشان)دا خو د نبوغ په باب لیکنه وه. د عبقري په باب لیکي: (عبقر عبقرة) السراب:تلألأ (عبقر):موضع کانت العرب تزعم أنه کثیرالجن.(العبقري)نسبة الی العبقر.السید.(الذی لیس فوقه شئ.کل ما یتعجب من کماله و قوته و حذقه) د دهاء په باب وایي: الدهاء:جودةالرای والحذق.الداهی: العاقل. ج—(ادهیاء). نو په دې ټولو لغوي شرحو او بیانونو کې د نابغه، عبقري او داهي په معنی کې یو شی مشترک دی چې هغه لویي، د شان عظمت، د عقل کمال او فوق العاده ګي ده. نو که مونږ وغواړو چې په پښتو لغت سره د نبوغ شخه تعبیر وکړو، نو وبه وایو:(وتلی او اتل سړی دی) نابغه یعني وتلی،اتل او عظیم الشان شخص.دا خو لغوي څېړنه ه.په متعارفو ادبي اطلاقاتو کې د نبوغ داسې

تعریف شوی دی:(هو تملک القوة لادراک النتیجة السامیه)په المنجد کې بې لیکلي دي چې(سما—یسمو—سموا)علاوارتفع.(السامی والسامیه:اسم فاعل)نو د نبوغ تعریف داسې شو چې نبوغ د یوې لوړې او عالي نتیجې د حصول لپاره د قوت لرل دي. یعنې نوابغ هغه کسان دي چې د لویو کارونو د کولو لپاره د لوی قوت خاوندان وي او د خارق العاده کارو لپاره صلاحیت لري.

نو د پورته خبرونو څخه چې کوم شی زموږ لاس ته راتلای شي هغه دا دی چې انساني شخصیتونه او د اشخاصو قوتونه او صلاحیتونه قدرتاً او خلقتاً متفاوت دي. دا تفاوتونه په کم او کیف دواړو کې دي. مثلاً عسکریت او شجاعت بېل صلاحیت دی. شعر، نویسنده ګي او د لیکلو طاقت بېل شی دی. د بیان، ناطقې او خطابت قوه علیحده ده. عقل، سنجش او قرار ورکول ځان ته صلاحیت دی. حافظه بېل شي دی.ادراکه قوه بېله ده. نو په دغه شان سره که موږ د انسان د پېژندګلوۍ مقام ته راشو، نو راته معلومېږي چې دلته د خوردي او من نه هم ډېر تفاوت وجود لري. موږ وینو چې د یوې مدرسې په یو صنف کې سل نفره طالبان درس وايي، استاد، کتاب، د هستوګنې په ځای او نورو تعلیمي معیارونو کې هېڅ فرق نه وي، خو بیاهم څوک ناکام شي، څوک کامیاب او څوک اعلی درجه. ښه نو که دا د استعدادونو او صلاحیتونو فرق نه وي نور نو څه دي؟

## د استعدادونو او صلاحیتونو تفاوت:

د استعدادنو او صلاحیتونو فرق کوم مغلق بحث نه دی مګر دلته ډېر داسې خلک شته دی چې هغوی دا نه مني چې استعدادونه او صلاحیتونه بېل بېل دي. نو موږ وایو چې په دنیا کې غرونه شته او په غرونو کې همالیه لوړ او لوی غر دی. د پامیر څوکه ډېره لوړه څوکه ده. د دنیا په سیندونو کې مثلاً والګا، ابا سیند او زېږ سیند لوی سیندونه دي. په ستورو کې د سبا ستوری ډېر غټ او ښکلی دی.

نو ولې نه شو منلای چې په انسانانو کې به هم لوی انسان موجود وي او موجودیدای به هم شي، هم په هره جامعه او هم په هر ملت او هم په ټول انسانیت کې، او دا لویوالی داسې هم کیدای شي چې یو فرد په یوه ټولنه کې یا ټول انسانیت کې په یو خاص کمال کې تر نورو ټولو جګ او عالي وي او یا دی د څو متعددو صلاحیتونو او کمالونو په لرلو د خپلې جامعې یا ټولې انساني نړۍ له افرادو څخه ممتاز او پورته وي نو هر کله چې عقلاً کوم مانع نه شته نو په خارج او عالم کون کې هم موږ وینو چې رحمان بابا مثلاً په ټوله لویه پښتونخوا کې لوی شاعر دی. د دې نوم د ګټلو له پاره به ډېرو خلکو ځانونه او دماغونه ستړي کړي وي. مګر بل څوک رحمان نه

شو او دا ځکه چې دا استعداد او قوه بل چا سره نه وه، په خوشحال خان کې توره، قلم، عزم او اراده یو ځای شوي وو، د ده په نفس کې دومره لویې وه چې د ټول قوم او ملت ننګ او ناموس یې د ځان ګڼلو. دغه څو ډوله صلاحیتونه چې په ده کې وو، بل چا ولې دا افتخار د ځان نه کړو؟ د خوشحال او میرویس خان غوندې خانان په پښتنو کې هغه وخت خورا ډېر وو، خو د خوشحال د تورې، قلم، ننګ، غیرت او د میرویس نیکه د تدبر، حوصلې، میړانې، همت او د خطابې د قوت افتخار د بل هیچا په نصیب نه شو. دا ځکه چې په دغه وخت کې دغه قوتونه په متکامل صورت په همدوی کې وو.

کېدای شي چې زمونږ د پورته منطقي دلایلو له پاره نه منونکې څه انې بهانې پیدا کړي مګر د دې له پاره هیڅ تردید نه شي پیدا کېدای چې سړی وواییې: ښه نو که استعدادونه او قوتونه متفاوت نه وي، نو یو سړی په یو وار اوریدو ولې یو لوی نظم یا مضمون یا حادثه په یاد کولی شي، مګر په مقابل کې بیا داسې خلک هم شته چې یوه معمولي خبره ورته شل کرته تکرار کړې نو هم عاقله او حافظه یې کار نه کوي. تاسو لیدلی نه دی چې یو سړی د کابل په من دبرش منه پیتی وړی، مګر په مقابل کې بیا هماغسې مشق او تمرین کوونکی له اوو او اتو منونو څخه اضافه تحمل نه لري. د نبوغ

منکران دې باید په انصاف سره ددې خبرې ځواب ووایي چې آیا هر سړی دا استعداد لري چې لوی شاعر، لوی فلسفي، لوی سیاستدان، لوی لیډر او لوی لارښوونکی دې شي؟

د هرې ورځې له حیاتي تجربو څخه موږ ته دا ثابتېږي چې هر څوک د هر شي لوړ استعداد نه لري، بلکې څوک د شاعرۍ، څوک د رسم، څوک د ریاضي، څوک د فلسفې او څوک د نورو علومو او فنونو له پاره فطرتاً خاص استعداد او مناسبت لري. څکه شاګردان په ځینو مضامینو کې دائماً ښه لمبرونه وړي او په ځینو نورو کې لږ. داسې شاګردان هم شته چې په ډېرو مضامینو کې ښه ښه لمبرونه وړي، نو د دوی استعداد د کوم مخصوص علم له پاره نه وي، بلکې د عام او حاوي صلاحیت لرونکی وي. په یوه بله خوا به فکر وکړو: دغسې کسان خورا ډېر دي چې ډیرې اوږدې او پلنې دکتورې لري، مګر هیڅ کار او ابتکار نه شي کولای، په مقابل کې په دنیا کې دغسې ډېر مثالونه شته چې بېسواده، یا د لږ سواد خاوندان په دنیا کې دومره لوی کارونه وکړي چې عالمونه ورته ګوتې په غاښ کاندي.

په مصر کې د جمال عبدالناصر په شان ډېر کرنیلان شته. په چین کې د ماووتسي تونګ غوندې ډېر خلک د ډاکټر (سن یاتسن) شاګردان وو. په روسیه کې د لینن په شان ډېر خلک موجود وو.

همدارنګه په پاکستان کې د اقبال او په هند کې د ټاګور او ګاندي غونډې خلک لږ نه وو. په جرمني کې د ګویټې، شیلر ، کارل مارکس او په ترکیه کې د مصطفی کمال او په امریکه کې د واشنګټن او لنکولن، او په انګلستان کې د چرچل غونډې نور سړي ګونډې نه وو څه؟ په هند چین کې ګونډې یوازې هوچیمن و؟ د دغو خلکو په سویه او قد و قامت په کوڅو او بازارونو کې لکونه او کروړونه خلک ګرځېدل نو ولې دغه برازندګي د دوی په نصیب شوه نه د نورو؟ دا ځکه چې د دوی د دغو کارونو او کمالاتو استعدادونه له نورو څخه زیات وو.

که څوک سترګې پټې نه کړي نو اعتراف به وکړي چې د دنیا ټول تعلیمونه، امتحانونه او مسابقې یې د پټ استعداد او قوت د انکشاف، بروز او معلومولو نه پرته بل هیڅ مطلب نه لري.

## د اجتماع عصر او نبوغ

نن د ډېرو خلکو له خولې دا اورېدل کېږي چې نن سبا د اجتماع عصر دی، اوس تعلیم عمومیت پیدا کړی دی، ټول کارونه په تخنیکي اساسونو برابر شوي دي. دوی وايي اوس د علم زمانه ده او نبوغ له منځه تللی دی. دوی دا هم وايي اوس داسې وسایل موجود دي چې هر سړی نابغه کېدای شي. دا خلک زموږ په هېواد کې هم شته او په دغسې کسانو کې نوي زلمیان او د عالي تعلیم مېندونکي هم لږ نه دي. دا خبره خو وار له واره عجیبه غونډې ښکاري او په غوږونو بیخي ناآشنا لګېږي، خو بې څه هم نه ده. هغه وخت چې علم او سواد نه و او ډېر محدود و نو ډېر لږ او په قرنونو او اعصارو کې به کله داسې پېښه شوه چې یو انسان به د څه حوادثو، یا د باطني او یا د ماحول د محرکاتو په لمسون د حیات رموزو او اسرارو ته متوجه شو، په دغه لاره کې به یې تفکر او مطالعه وکړه او قوتونه به یې په کار واچول. کاوش او پلټنه به یې وکړه. تجرد به یې غوره او ځان به یې وقف کړو. چلې به یې وایستې چې څو به زردشت، بودا، سقراط، کنفیوشس او بوعلي سینا شو. یا به د بدني زور او قوت خاوند و، زړه به یې قوي و او زړورتیا به یې لرله، نو راولاړ به شو، خلک به یې ځان سره

ملګري کړل او په فتوحاتو به یې لاس پورې کړ او شهنشاه به وګرځېد. د پخوانو فاتحانو او شهنشاهانو فهرست څه پټ شی نه دی او اوس هر چا له پاره د فکر، تجسس، لوست او د مطالعې دروازې پرته دي. د نبوغ بېرغ ته سر نه ټیټوونکي دغسې خبرې په زړه کې لوي لکه چې وویل شوې. دوی ګومان کوي چې اوس مکتبونه، فاکولتې، اکاډمی، جرائد، رسالې، دارالمطالعې او کتابخانې موجودې دي، سینما، راډیو، تلویزیون او نور ډېر وسایل شته چې سړی کولی شي د خپلې پوهې او دانش سویه لوړه کاندي او کولی شي چې د اجتهاد او اختراع مقام ته ورسېږي.

ددې ټولو خبرو منشاء په یو بل ځای کې ده. یوه خبره خو دا ده چې رښتیا د تعلیم او تخنیک عصر کې په سرعت سره په لږه زمانه کې ډېر ادباء، علماء، فلاسفه، حکماء، مخترعین، مؤجدین، مبتکرین او مجتهدین منځ ته راغلل او دنیا یې له یوه حالته بل ته را ورسوله. بله خبره داده چې اوس علم، مکتب، لوستنه، زده کړه، اداره، نظام هر څه سیستماتیکي دي: د علم، فن او کمال څخه هرڅوک برخه اخیستی شي. د هرې شعبې او هر صنف کار تقسیم شوی او وېشل شوی دی. کار هم په داسې برخو او یونټونو وېشل شوی دی چې له عادي نه عادي سړی یې هم له عهدې وتلی شي. مثلاً د اداري تخنیک به را واخلو: دلته اجرائیه، اوراق، محاسبه،

کنټرول او داسې نورې څانګې موجودې دي. په اوراقو کې مثلاً يو نفر د واردې او صادرې په څانګه کې ولاړ دی د هغه په لاس کې چاپي جدول دی، راغلي مکتوبونه او ليکونه او همدغه شان ليږل کېدونکې ليکونه په خپل ترتيب سره په جدول کې رسوي. لمبر ور باندې وهي او د رسيدات په ذريعه يې بلې دائرې ته سپاري. دلته نو فکر او ابتکار ته څه ضرورت دی؟ همدغسې محاسبه، کنټرول او اجرائيه هم واخله. د ادارې د لوی او عام آمر وظيفه داده چې د ټولو شعبو مراقبت او نګراني وکاندي. کومه شعبه چې سسته وي، تيزه يې کړي. کومه چې کږه وي سمه يې کړي. هر هغه امر چې مراحل يې طی کړي وي اجرا يې کړي او چې ناقص او نيمګړي وي، يا په کې سازش موجود وي رد يې کړي. که آمر نور هيڅ هم نه پوهېږي، نو دومره خو کولی شي چې وليکي: (اصولاً دې اجراء شي) يا وليکي چې(مجلس دې ورباندې غور وکړي.) رښتيا چې دغلته عالي او عادي انسان ظاهراً برابر دي. يوه خبره دا هم ده چې وسايلو، آلاتو او ذرايعو هم مرد او نامرد، پوه او ناپوه تقريباً د عوامو په نظرونو کې مشتبه کړي دي. مثلاً پخوا به توره او مېړانه، برد و بای د انسان په شجاعت، پوهه، عقل، بدني او باطني قوتونو پورې مربوط وو. اوس د يوې تمانچې او يو ټوپک ماشه هرڅوک کش کولای شي. د ګاندي غوندې شخصيت هم په يوه ماشه

کش کولو له منځه ایستل کیدای شي چې اوه ورځې وربانديې د ټولې دنيا بيرغونه نسکور وي او د دنيا ټول قومونه وربانديې ژاړي. د يو بم د غورځولو يا انفلاق تکمه هرڅوک کښېښنډولی شي. يا مثلاً هر عادي انسان، بنودل شوی، ساز شوی او هدايت شوی نطق په هر محفل او مجلس، حتی په يونو کې ايراد کولی شي. هر سيستم چې څا ته په لاس ورشي که عادي عقل هم لري نور خو کارولی شي. اوس په دنيا کې د هر کار له پاره مشاوران، متخصصان او فني کسان موجود دي، په دې خبره کې ډېر او فوق العاده صلاحيت ته ضرورت نه پاته کېږي چې سړی د خپل مرام سړی ځان سره ودروي او د هغو له علم او تخصص څخه استفاده وکړي. نن د دنيا لوی لوی کارونه د کار د تقسيم او د اجتماعي تخنيک له برکته په خورا ساده ګی اجراء کېدای شي. فرض کړو چې ته يو لوی واکدار يې او کومه لويه پروژه دې په مخ کې ده فابريکه دروې، بند جوړوې، سرک باسې، وياله کنې، ښار جوړوې او داسې نور؛ د دغو ټولو کارو له پاره علم او فن لاري تياري کړې دي او په شقونو يې وېشلي دي. هر شق او هره برخه ځان ته متخصص او فني لري او د هر فني په لاس کې مخصوص فني آلات او سامان دی چې خپله برخه کار په خورا بساطت سرته رسولی شي. مثلاً له همدغه پورته کارو څخه به د بند او ويالې کار واخلو؛ اول تر ټولو له هدايت

او مرام سره مطابق سروې په کار ده. د سروې معنی د یو کار د نقشې په متعلق عمومي او کلي نظریه قائمول او د کار د اجراء او سود و زیان او امکاناتو په باب علمي او فني مطالعه کول او هغه د عمومي خطوطو لاندې راوستل دي.

هر کله چې د کار په متعلق د یو فني هیئت له خوا عامه نظریه، مشکلات او منافع وسنجول شي او رایه قائمه شي نو بیا د یو بل هیئت کار دا دی چې د کار د پروژې د براورد او سروې په بنیادونو نقشه واچوي. وروسته دغه نقشه په برخو و ویشل شي. بیا یې ټیکه دارانو او عملې ته په لاس ورکړي او په هره برخه کې د ماشینونو او آلاتو په واسطه د کار د یو لوی متخصص ترنګرانۍ او مطالعې لاندې په اجراآتو پیل وشي. د دې ښکاره او ډېر حسي مثال داسې دی لکه یو سړی چې ځان ته کور جوړوي. دغه سړی لومړی باید ځمکه، ځای او موقعیت خوښ کړي. بیا د خپلو حوائجو او ذوق کلیات یو مهندس ته ووایي. مهندس خپله اجوره اخلي او یوه فني نقشه ورکوي. په دې نقشه کې مواد، مصارف، لګښت او د کار زمانه ټول معلومېدای شي، چې مواد او مساله تیاره شي، معمار د نقشې په اساس تعمیر سرته ورسوي. ورپسې نجار خپل کار سنبال کړي. د برق متخصص په کې وائرینګ وکړي. رنګمال ورته رنګ ورکړي او کور جوړ

شي. ټول لوی کارونه په دغسې سیستمونو روان دي او نبوغ ته ضرورت نه حس کېږي. دغه سړی چې نقشه جوړوي فقط په نقشه پوهېږي او دغه چې ختې کوي د ختو متخصص وي. همدغسې نجار او رنګمال هم. ډېر غټ کارونه او مهمې نقشې هم سړی په دغه شان قیاسولای شي.

نو اوس د دنیا له دغسې جریان څخه ځینې خلک په دې اشتباه کې چې نبوغ ته ضرورت نه شته او هر سړی نابغه کېدای شي د لوېدو امکان نه لري؟

د علم، فن او تخصص له ساحې څخه چې سړی راووځي او یواځې د عقل، پوهې، عمل او ادارې ډګر ته راشي، نو هم پوهېدای شي چې له پخوا څخه په نن دنیا کې کار ډېر اسانه دی. په ډېرو لویو کارو کې که د انسان خپل عقل او صلاحیت کار نه کاوه، نو دا خو کولی شي چې یو بل لوی قوت او قدرت ته سرتیټه کړي چې هغه یې مشکلات په خپله عهده واخلي، حال دا چې لوی خلک لا دا نه کولای شي او نه یې منلای.

په هر صورت دا خبرې خو شته له دې څخه څوک انکار نه شي کولای چې د نن اجتماعي سیستم او د ټولنې اجتماعي عقل په ظاهر او عامو حالاتو کې د فرد د کمزوریو تکافو کړې ده، تردې چې په غټو وراتو خبرو کې د ملت او قوم د اکثریت رایه قاطع دلیل او چوره پریکړه ده او دا خو

هر څوک کولی شي چې وراني خبرې په دغه محک وازمايي او يا د ضعف په حال کې له دغه قوت څخه استمداد وکړي. دا يوه سپينه لاره هم ده. خو د دې ټولو خبرو ترشا يو بل علت هم دی چې هغه د ځينو خلکو اذهان د نبوغ په باب لا مغشوي کړي دي او په دغه سپينه خبره کې يې ځيني لوستو ځوانانو ته شکونه ور اچولي دي. دغه مهم علت او سبب دا دی چې له ميلادي پنځلسم قرن څخه رادې پلو چې په اروپا د رسانس دوره راغله؛ هلته ادبياتو، علومو او اختراعاتو ترقي وکړه. مغرب په ايشيا او افريقا کې د مستعمرو د پيدا کولو په فکر کې ولويد او په نوره دنيا يې سلطه حاصله کړه؛ نو د ښې استفادې او زيات استثمار له پاره يې دغلته خپل علم، عقل او تخنيک په کار واچول. دوی قصداً او عمداً په مستعمره شويو ملکونو کې نه سرې، سرې کول. عبيد او غلامانه ذهنيتونه يې تقويه کول، خپل اغراض او مقاصد او مادي مطالب يې ترلاسه کول. دوی غوښتل چې دغه مفت مريونه تر ابده د دوی د باداری لاندې پاتې شي. نو په اقوامو او ملتونو يې هغه لوبه له سره را وتيوه چې قران کريم د فرعون په باب ښودلې وه:((يقتلون أبناءهم و يستحيون نساءهم)) نو مستعمره چيانو هم د قومونو او ملتونو نران، مېړونه او رجال وژل او زنانه، عبيد، انحطاط پسند او ټيټ مزاجه خلکو ته به يې موقع په لاس ورکوله. دوی به مراقب وو او له لومړنيو

ښوونځیو څخه به یې د لوی استعداد خاوندان او احرار طبیعتونه مضمحل کول، شنډول او عقیم کول به یې.

دا خو رښتیا ده چې په حاضر عصر کې که د یو ډېر لوی صلاحیت او فطرت خاوند د علم له مبادیو څخه عاري پاته شي، نو د یو عادي انسان مقابله څه په دغه وسله مجهز وي کله کولی شي؟ ضمناً استعماري ادب او فلسفې چې په شرق کې پوره ریښې ځغلولې دي، داخبره هم د خلکو په مغزو کې ځای کړه چې نبوغ څه معنی لري؟ نبوغ خو د شهادتنامې او سارټېفېکټ نوم دی. دوی دا پروپاګند وکړ چې دا د علم عصر دی او چې څوک لویه شهادتنامه او د خارجي ژبو اسناد په لاس نه لري او عصري نه وي نو بل نبوغ لا څه شی دی؟—

حال دا چې د شهادتنامو، سارټېفېکټونو او عصریت کلي ګانې د دوي په لاس کې وې. دغه دروازې یې فقط خپلو دوستانو ته بېرته کولې. عصري هم د هغه چا نوم و چې خپل ملیت ، کلتور او خپله لاره به یې پرېښوده. د بل په لاړو به لوند او د بل په رنګ به رنګین شو. نن سبا داسې ډېرې خبرې او موضوعات شته چې ظاهراً ښکلي دي او علمي رنګ لري، خو په حقیقت کې د استعمار د فلسفې پیداوار وي. استعمار په ایشیا او افریقا کې ډېر داسې تخمونه شیندلي دي. نو د پورته تفصیل د وجوهاتو په بنا د شرق ځینې

خلکو ته د نبوغ په باب شکونه او شبهې لوېدلې دي. خو سره له دې ټولو خبرو نبوغ لمر دی چې په ګوتو نه پټېږي. که سړی لږ د انسان او عالم انفس او افاقو ته متوجه شي لوی انسانان په هر حال، هر کار او هره زمانه کې څرګند دي. هغه نبوغ چې په دې عصر کې یې ځان ښکاره کړی دی او څوک ترې انکار نه شي کولای، د دې خبرې دلیل دی چې دلته نور هم داسې نوابغ موجود وو چې اغراضو او د انسان دني خواهشاتو تباه کړي او له منځه یې وړي دي. د همدغه علم، تخصص، فن او اجتماع په عصر کې هم سړی لیدلی شي چې ځینې کسان له ځینې نورو څخه د علم، پوهې، ذکاوت او صلاحیت په لحاظ زیات دي. نو دا ګوندې د نبوغ د وجود دلیل نه دی؟ پوه، ښه او صلاحیتدار کسان یو کار له خپلو امثالو څخه په خاص امتیاز او ښه صورت اجراء کولای شي.

سربېره پر دغو خبرو د انسانانو د استعدادنو په تفاوت باندې خو موږ مخکې بحث کړی دی، نو که څوک د استعدادونو تفاوت مني، نو بیا د نبوغ منل ډېر مشکلات نه لري. د تعلیم او د اجتماع په عصر کې د نبوغ مسئلې چوره پرېکړه په دې کېدای شي چې موږ فکر وکړو چې دنیا او ژوندون روان او متحرک پیدا شوی دی او که ساکن او ولاړ؟ که زنده ګي او کائنات متحرک وي او حرکت او ژوندون دوه کلمې وي چې په یو

شي يې اطلاق کېږي، نو دغه سيستمونه تخنيک، ترتيب او نظام چې ليدل کېږي دغه هم دائمي او پايدار شيان نه دي. دا يوه خبره، بله خبره دا ده چې دغه موجوده نظام او تخنيک چا دې ځای ته را رسولی دی، که په دې نظام کې د نوابغو ډېره برخه وي او دنيا هم جامده او ولاړه نه وي، نو په آينده ژوندون کې هم چې تر څو دنيا ودانه وي انسان له نبوغه نه شي مستغني کيدای. په دې باب کې وروستنۍ خبره دا ده چې دغه د نبوغ له مسئلې سره تماس کوونکي انسان او په دې باب استفسار کوونکی وپېژنو چې د کومې قبيلې سړی دی. دی د عالي او لوړو افکارو او آروزګانو سره سر وکار لري او که يواځې د ځان په سودا کې دی؟ که د لومړۍ ډلې فرد وي او د ده په تصوراتو، خيالاتو، افکارو او اهدافو کې قوم، ملت، وطن او انسانيت ځای نيولی وي نو دی د قوم، ملت او وطن په باب په دې خبره کله راضي کيدای شي چې دده جامعه دې په سلو کې سل د نورو انسانانو په ابستلو لارو روانه وي، او په خپله دې په هېڅ څېز کې اجتهادي او ابتکاري نظريه وړاندې نه کړي او په کومه نوې لاره دې پل کنښېږدي. نو هرکله چې يو انسان دغسې فکر وکړي او په دې فکر باندې باور ولري او خپل هدف يې وګرځوي، نو دغلته دا سړی په نبوغ او نبوغ ته په احتياج قايلېږي.

د مغرب مفادپرستو خلکو د مشرق پر ملتونو دغسې دائرې راچاپېره کړې دي لکه پاړوګر يې چې په منګرو او مارانو راچاپېروي، نو د دغو علمي، فني، تخنيکي، او اقتصادي چالونو او جالونو څخه وتل د هغو خلکو کار دی چې حقيقتاً لوی وي او خدای لوی پيدا کړي وي، که نه نو اکثره خلک خو لا د وتلو ضرورت هم نه احساس کوي او ځينې لا ورپورې خاندې هم.

دغه کسان چې د تعليم او اجتماع په عصر کې نبوغ ته قايل نه دي او ضرورت هم ورته نه احساس کوي، دا هغه خلک دي چې دوی زنده ګي ډېر سرسري، اسانه، عادي او تقليدي شی ګڼلی دی. دوی يواځې له ځانه څخه نه، بلکې د انسان او د قدرت له فيضانه څخه هم مأيوس او نااميده شوي دي. دوی زنده ګي يو غونلواری ګڼي چې په پټو سترګو يې بايد سرې وتولوي.

هټلر په خپل کتاب (مائن کامف) کې ليکلي دي چې ( د کشف او اختراع ماغزه يوازې آرين قومونو ته ورکړی شوي دي. د جاپان ټول مدنيت تقليدي دی. که فرض وکړو چې د اروپا د کشف او اختراع سلسله تر څه مودې پورې وځنډول شي نو لړه موده پس به د جاپان مدنيت نه وی پاتې. دی وايي د دې مثال داسې دی لکه د يوې چينې اوبه چې له سره څخه وتړل

شي، نو په آخرینو برخو کې خو ترڅه وخته اوبه رواني وي، خو چې له پاسه نورې نه راځي آخر وچې شي).

له دې خبرې نه دومره نتيجه اخستل ضروري دي چې په سلو کې سل تقليد په علم، فن، تخنيک، مدنيت او تهذيب کې يو قوم اعلی معيار ته نه شي رسولای، بلکې ډېره ممکنه ده چې که په يو ملت کې دغسې تقليدي نظريات عموميت پيدا کړي، په دوی کې به د نبوغ تومنه شنډه شي او دغه ملت به خپله خودي ونه شي ساتلای او په تدريجي مرګ به مړ شي. هو د خوړ هر کاڼی سنګ پارس نه دی او نه د صحرا د هرې تيږې په منځ کې لعل موجود وي. په شپو کې کله کله ليلة القدر راشي خو چې څوک يې قدر ونه کړي نو عبث تېره شي.

## یوه لویه اشتباه

د اشتباه یو لوی سیلاب چې نن بې زمونږ د وطن ځوانان په سر اخستی دي، هغه دا دی چې دوی وایې نن د ساینس عصر دی. ساینس یو اصولي او مرتب علم دی. هر څوک دغه علم حاصلولی شي او چې د دغه علم مراتب او مراحل طی کاندي او ډاکټر شي هغه عالم دی. پرته له ساینسه نور علوم مثبت نه دي. په دغه نورو پوهنو اشتغال او په دغو کې انهماک لزوم نه لري. دوی وایي فلسفه،په تیاره کې ګوتې وهل دي. اوس فلسفې افلاس وکړ. علوم ورڅخه یو یو جلا او د ساینس په احاطه کې داخل شول اوس فلسفې ته هیڅ پاتې نه دي. دغسې خلک ساینس هم اعلی معیار ته رسیدلي بولي. دوی د ساینس هره کلمه اسماني بولي او په کې شک او خبرې کول کفر ګني. یواځې همدومره هم نه ده، هر سړی چې د مغرب له پوهانو څخه د مستشرق، مؤرخ، فیلالوجست او داسې نورو عناوینو له پګړیو څخه یوه پرسر کړي، نو دوی بیا د ده هره خبره د ایمان راوړلو او باور کولو ټکی ګني او هیڅ چا ته په دې حق نه قایلېږي چې څه په کې ووایي. دا کانه خو د مشرق په ټولو ملتونو شوې ده، دا د غرب ساحري او طلسم دی.

ربنتیا ښو داده چې مغرب په علمي صورت ډېر څه کړي هم دي، او داسې نظر فریب او عقل غولوونکي مظاهر لري چې مشکله ده چې د دې لیندې له غشي څخه څوک بچ شي. خو نه، د هر چا هر څه، او د هر عصر راوړی څیز، او د هر مدنیت هر مظهر په سلو کې سل د هر چا له پاره د باور او عمل کولو وړ نه وي. هر انسان د دوه سترګو، دوه غوږونو یوې کوپړۍ او یوې اندازې ماغزو خاوند دی. که په لهوياتو او چتي څیزونو عمر تېر نه کړي او د حقیقت د لټون پسې د خپل استعداد سره سم ځان ستړی کړي د هغه جهد او جهاد عبث نه ځي. دی د زنده ګۍ د لایتناهي مرموزو او اسرارو څخه د خپل استعداد په اندازه څه پیدا کولی شي چې د ځان، وطن، قوم او انسانیت د فایدې او ګټې له پاره یې په کار واچوي. قران حکیم دا نکته دغسې بیان کړې ده:(والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا).

د مغرب له دې څو سیلاب نه د مشرق ځینې ملتونه غاړې ته وتلي دي او ځینې لا هماغسې غوپې خوري او لاس و پښې اچوي. دلته لویه او غټه خبره داده چې د مغرب ټول کلتور او مدنیت د مجادلې او استفادې په اساسونو بناء دی. یعني د خیر او نیکۍ له روحیې او سپرټ نه خالي دی. د دوی په هر کار کې یو چال وي او له هرې کاسې لاندې یې یوه نیم کاسه کړې وي.

مدعا مې دا ده چې له مغربه چې مشرق ته هرڅوک په هر لباس کې راځي او یا د مشرق د حیات په هره خوا کې چې ګوتې وهي په سلو کې نهه نوي له سیاسته خالي نه وي. د استعمار، استثمار، استفادې او استعمال مفکورې د مغرب ماغزه د انسانیت د اعلی معیارونو او لوړو قدرونو له معراجه تحت الثری او سجین ته راغورځولي دي. ددوی په شاتو کې زهر دي او لعلونه یې رګونه لري، مرغلرې یې کچه او آئینې یې حقیقت ښودونکې نه دي.

زما مدعا دا نه ده چې موږ باید په کوم ګوټ کې پوستین واغوندو، څملو او نه دا وایم چې د کوم غره څوکې او څنډې د ژوند له پاره غوره کړو او په دنیا کې له دنیا کناره او بې خبره پاتې شو، بلکې دا وایم چې موږ باید خپلې سترګې وغړوو ځان او جهان ته وګورو. نه چور بدبینه او نه سوچ خوشبینه شو. موږ سره باید یو معیار وي اوپه دغه معیار باندې ښه او بد، مفید او مضر وتلو. دا معیار زموږ مخصوص ملیت، زموږ ځانته توکنه، زموږ علیحده کولتور او زموږ اجتماعي مفاد او قومي خیر دی. زموږ له دې اهدافو سره چې د هر چا خبره، فلسفه، نظریه او چال چلند ټکر خوري او تضاد لري، که څه هم هغه افلاطون او ډیکارټ وي باید په لغته یې ووهو. علامه اقبال څومره ښه ویلي دي: (ګفتنا که جهان ما آیا بتو میسازد؟* ګفتم

که نمی سازد، گفتند که برهم زن). دا دنیا د عمل او فعالیت ډګر دی. په دې دنیا کې هر څوک ښه او بد د ځان له پاره کوي. یعنې د هر چا ښه او بد په خپله فاعل ته راجع کېږي. نو د خیر په ملاحظه هم باید لومړی ځان او مشرق په نظر کې ونیسواو بیا انسانیت.

د مغرب اخرین مسلک «پرګماتیزم» چې د شلم قرن دین یې بولي او وایي چې ((موږ باید هر څېز ته د هغه د فایدې او ګټې په اندازه چې له دغه څیز څه موږ ته رارسیږي، وګورو.)) که دا خبره سمه وي، نو موږ ولې د هر مغربي انسان هره خبره په دغه محک نه سنجوو؟ او ولې دومره ساده اوسو، چې د مغرب هر سړي ته د خالص علمي شخصیت او د دوی هرې لیکنې ته د یو خالص علمي حقیقت په عینکو ګورو. سره ه دې چې زه په دې ځای کې پر دې حقیقت باندې له اعتراف څخه ځان نه شم ژغورلای چې مغرب هم د هماغه یو خدای دنیا ده او په همدغه چالاکه مغرب کې داسې ډېر کسان پیدا کیدای شي چې د هغو په حق کې د مشرق پوهانو ویلي دي: «قلب او مؤمن دماغش کافر است.» یا دا چې: ((انکه حق درباطل او مضمر است.)) زما بحث په ساینس او ساینتیفک قضایاوو کې و. زه د ساینس له کارنامو او د ساینس له ښېګڼو څخه انکار نه کوم او نه یې کولی شم. ساینس د انسان د عملي ژوند له پاره محیرالعقول کارونه کړي دي او

اوس ساينس هم په همٰاغه حقايقو باندې اقرار ته ور نږدې شوی دی چې پرون يې د هغو انکار ته ملا تړلې وه. زه دا منم چې ساينس علم دی. او دا به هم ومنم چې مقدمات يې يقيني دي. مګر دا کله د منلو خبره ده چې بس نو انسان له فکر او تدبر نه مستغني او خلاص شو. او دا کله د منلو وړ ده چې بې له ساينسه نورو علومو او پوهنو ته هډو اړتيا نه شته او دا کله سمه ده چې «فلسفې افلاس وکړ! هر څه چې دی ساينس دی او په ساينس هم بس تاپه او مهر لګېدلی دی.» چې په دې صورت کې دغه مدعيان راولاړ شي او ووايي چې اوس د نبوغ او د نبوغ د ظهور له پاره زمينه نه ده پاتې شوې او هرڅوک کولی شي چې سيستماتيکي تعليم وکړي، خپل توان په کار واچوي او نابغه شي. ځکه دوی وايي نبوغ کوم ځانته استعداد او ځانته قوت او قدرت نه دی.

## فلسفه او ساينس

دلته بايد ددې څېړنو او مطالعه كورنكى په دقت او بې طرفى سره لاندې نظريات چې لويو پوهانو ته راجع دي ولولي او په خپله يوه فيصله وكړي:

څه رنګه چې د پيستمولوجي[۱] پوهان وايي د علمي تحقيقاتو موضوع خپله طبيعت دى، علمي تحقيقات له هغو كتنو او تجربو څخه عبارت دي چې د طبيعت پر تحولاتو باندې وشي او دا تحولات د قوانينو په توګه تعبير او په مختلفو علمي جدولونو وويشل شي. بشر غواړي چې پرله پسې د نوو شيانو په اختراع خپله پوهه لازياته او ددې علمي معرفت د صحت درجه پورته كړي. دغه كتنې او تجربې د طبيعت جزئيات مونږ ته په روښانه ډول ښيي او ورځ په ورځ د حوادثو ترمنځ ابهام لروي. څكه چې كه څه هم (دا علمي قوانين عين حقايق نه دي) او د انسان فكري ساختمان په كې دخل لري. اما بيا هم د حقيقت يو نسبي دقيق تصوير ګڼل كېږي. په كلي ډول سره د علمي نظرياتو مطلب دا نه دى چې پر جزئي مجهولاتو باندې ودرېږي، بلكې غير له دې چې جزئي مجهولات په نظر كې ونيسي، غواړي

[۱]- پيستمولوجي: د فلسفې هغه څانګه ده چې د پوهې ماهيت او ارزښت څېړي.

چې تر کلي عناوینو لاندې د طبیعت اهمیت روښانه کړي او دا نظریات باید له تجربي نتایجو سره تضاد ونه لري. که څه هم د فلسفې تاریخ د متضادو فلسفي نظریاتو مجموعه ده او یو واحد تعریف موندل یې اسانه کار نه دی، خو دلته یو بل حقیقت ته هم ملتفت کېدل په کار دي چې په ساینس کې هم پخه او کلکه هماهنګي نه شته.

«مانکس بلانک د کوانتم د تیوري کاشف» وایي: په ننني عصر کې داسې یوه علمي تیوري چې څوک ورسره مخالفت ونه کړي ډېره نادره ده. دقیقو قواعدو خپل پخوانی حتمیت او قیمت له لاسه ورکړی دی. ننني فزیک پوهانو د نوو علمي قواعدو د کشفولو له پاره تر ډېره حده پورې د فیلسوفانو شکل غوره کړی دی.

د ب ، م د لسمې پېړۍ په سر کې نامتو انګلیس فیلسوف «بیکن» د فلسفې د تعریف او مقصد خوا ته د اشارې په باب کې وویل: «موږ د خپلې پوهې په اندازه د عمل قدرت لرو، یعني علم یې پر طبیعت باندې د قدرت په حیث وګڼلو او هدف یې د طبیعت تسخیر. د بیکن د وینا خلاصه دا ده چې «علم قدرت دی.»

مارکس وایي:«دا چې د یو آفاقي واقعیت تصویر زموږ په مغزو کې انعکاس کوي د تیوري خبره نه ده، بلکې کاملاً عملي جنبه لري» جان دیوي

وایي: «پوهنه باید د عمل له پاره یوه آله شي.» دا د علم او ساینس په باب نظریات وو. راغلو فلسفي ته: ساینس غیر له فلسفې نه یوه شتمنه مجموعه ده چې وحدت نه لري. یا په بل عبارت: یو جسم دی چې روح نه لري. اما فلسفه غیر له ساینسه دغسې یو وحدت دی چې اجزا ئې معلوم نه دي او داسې یو روح دی چې جسم نه لري. څکه چې د ساینس هر شق د طبیعت جلا جلا برخو سره په ازاد ډول تعلق لري. د عمل د ساحې ویشل په ساینس کې یوه میتودولوژیکه اړتیا ده. نو بناء پر دې کار دی چې د ساینس بیلې بیلې او ځانته ځانته ځانګې په یوه واحده (ایډیا) سره یو کړي. فلسفه زیار باسي چې د پوهې حقیقت او د پیژندنې وړ شیانو قیمت تعین کړي. نو پر دغه لحاظ د فلسفې ډګر بې له دې نه چې د ساینس مینځه وي هم ډېر وسعت مومي. ټول طبیعي علوم چې په خپلو تحقیقاتو کې ډول ډول نتیجې لاس ته راوړي. مګر د ساینس کومه داسې ځانګه نه شته چې خپله د حقیقت پر مفهوم وغږیږي، دا کارد فلسفې دی. ساینس وایي کوم شیان حقایق دي، لیکن فلسفه وایي حقیقت څه شی دی. ساینس کوښښ کوي چې پر طبیعي قوانینو پوه شي، مګر فلسفه څېړنه کوي چې څه رنګه یو متفکر شخص د قواعدو کشفولو ته رسېږي.

نن د هر وخت نه زیات د ساینس اخرني سوالونه فلسفې ته ځان اړ بولي. البرټ انشټاین لیکي: د ساینس پوهه عجیب شی دی. خو د لارښوونې قدرت یې ډېر لږ دی. دی وايي:«فلسفه برسېره پردې چې د ساینسي مفاهیمو تدقیق کوي. دا هم کولی شي چې د انساني ژوند مختلفې خواوې لکه مستظرفه صنایع، ادبیات، اقتصادیات، اخلاقیات، قانون، مذهب، ټولنه، تصوف، ژبه او تاریخ وڅېړي.»

تر دې ما د یو علمي بحث څه برخه راواخسته له دې څخه معلومېږي چې ساینس انسان له فکر او تدبر څخه نه دی مستغنی کړی. ساینس انسان ته ذارئع او وسایل په لاس ورکوي، مګر ذرائع په یواځېتوب سره سعادت نه شي تأمینولای. د تفکر خاوندان پوهېږي چې نن سبا انسان تجسس او کومې سمې لارې پیدا کولو له پاره چې امن، ډاډ او ارامش ته ورغلي وي، له پخوا نه ډېر اړ او محتاج دي. که څوک د یو ملت له پاره په بې آلایشی سره د نجات لاره لټوي، دا هم د انسان له پاره خدمت دی. علاوتاً فن او ادب ساینس نه دی، خو حیات او ژوند ته زیاته ګټه رسوي. وګوری دنیا هنرمندانو ته څومره اړتیا حس کوي. څومره تقدیر یې کوي.

فن او ادب د زنده ګی تصویر دی. شاعر او ادیب جمال او کمال لټوي او دا په خپله یو حقیقت دی او د حقیقت تصویر، مګر ښکلی ظریف

او قشنګ. اوس پرې پوه شوئ چې نبوغ ته ترڅو پورې چې دنیا ودانه وي او انساني حیات وجود ولري اړتیا شته او خورا ډېرې ارتې زمینې ورته په مخ کې پرانستې پرتې دي چې دی په کې ظهور، بروز او پیشرفت وکړي. بله دا چې د نبوغ له پاره ډګر د انسان زنده ګي ده. د نابغه له خورا بارزو او ښو نخښو څخه تېز ذکاوت، لوی عقل، توده مینه، ډاینامیک او فعال طبیعت، ځان هېروونکی او د خلکو د آلامو او مصائبو له پاره لار لټوونکی مزاج او د فطرت د اسرارو او حقایقو د انکشاف عشق دی. نو په دې حساب چې هر چېرته او په هر وخت کې او له هرې خوا انسان په عذاب وي خدای پاک څوک پیدا کوي چې هغه څه داسې لارې را وباسي چې د خلکو مشکلات اسان شي او کرغېړن حالات په نوو خوشګوارو اوضاعو بدل شي.

په موجوده دنیا کې عبدالغفار خان، ګاندي، نهرو، ابوالکلام، اقبال، ټاګور، ماووتسې تونګ، چوئن لای، خروشچف، سردار محمد داود، برنارډ شو، جمال ناصر، ډاکټر سوکارنو، هوچیمن، شکری القوتلی او داسې نورو کوښښ کاوه او وی یې چې محروم ملتونه د آزادۍ نعمت حاصل کاندي ناکام قومونه کامیاب شي او بدبخت انسانان د ښې ورځې مخ وګوري. له استعمار سره مجادله، او د محرومو انسانانو د صلاح او بهبود له پاره د

زورورانو سره پنجه ورکول د لویو خلکو کار دی. که دغسې جرأت او کارنامو ته چې چا کړی دی او څوک یې په لاره کې روان بشکاري نبوغ او د نبوغ آثار و نه وایو، نو څه نوم ورته اخستی شو؟ حال دا چې دا کارونه، نه فن حسابېږي او نه ساینس چې څینو خلکو ورپورې نبوغ منحصر او تړلی بللی دی. البته یوه فلسفه خو ده، مګر هغه فلسفه هم نه ده چې د ساینس په اطرافو او محصولاتو کې وي. اقبال، ټاګور، ګاندي، نهرو، جمال عبدالناصر، ډاکټر سوکارنو، د یوې نوې حیاتي لارې کشف کړی دی. د چا نظریات ډېر لوړ او عالي دي او د چا په یوه اندازه مهم دي، نو معلومه شوه چې نبوغ یواځې په فن، ساینس او اختراعاتو پورې اړه نه لري، بلکې د نبوغ د ظهور او تکامل له پاره ډېر فلسفي میدانونه او ډګرونه شته او وي به. بنه نو فلسفې څنګه افلاس وکړ؟ او د نبوغ دروازه څنګه علماً او عملاً وتړل شوه؟

## ایا چنگیز خان نابغه و؟

چنگیزخان هغه شخص و چې د تیان شان له غرونو څخه ور هغه پلو د ګوبي صحرا د خانه بدوش قبایلو څخه را ولاړ شو. چین، ترکستان، افغانستان، ایران، عراق او د اباسیند نه هغه غاړه ځمکې یې د اسونو تر پښو وایستلې. وداني ښارونه، کتابخانې، مدرسې، مساجد او د وسطي ایشیا د تهذیب او مدنیت ټول تهداونه یې ونړول او په کوروړونو کوروړونو بې ګناه سرونه یې له تنو پرې کړل. اطفال یې په زانګوګانو کې، ښځې په کورونو کې او عابدان او عالمان یې په چله خانو او حجرو کې له تیغه وایستل. د ده د سیلاب مخه هیڅچا ونه شوه نیولای. ده له هغو ټولو سفاکیو سره چې ورته منسوبې دي، په خپلو مفتوحه ممالکو کې زبردست نظام جاری کړی و. وایې چې چنګیز خان فوق العاده عسکري قابلیت درلود. د ډاک د چلولو کوم انتظام چې چنګیزخان جاري کړی و د اوو سوو کالو پورې په ایشیا کې معمول و. نو که فوق العاده ګي او د لویو کارونو کول نبوغ وي، نو چنګیزخان هم باید نابغه وبلل شي؟ هو، دلته مراد یواځې چنګیزخان هم نه دی، بلکې هر کله چې نبوغ، ابتکار او د لویو کارونو د کولو صلاحیت دی ، نو په دغسې کسانو کې څه وایاست چې په خپل فریب، تزویر، دروغو او

تکي کې استادان وي، د هرې تنبې په چاودو ورننوتی شي، د شپون او قصاب دواړو سره اشنايي لري. خوري دا مېږه، او ژاړي بل مېږه. د غل او کاروانې دواړو ملګری وي. د هر جائز او ناجائز سره موافقه کوي. (بامسلمان الله الله با برهمن رام رام) هېڅکله يې شا په ځمکه نه لګيږي، بلکې د پيشو په شان چې له هره ځايه راخطا شي، جوختې پښې ولګوي او منډې کړي. ښه، موږ منو چې په دنيا کې دغسې کسان ډېر شته. دا کسان لوی لوی کارونه هم کولی شي، مګر هر کله چې په نبوغ کې د عقل او انسانيت کمال شرط دی او کوم لوی کارونه چې نابغه يې کوي بايد حقيقتاً لوی وي. نو په دغه لحاظ هغه کارونه چې سفاکان او چالاکان يې د ځان يا د بوالهوسی يا د شهرت د تندې د سړولو له پاره کوي او په هغو کې کوم عام خير، يا عامه انساني مينه او ښيګڼه په نظر نه راځي او تاويل يې نه شي کېدای، نو که دنيا په بل مخ واړوي، دغو کسانو ته لوی، عاقل او عظيم الشان انسانان نه ويل کيږي. نبوغ د انسانيت د کمال درجه ده کوم کارونه چې د حرص، جاه طلبی، کينې، عياشی، حسد او نورو رذائلو لکه جهل او ناپوهی د تأثير لاندې کيږي دا د عقل او انسانيت نقص او د سمې لارې څخه انحراف ته راجع دی، نه کمال ته. مګر دلته يوه باريکي شته هغه دا چې که څوک نيټې او ماکياولي دواړو ته د نوابغو په صف کې ځای ورکړي، سره له دې چې

نیټشې د (زور) د فلسفې باني دی او ماکیاولي د اقتدار ساتلو او قائمولو له پاره هره ګناه جائزه ګڼي، ولې په دواړو کې چې کوم فرق دی، هغه صرف همدومره دی چې نیټشې زور حق بولي او کمزوري ته د ژوند پر حق قائل نه دی. وایې کمزوری که تباه شي، تباه دې شي د دې له پاره چې نوعه ترقي وکړي او په آخره کې مثل الاعلی پیدا شي. ګویا دی د ډېرو بې شمارو انسانانواو نسلونو په مرګ، تباهۍ او بدبختۍ قایل دی چې څو پس له ملیونونو کالو څخه انسانیت هغه جسماني او دماغي ارتقا ته ورسېږي چې د ده په خیال او تصور کې ده.

اما ماکیاولي وایي چې قدرت حق دی. ددې د ساتلو له پاره هر څه قربانول په کار دي. اخلاق وي، که علم، که روحانیت او مذهب. مګر ده دا هم نه دي ویلې چې آخر له اقتداره مقصد څه دی؟ لکه سقراط، افلاطون، او ارسطو چې وایې (د سیاست هدف د عدالت قیام دی) دی اقتدار د اقتدار له پاره بولي. نو که دوی په دغو نظریو باندې عالمان او علمي نوابغ ګڼل کېږي نو چنګیزخان خو هم یوه سلسله خلک وژلي دي چې کمزوري وو او مقصد یې د خپل اقتدار قایمول وو، نو ولې یې نابغه ونه بولو؟ د دې سوال، جواب باید داسې وکړی شي چې د دغو درېواړو اشخاصو افکار او اعمال د انسان د سمو افکارو د معیار نه منحرف شوي وو، دغه وجهه ده چې د نړۍ

لوی خلک او لوی مترقي دماغونه او د عقلاوو اکثریت دغو او دغسې نورو خلقو ته په احترام او درونډ نظر نه ګوري. نو دغسې خلک چې هر څه وکړي او هر څومره لوی مقامات اشغال کړي، هغه د دوی د عقل د خبط او د دوی د انساني سویې انحطاط ته راجع وي نه ارتقاء او اعتلاء ته. د انګلستان لوی فاضل او عالم بیکن چې د اقتدار حریص و او د مقام د اشغالولو له پاره په هېڅ ناوړه کار اړ نه و، نو تر اوسه په ده باندې اهل علم بد وایي. د ده وزارت ته رسیدل لوی کار نه بولي، بلکې ټیټ کار یې بولي چې له دغه لوی عالم او فیلسوف څخه صادر شوی دی. د بیکن نبوغ د هغه د قوانینو په را ایستلو او مرتبولو منل شوی دی چې ده د تطبیقي منطق له پاره پیدا کړي او وضع کړي دي، نه د وزارت د چوکۍ په حاصلولو.

## د جنون او نبوغ فرق

مجنون او ليونی يواځې هغه ته نه وايي چې خپل کالي څيرې کوي او خلک په لوټو او ګټو ولي. بلکې جنون د دماغ خرابي ده. د عقل عدم توازن دی. د سنجش او دوربيني فقدان دی. د انساني اخلاقو له مستوي نه چې هر څوک په هره خوا کې ولوېږي، د هغه عقل سليم نه ګنل کيږي. نو ځکه جنون په ډېرو قسمونو ويشل شوی دی. د مال او دولت لېونی، د عيش او استلذاذ لېونی، د اقتدار او جاه طلبی لېونی، د غرور او خودخواهی لېونی، د اغراضو لېونی او داسې نور. البته د عشق او مينې لېونی، د علم د فضيلت او حق ليونی هم خلک وايي، خو رښتيا دا ده چې دا جنون ذوفنون دی او کاشکې چې په هر ملت کې د اعلی مينې او عالي محبت لېونيان ډېر پيدا شي. نو هر کله چې انسان د ډېرو متضادو غرايزو او خواهشونو په منځ کې راګير دی وسط پيدا کول يې خورا مشکل دی. نو په هره خوا چې ډېر ميلان وکړي د هماغه شي لېونی بلل کيږي.

البته د علم، فضیلت، عدالت، د نوعې، قوم او انسانیت د محبت په خوا که زیات میلان هم وشي افراط نه بلل کېږي. [۲] . بلکې حسن او خدمت یې بولي. نو هغه ټول فعالیتونه او بریالیتوبونه چې د انساني سطحې د سمې سویې له معیار نه د ټیټ کوم خواهش په اثر کې حاصل شي نبوغ نه شي ثابتولای. ډاروین ویلي دي: «انسان چې په خپل ارتقائي سیر کې د رحم او عاطفې کوم میعار ته رسېدلی دی د ده مقام یې خورا جګ بیولی دی او په دغه څېز دی د انسانیت د لقب د ګټلو مستحق ګرځېدلی دی». نو هغه ټول لوی کارونه چې یې د خدمت او نوع پروری او د انسانیت له اعتلا او ارتقاء نه به غیر د بل کوم هدف او مرام له پاره اجراء شي، هغه د نبوغ نخښې نه دي. یعنې ټول تخریبي او شخصي کارونه چې سم عقل یې تثبیت ونه کړي، هغه د نبوغ له دائرې وتلي دي. البته نابغه هم له عامې سویې او مفکورې څخه وتلي کارونه او فکرونه کوي، څکه نو خلک ورته حیرانیږي او کله ورته په غصه کیږي هم. دغه شی دی چې د نابغه او لېوني په منځ کې عادي خلکو ته اشتباه پیښیږي او همدغه خبره ده چې په ډېرو لویو کسانو باندې ځینو خلکو د لېونو ګومانونه کړي دي. مګر په لږ دقت سره

---

[۲] ارسطو وایې په فضائلو کې وسط د افراط په خوا کې دی. نیکوماکوسي (خ).

نابغه او عبقري له دغه تهمته خلاصيږي. ځکه چې د ده کارونه اعتلائي او ارتقائي وي او د ده په فکر او کردار کې هماهنګي او انتظام وي. دی هېڅکله خودغرض او دنی الطبع او د خلکو بدخواه نه وي. په مقابل کې د عقل له جادې منحرف شوي کسان په اغراضو او خودخواهۍ کې غرق وي. دوی په دني خواهشاتو پسې پرې شکوي. دوی وايي يو څه او کوي بل څه. د مجانينو په اعمالو کې انتظام نه ليدل کيږي. عمق او دوربينې په کې نه وي. مينه او محبت نه لري. که لري يې فقط د ځان او د خپلو رذيلو ارزوګانو سره يې لري. په دوی کې د وګړو او جامعې توده مينه نه حس کيږي. که څه هم د عقلي نقص او عدم تدبر له کبله کله داسې اقدامات کوي چې هغه د هر چا د کولو نه وي او سړی ګومان کوي چې دا ليوني سړی دی. خو په هر صورت په نبوغ کې د عقل او انسانيت تکامل ليدل کيږي. هو! دا خبرې مونږ د عام او لوی اجتماعي نابغه په حق کې کوو. ممکنه ده چې فني نابغه غير له خپل فن څخه په نورو خواو کې ډېر نقصانونه ولري.

## د نبوغ اقسام

د نبوغ اقسام په تقسیم او ویش کې ممکن دي چې له ډېرو خواو څخه فکرونه وشي، او ډېر اقسام ورته پیدا کړی شي. مګر اوس چې زما په فکر کې څه ګرځي، هغه د نبوغ هغه ویش دی چې د عمومیت او خصوصیت په لحاظ دي. یعنې نبوغ به کله په یو شخص کې د انسان د حیات یو خاص پهلو او خاص پلو ته راجع وي او نابغه به په دغه مخصوصه لاره چاره د استعداد او صلاحیت خاوند وي او یا به کله د نابغه صلاحیت او استعداد داسې وي چې دی به د انسان د حیات او زنده ګۍ عامو او ټولو ډډو ته متوجه وي او په دې ټولو کې به د صائبې رأیې، صلاحیت او استعداد خاوند وي. یعنې دی به د یو ملت یا یوې جامعې یا یو عصر او زمانې ټول کمزوري او د انتقاد وړ پلوونه پېژني او چاره به یې هم د همدغه دماغ او شخص په واسطه کېدل امکان لري. اول ته باید علمي او فني او دوهم ته اجتماعي او اصلاحي نابغه ووایو. د فني نوابغو مثالونه بېخي ډېر دي. که سرې لږ سترګې وغړوي، نو ډېر داسې خلک په نظر ورتلای شي چې په یو خاص فن او کار کې خاص استعداد او خاص موزونیت ولري. د دغه شخص فطرتاً له دغه فن او چار سره شوق او تناسب هم وي او په ډېرې اسانۍ سره یې تقریباً

بې له استاده، یا د استاد په لړه مرسته د کمال په لوړه پیمانه زده کولای او رسولای شي. زما فکر ته دا راځي چې زموږ د استازي دا حدیث همدغې معنی ته اشارت دی:«کل میسر لما خلق له: هر چاته هغه کار اسانېدونکی دی چې ورته پیدا شوی دی». د بلخ مولانا جلال الدین هم ویلي دي چې «هر کسی را بهر کاری ساختند». د دې زرینو اقوالو دا معنی ده چې هر څوک د هر شي له پاره نه دی.

د هرې خاورې او تېږې نه بنیښه جوړېدای نه شي. د خوړ هر کاڼی من نه دی. د اوبو هر څاڅکی مرغلره کېدای نه شي او نه د هرې تېږې او ډبرې په سینه کې لعل، یاقوت او زمرد دي. دا د خدای د علم خبره ده چې څومره اسباب او علل کار کوي او څومره ذرات فعل او انفعال کوي چې څو د یو انسان د شخصیت خټه واغږل شي او دا خټه مستعده شي چې باید کوم کوم رنګ دې قبول کړي او کوم کوم دې نه کړي. د ارسطو دا خبره تردید نه لري چې « هر انسان د علم او د کتابت د صنعت قابل دی» مګر علم، څنګه علم؟ او کتابت هم څنګه کتابت؟ د مطلق علم او مطلق کتابت خبره د هر غیر معذور انسان په حق کې سمه ده، مګر که د علم نه دغسې علم مراد وي لکه د انشتاین علم، یا د بوعلي ابن سینا غوندې علم، نو دا

د هر چا کار نه دی. همدارنګه سواد او خط مط خو د هر انسان مقدوره خبره ده مګر که لوی ادیب، فنان، مفکر، فلسفي او شاعر کېدل مراد وي.

یعنې دا چې سړی خوشحال خان، امیر کروړ، بهزاد، سنائي، جعفر و فضل برمکي، تولستوی، ګوېټې، جرجي زیدان او داسې نور شي نو دا معلومه ده چېدا د تقدیر لیک د هر سړي په وچولي نه دی لیکل شوی. هوا دا خو کېدای شي چې سړی په ډېرو عمرونو، ډېرو زحمتونو یو فن او کمال یو ځای ته ورسوي. مګر دا د هر چا له پاره قطعاً ناممکنه ده چې همدغسې بې زحمته، بې سعې، بې استاده، په خپله او د طبیعت او د مزاج په سوق د توکل، مېرا، نورالدین، ملا نعمت الله، سید کمال، غریبي او ملنګ جان غوندې شاعر شي. همدغه شان ډېرو خلکو پوزه توره کړې ده او د آهنګرۍ دکان ته ناست دی. خو د چېرهار شیرزاده او د کابل د آهنګرۍ خلیفه (سکندر) خو د هر چا نه جوړېدای نه شي.

په دهقانۍ باغوانۍ معمارۍ، او نجارۍ کې هم د خلکو حال همدغسې دی. هر چا چې بېل په اوږه کړو دهقان او چې ګل ماله يې په ملا کې کېښوده معمار او چې تخخ يې په لاس کې ونیوه ترکاڼ بلل کېږي. مګر دا چې په دغه کار کې د ذوق او صلاحیت او استعداد او شوق خاوند وي او خدای د دغه کار له پاره پیدا کړی وي، هغه په نورو کې داسې ځلېږي

لکه د سهار ستورى د نورو ستورو په منځ کې. خو خدايي کار دی چې د سرو پېژندل هم د سرو کار دی احمقان او نادانان د میړونو او سړو اندازه کله لګولی شي؟

رحمان بابا وايي:«د رسوا وي په رسوا باندې غرض» د خدای لويه کارخانه ده او د طلسم غونډې یې روانه کړې ده په دغه جريان کې پوه او ناپوه ټول روان دي رغړي. خدای خپل کارونه کوي.

مولانا جامي وايي:

چو دانا همچو نادان گشته غرق است

ز دانـــش تا بنادانی چــه فرق است

را به شو د نبوغ دغه بل قسم ته چې هغه ته مورِ عام، حاوي، اجتماعي او اصلاحي نبوغ ويلی دی. دا د نبوغ مهم اوقيمتي قسم دی. دا نبوغ خورا پر اسراره نبوغ دی او ودې شي چې د دغه قسم نبوغ رموز او ګوټونه لا اوس هم نه وي کشف شوي او روښانه شوي. په خلکو او علمي او ادبي اطلاقاتو کې هم نابغه همدغه قسم شخص ته وايي. دا قسم اشخاص قدرتاً په دنيا کې ډير نه پيدا کيږي. په ملتونو کې کله کله او په اعصارو او زمانو کې په شمار څو کسه راشي او لاړ شي. په دې قطار کې د هر چا له پاره د دريدو ځای نه شته. بلکې لکه ريدیم چې ډېر لږ پيدا کېدای شي، دغسې

اجتماعي او اصلاحي نوابغ هم په ډېر قلت کله کله پیدا شي. دغه د احترام او پرستش وړ انسانان چې د انسانیت عنوان د همدوی له پاره موزون دی او حقیقي اطلاق یې هم په همدوی کېږي، دې خرې دنیا ته راشي او په ډېرو زحمتونو او تکالیفو د نورو عادي خلکو او همنوعانو له لاسه خپل مشکل او ډراماتیکي ژوند اخر ته ورسوي، لاړ شي. دغه لوی خلک د نورو خلکو غوندې د مور و پلار نه وزیږي. د طفولیت دوره تېروي، سړی کېږي. د نورو خلکو سره کښیني، پاڅي، عمر په کې تېروي، د خلکو د خبرو اترو، تبصرو او محبت او بغض مورد واقع کېږي،خو په حقیقت کې دغه کسان په دې ځمکه باندې د آسمان د عالم نخښې وي. ټول خلک ورته ګوري، د نورو وګړو غوندې په مخ سترګې، پوزه غوږ لري، کاروبار کوي او غورځي پرځي. مګر خدای پوهېږي چې دا سړي او اشخاص له دې عادي خلکو سره د باطني عالم او د ضمیر او وجدان، ارادې، عزم او ارزوګانو په لحاظ څومره فرق لري؟ خدای نه دي غوښتي چې دغه خلک دې په یو اواز وپېژندل شي او هر څوک دې ورپسې روان شي. نو ځکه د دغو مقدسو خلکو مقدس ژوند یې له دې چې تقدس لري، نور نو د ډېرو مشکلاتو او مصائبو سره لړلی وي. خو لویه خبره دا ده چې د دغو مشکلاتو او مصائبو تنیجه د خلکو او وګړو له پاره وي. په خپله دوی ته بې له کوم وجداني او

روحاني وجد او سرور څخه نوره برخه نه وي. دا څکه چې دوی ژوند په خپله معنی سره پېژندلی وي، د ژوند ظواهر، آني او عادي شیان، مزې، خوندونه او نور نور څیزونه دوی نه شي متسلي کولای. د دوی لویه خوشحالي او د روح سکون او آرامش په دې کې وي چې وګوري په ضعفاوو څو تېری نه کېږي؟ د ښځو، کونډو، یتیمانو، مریضانو، محتاجانو او لوېدلو سره مرسته مهرباني او محبت کېږي؟ دانش، علم، پوهه، فضیلت او اخلاق په خلکو کې کلک شوي دي؟ خلک یو تر بله په روزمره کاروبار کې د متقابله حقوقو او احترام په اساسونو معامله کوي؟ د چا د غولولو، تېر ایستلو، حق خوړلو، او راغورځلو اسباب او دسیسې ورکې یا کمې شوې دي؟ غرور، تکبر، خودخواهي او بېځایه انا نیتونه نه شته؟ انسان د انسان په شان په خپلو مشاغلو بوخت او مصروف او له خپله ژونده راضي، مطمئن او آرام دی؟ کله چې خلک په خوشحالی او خندا ګوري، کله چې کوچنیان په لوبو او مستی کې ویني، کله چې د مینې او سرور مأمونې او مفیدې ټولنې، د دوی په زړونو کې د خوند او کیف موجونه د غرونو غوندې راپورته کېږي. کله ورته په ډېره مزه او مسرت ودرېږي او کله له ډېرې عاطفې او مهرباني څخه وژاړي او اوښکي توبې کړي. دوی له خپل زړه، خپلو احساساتو خپل مزاج او خپل طبیعت څخه مجبور وي. کوم وخت چې کوم

طفل او کوچنی وهل کېږي او ژاړي، کوم وخت چې د مظلومیت په حال کې د ښځو لمدې سترګې ویني، کوم وخت چې د یتیم خیرې ګریوان او سپیره مخ ته ګوري. کوم وخت چې بیګناه په ظلم سره وهل کېږي او تکول کېږي، کوم وخت چې کوم ځوان او زلمی په غفلت سره ځان تباهي ته ورکوي،کوم وخت چې زوروران د قوت په نشه مغرور ویني، کوم وخت چې چال، فریب، دروغ او دورنګي خلک پامالوی، هغه وخت چې په حیواناتو ظلم کېږي، داسې او د دغسې واقعاتو او حوادثو په کتلو او اورېدلو د دوی په زړونو کې د اور لمبې غرغرې وهي، ناارامه کېږي او له ژړېدونکو سره سم ژاړي.

د دوی مشتعل طبیعت، پاک ضمیر، سپېڅلې روح، لویه اراده او کلک عزم دوی ته مشکل کارونه اسان ښکاره کوي. لوی لوی اقدامونه او په مهالکو کې ځان اچول د دوی د طبیعت طبیعي انسباق وي دوی ډېر کم ځان ته ملتفت کېږي، اکثره د خلکو او وګړو حال، اجتماعي نظام، د فطرت قوانینو او دکائناتو سیر او سلوک ته متوجه او په کې منهمک وي. که دغسې خلک مؤفق او کامیاب نه شي نو هېڅوک یې ونه پېژني او تېر شي او که د کامیابی لاره ورته پیرته شي او بریالي شي نو د لمر او سپوږمی غوندې ځلېږي او هر څوک یې ویني. داسې هم کېږي چې په منځ منځ کې

ولاړ شي څوک يې موافق او څوک يې مخالف وي. زوړ ستر، سپين تمن: زردشت د اوستا خاوند، د دنيا د منورينو استاد او محسن د توحيد لومړی علمبردار سقراط، د رحم او عاطفې پلار، د مينې او مهربانۍ بابا آدم مهاتما بدهه د وګړو د مساوات او جمهوريت باني جناب روسو د انسانيت او د اخلاقو مبلغ کنفيوشس، د دنيا د دغسې نوابغو په سر کې واقع دي. د هندمهاتماګاندي، د روس تولستوی، د پښتنو روښان او سيد جمال الدين افغاني، ټاګور، اقبال او د مغرب پير الماني ګوېټې د دغسې کسانو له جملې څخه دي.

## د نوابغو نخښې [۳]

عبقري او نابغه قوانینو ته متوجه وي مګر نه په کې شاملیږي. نابغه د یو داسې شان لورنکی دی چې د ده او د خلکو د اکثریت په منځ کې رابطه تحکیموي او په عین حال کې هغه په مجتمع کې مندمج وي. دی دا موقف د کوم مطلب لپاره لاس ته نه راوړي، بلکې دې موقف ته د مزاج په حکم او د تفکر د اسلوب او د مهیج اصلي طبیعت او د خپل مطلع او مشتعل عقل په واسطه متوجه کیږي او په هغو شیانو کې منهمک کیږي چې تل له نوو شیانو څخه بحث کوي. په واقع کې نوی فکر د عبقري د شخصیت موطن دی. دا نوی فکر دی پریشانه کوي او حیرانوي یې او ده ته د رنځ سبب کیږي. عبقري د بل له تقلید نه تنفر لري. له ده نه د مخکې او وړاندې کسانو په تقید کې څېړنه کوي. د هغوی د مقصد په پیداکولو کې د یوې لوېې حادثې د سر د پیدا کولو لپاره ځان ستړی کوي. په داسې شان چې خلک ورته حیرانیږي. عبقري ډېر کلونه د نوې حادثې په بحث کې تېروي او د هغه تأثرات تسکین نه مومي، مګر هغه وخت چې دغه نوې حادثې ته داخل داسې لاره پیدا کړي چې له ده مخکې بل چا نه وي پیدا کړې او په دغه حل یې

۳- دا مضمون له الهلاله اخیستل شوی دی.(خادم)

اطمینان حاصل شي. کوم نوی شی چې عبقري په کې ځان ستړی کوي،مذهبي، فلسفي، اجتماعي، سیاسي یا فني وي. کوم وخت چې عبقري له نوي شي څخه بحث کوي، ګویا د خپل طبیعت او شخصیت څخه غږیږي یعنې د هغه مجاهدات طبعاً د خلکو د خدمت په لاره کې وي. عبقري او نابغه دغه مجاهدت د خپل شخصیت د قواوو د مکمل کولو لپاره نه کوي، بلکې له خپل شخصیت، مزاج او طبیعت څخه مجبور وي چې دغسې مجاهده وکړي، نو د عادي شخصیت له سرحدونو څخه تیریږي. د ده انتاج شکلي، بدیع او مثمر وي او په هغه کې نوي او صحیح عناصر ډېر وي، نو ځکه انظار ورته متوجه کیږي. تولستوی به اوږده ساعتونه په خپلو تفکراتو کې تېرول چې ځو به په سرخوږي اخته شو. روسو به د اجتماعي معاهدې د کتاب د فصولو د لیکلو په وخت کې د اعصابو په ضعف داسې اخته شو چې مجبوریده به لس ساعته خوب وکړي. انشټاین به د نسبیت د مسئلې په فکر کې داسې ورکیده چې ځان به ورڅخه هېر شو. د فکر د اتمام نه وروسته به د ده د نبض حرکات ډېر سست شوي وو. ذهني قوتونه به یې ضعیف شوي وو. سر به یې ګرځېده او په ځمکه به راولوېد، نو ناعلاجه به شو حمام ته به ننوت، یخې اوبه به یې په ځان راپرېښودې او په ځینو مسترحو شیانو به یې ځان مشغولاوه.

د نيت د پاکوالي او د خيال د صفايي له کبله تر يوې اندازې د نوابغو او کوچنيانو ترمنځ شباهت موجود دی، خو دا خبره اغلباً د خلکو د تعجب سبب ګرځي. خلک د نابغه په دې کار حيرانيږي چې دی د خلکو د اعمالو تحسين نه کوي او ماديانو ته په څه قيمت نه قايليږي. په اکثرو وختونو کې ازادانه خندا کوي، داسې ښکاري لکه يو کوچنی چې له مکتبه راوتلی وي او يا کوم مرغه له پنجرې را ايله شوی وي. په واقعه کې نابغه درې نفسي خواص لري چې له دغو څخه د ده نفس روغ شوی وي:

اول: دا چې په يو داسې کار مشغوليږي چې د ده عبقريت تثبيت کاندي.

دوهم: دا چې د خپل روحي استراحت لپاره تر څو بې چې له لاسه کيږي له خلکو سره ګډيږي او مطالعه کوي.

دريم: دا چې خلک د خوشحالۍ او آسايش په وخت کې تر مراقبت لاندې نيسي. دا هغه کارونه دي چې خلکو ته ورباندې طفل ښکاري. کوم وخت چې ستړی شي د خلکو جمعيت ته ورځي. د خلکو د اخلاقو غرائب ګوري. خندا او هوس کوي آزادانه حرکات کوي. مګر په همدغه وخت کې د ده عقل په باطني عالم مشغول وي. ګويا دا د نابغه د نفس بله خاصه

ده چې له ده څخه یو کامل دراک انسان جوړوي. د ده په احوالو[۴] کې ژر ژر تبدلات لیدل کیږي او دا هم، دی د طفل په بڼه ښيي. عبقري له کوچنیوالي او کوچنیانو سره علاقه لري. تولستوی به د دهقانانو له کوچنیانو سره منډې وهلې او لوبې به یې ورسره کولې. ګاندي به هم له کوچنیانو سره په خبرو ډېر وختونه تېرول. روسو به له کوچنیانو سره کوچنی کېده او د هغوی په ژبه به ګړېده او له خپل وقاره به واته او په لوبو کې به ورسره ګډېده. له هربرټ سپنسر نه چا پوښتنه وکړه چې که فیلسوف نه وای، څه شی دې خوښاوه؟ ده وویل: ((د کوچني روح او د فیلسوف عقل مې خوښ دی)) عبقري زیار کاږي چې یوه لار پیدا کاندي چې د انسانیت خیر ته یې ورسوي. که څه هم دا لاره له درد او تکلیفه ډکه وي. هر نابغه انسانیت ته په مینه ګوري، مګر دغه مینه په عباقره وو کې بېل بېل صورتونه لري. ځینې نوابغ انسانیت ته د خپل خیال په صورت ګوري. انسانیت د ده په مخیله کې د تدبیر او فکر په شان تمثیل کیږي او څه رنګه چې انسانیت ورته ګران وي په هماغه شان یې تصور کوي. خو دا تصور هغسې نه وي لکه خپله انسانیت

---

[۴]- حال بېل شی دی او مسلک بېل.(خادم)

چې دی. دا رنګه خیالي عبقریان انسانیت له خطا څخه پاک ګڼي[۵] مګر دوی له خلکو څخه کراهت لري غربت ورڅخه غوره کوي او د هیڅا د ژوندانه د نړدې کېدو طاقت نه لري. سره له دې چې ټول انسانان د هماغه انسانیت اجزاء دي چې دی یې آزادي او نجات لټوي او غواړي. دلته یو بل نابغه دی چې انسانیت ورته د خپلې غوښې او وینې په څېر ګران دی. دا عبقري تل خپل ژوند په زحمتو ګاللو کې تېروي. دا عبقري تل خپه او خواشینی وي. فکر یې پرېشان وي او د مجادلې په وسیله هغه رفع کوي. دا عبقري د خلکو په منځ کې مندمج کیږي د خلکو دردونه په ده کې منعکس کیږي د ده له عقل څخه تغذیه مومي او غتیږي چې څو په خلکو کې مجادلوي قوه پیدا شي او دغلته چاره ومومي. له دغو عبقریانو څخه ګاندي، عبدالغفار خان، تولستوی او پاستور دي. ګاندي به د خلکو په مصائبو کې د برخې اخستو لپاره شل شل او یوویشت ورځې روژې نیولې او مرګ ته به رسېده. د عبدالغفارخان پښتې د خلکو لپاره ماتې شوې او آه یې نه کاوه. اوږده اوږده بندونه او تکالیف یې وزغمل او ستړی ستومانه شو، مګر پښېمانه نه شو، بلکې خوښ او راضي دی. تولستوی په خپلو یادداشتونو کې لیکلي

---

۵- فرد بېل شی دی او جماعت او نوعه بېل. (خادم)

دي، يو دهقان يې وليد چې په متروكو وهل كېده. له متروكو سره يې پوستكي ډډ شوی او اوښتی و. ده دردناكې سورې او چيغې وهلې. تولستوی چې دا منظره وكتله، خپلې كوټې ته لاړ، هلته يې سخت وژړل او نړدې و چې د دې ظلم او استبداد له كتلو څخه لېونی شي.

زمونږ د مهربان خدای استازی له اخلاقو څخه حكايت كوي چې له بعثت نه مخكې به د هغه ظلمونو په ليدلو كتلو چې پر مريانو او ښځو به كېدل زښت ډېر په تكليف كېده او اكثره به يې ژړل.

نابغه د هغو شيانو پر مخ ژوند كوي چې له طبيعت څخه څرګندېږي، نو ځكه دی غواړي چې د ده عمل او نقش په طبيعت كې جاوېدانه او پايدار پاته شي. خو جاوېد عمل له هغه تطوري عمل څخه عبارت دی چې د هغه په وسيله يې خاوند د مألوفو او مروجو عادتونو او تقليدونو څخه خارجيږي. د دې كار په قيمت څوک پوهېدی نه شي، مګر د همدغه كار واضع او عامل يعنې خپله عبقريت ورباندې پوهيږي. علاوه پر دې چې ټولنه د ده د كار تقدير نه كوي، بلكې يو نوعه تمرد ورته ښكاري او سرزنش وركوي. نابغه په عاداتو او تقليد كې نه شي راګير كېدای، بلكې د ده اعمال له دغو مروجه دساتيرو سره مخالفت هم لري، نو ځكه د خلكو په نزد د عقوبت مستحق ګڼل كيږي. ځكه خلک غواړي چې دی د خپل شخصيت له مقام

ځخه راوغورځوي او له خپل فکر ځخه یې ټیټ کړي او له اعلی مثل ځخه یې اسفل ته راښکته کړي تر څو چې له محیط سره موافقه وکړي. له وګړو سره یو رنګ شي او د قوت او د قدرت د خاوندانو غلبې ته تن کېږدي. خو اصیل عبقري خیانت نه شي کولای او په مال، منصب، مقام او جاه نه اخستل کیږي. سره له دې چې خلک ورپورې مسخرې او استهزاء کوي او تحقیروي یې، خو دی له خپلې عقیدې او عزم ځخه نه ګرځي او له خپل کاره لاس نه اخلي. خلک په دې خبره نه پوهیږي چې ځرنګه دا سړی عقیدتاً او خیالاً متأثر کیږي. هو! دا یوه تحقیق ناپذیره مبداء ده. د جمعیت ځینې افراد د ده په حال شفقت کوي خو عبقري د دوی شفقت ته اړتیا نه لري. خلک په یو خیال کې وي او دی په بل خیال کې.خلک یو قسم سعادت لري او دی بل قسم. نابغه تل د خپل فکر محتفظ او ساتونکی دی. محال دی چې عبقري ذلت ته تن ورکړي. اکثره عبقریان د دې لپاره مجادله نه کوي چې خپل نفس وپېژني یا د خپل نفس حقیقت ته ورسیږي، بلکې غواړي چې خپل زړه د مادې له سحره او د عیش له سیطرې او خوش ګذرانۍ نه خلاص کړي.

دلته یو بل نوی عذاب دی چې له بل هیڅ عذاب سره نه شي مقایسه کېدای او په عین حال کې د انسان لپاره یو محک دی. ځوک چې دنیې او

پست وي ، خيانت کوي او متمتع کيږي، نو اعمال يې ضعيف کيږي له قوي وسيلې او جاويد عمل څخه خلاصيږي او هغه څوک چې ثبات لري، مقاومت کوي او تنزل نه قبلوي او پر هغه شي چې مقدر دی پوهيږي. په هر عمل چې عبقري قيام وکړي د صدق، نزاهت، اخلاص او ايثار په اساس وي. عبقري يو شخص دی چې په حق او حقيقت عاشق وي او ځان يې هېر دی. عبقري د فکر د جوش له کبله ځان هېروي او د خپل زړه لمبې د خپلو خاطرو په وسيله سړوي. په هغه وخت کې چې ده ته الهام راځي پوهيږي. عبقري فکراً په عالم کې احاطه او د عالم په زړه کې واقع دی او د هغه اسرار کشف کوي او په هغه موجوده قوه کې داخل دی چې دی يې ابداع کړی وي. په دې ساعت کې عبقري درک کوي چې خدای پاک موجود دی او دا احساسوي چې د خدای قوت د ده له عقل سره کومک کوي او د افکارو، عواطفو او خيالاتو له حيثه ده ته فيض رسوي. دا قوتونه او ورکړه په خوب کې نه ګوري، بلکې همېشه هغه ته صادريږي. دا منفجره قوه له يوې مجهولې سرچشمې نه د دايمي سيلاب په شان ده ته وارديږي او د عبقري په نفس کې دوه متبائنې عاطفې ايجادوي چې يوه تواضع او بله لويي ده. د تواضع په وسيله پوهيږي چې دغه کاشف الهام په هر ساعت کې ده ته نه راځي، دلته يو مجهول او غامض مصدر دی چې د عبقريت په وسيله په ده

فضل کوي. عبقري دائماً د تأمل او تفکیر په بحر کې شنا کوي. خو له خپله ځانه نه کوم شي ته رسېدای شي او نه کوم شی کشفولی شي او د لويي له پلوه دی پوهيږي چې دغه غامض مصدر همدی متأثر کوي نه نور. دی حس کوي چې دغه نور له الهامي مصدر څخه پواځې ده ته راځي او خدای پاک بې همده ته صادروي. په دې هم پوهيږي چې دی نسبت نورو ته امتياز لري او ممتاز دی.

## د نبوغ د انکشاف موجبات او موانع

له پورته بحثونو څخه تر یوه حده دا خبره ثابته شوې ده چې نبوغ یو استعداد، یوه الهي موهبه او خاص قسم مزاج او مناسبت دی چې د دغو په واسطه انسان د ژوند په یوه خاصه لار کې یا د ژوند د ترلې او مسدودې لارې د پرانستو لپاره صلاحیت لري. یعنې هر سړی د هر څه کېدو صلاحیت نه لري. یا په بل عبارت، هر سړی نابغه کېدای نه شي. د ډېرو په زړونو کې دا خبره ګرځي چې هر سړی علم حاصل کړي، مطالعه وکړي او شهادتنامه په لاس کې ولري نو بس دی مجهز دی او کولای شي چې نبوغ ته ورسیږي. ځینې کسان بیا دې چرت وړي دي چې نوابغ فوق العاده انسانان دي دوی د ټولو موانعو او مشکلاتو په مقابل کې فایق کیږي او هېڅ مانع د دوی مخه نیوی نه شي. دا دواړه فکرونه غلط دي. نبوغ یو استعداد او صلاحیت دی که وپالل شو، مخه یې ونیوله، مساعد شرایط ورته میسر شول بروز او انکشاف کوي او کمال ته رسیږي. که مخه یې بنده کړی شوه مختنق شو او د ضیاع او تباهي اسباب ورته متوجه کړی شول، نو تباه کیږي. دا خبره ډېره مغلقه نه ده یو انسان مرګ، درد، مرض، فقر، تباهي او اضمحلال لري که نه؟ البته هېڅ انسان له دغو څخه خلاص نه دی. نو ښه

ده د ډېر لوی استعداد خاوند واخله چې په ملاریا، د ځیگر په خرابۍ، د اعصابو په ضعف او د دماغ په کمزورۍ او داسې نورو آفاتو اخته شي نو بیا څه کولی شي. زمری څومره یو قوي او شجاع حیوان دی، خو چې په پنجره کې واچولی شي د پیشو غوندې ښکاري او هېڅ ترې پوره نه وي. گاندي په دنیا کې څومره لوی انسان و او همدارنگه ډاکټر خانصاحب څومره لوی شخص و، خو د دوو گولیو او دوو کټاریو په مقابل کې ټینگ نه شول او د عدم تورتم ته یې مخه وکړه او دنیا یې پرېښوده. نوابغ خو لوی کسان دي، مگر د دې معنی دا نه ده چې انسانان نه دي او له انساني شرایطو څخه چور بیرون دي. البته د دوی روحي، دماغي او معنوي قوتونه له نورو خلکو سره زیات تفاوت لري. خو په هر صورت نبوغ د انکشاف شرایط هم لري او د امحاء موانع هم. د فرعون په قصه کې قرآن کریم فرمایلي دي:«یذبحون ابناءهم و یستحیون نساءهم: یعنې فرعون به د بني اسرائیلو زامن وژل او ښځې به یې پرېښودې»دا آیت په خپله بلیغه پیرایه کې د زامنو ذبح کول او د لوڼو پرېښودل او د ذکورت وژل او د انوثت او زنانه توب ساتل، دواړه معناوې افاده کوي. په اوله معنا کې صریح دی او ډېرو مفسرینو دغه معنی را اخستې ده او دوهمه معنا کنایي ده او ورباندې دلالت کوي. مدعا دا ده چې نبوغ یوه ربا ده. د ربا مخه په دې هم نیول

کبدای شي چې سړی ډیوه ماته کړي او په دې هم چې په داسې ځای کې یې بنده او ایساره کړي چې هیچا ته ښکاره نه شي یا وربانديې تیل بند کاندي چې تته او وریسې مړه شي. هو! دومره خبره شته چې نوابغ کله د داسې مشکلاتو او مصائبو برداشت او تحمل کوي او په داسې موانعو کې سر راباسي چې عادي خلک چور په دې فکر کې ولویږي، نوابغ هډو هیڅ مرګ او درد نه لري. خو د قرآن کریم دا آیت «قل انما أنا بشرمثلکم یوحی الی انما الهکم اله واحد: یعنيووایه دا چې زه تاسو غوندې یو انسان یم چې وحی را ته راځي، د دې خبرې چې ستاسو خدای یو دی.» مور ته دا ارشاد کوي چې پیغمبر هم لکه د نورو انسانانو غوندې انسان دی. خو د لوړو مفاهیمو او عالي حقایقو القاء و ده ته کیږي.

نبوغ د حیات له اسرارو څخه یو سُر دی. د ژوند په اسرارو باندې تر اوسه هیڅوک نه دي پوه شوي. زموږ علم هر څه چې دی تر اوسه د اشیاوو په خواصو او آثارو پورې محصور دی، نو ځکه موږ نه شو ویلی چې نبوغ څه شی دی. البته له خواصو څخه یې بحث کولی شو او د نبوغ آثار پیژنو.

افلاطون په خپل«جمهوریت»نومي کتاب کې یوه ډېره اوږده مکالمه د فلسفي مزاجونو د خواصو د ښودلو او بیانولو لپاره تخصیص کړې ده. ده ثابته کړې ده چې د ځینو کسانو حافظه ډېره قوي او ذکاء یې ډېره تېزه وي

او په دغه واسطه سره د علم، پوهنې او د اشياوو د حقايقو له سپړلو او برسېره کولو سره خاص شوق او توده مينه لري او په دغه شان افلاطون د علمي نبوغ آثار او علايم ښيي او دغه شان ثابتوي چې هر سړی د فلسفې اعلی معيار ته نه شي رسېدای. د علم النفس لوی عالم فرويډ او د ده ګڼ شمېر شاګردان وايي چې د نبوغ لپاره يو قسم نقص او جسماني عيب په کار دی چې د نابغه په څېر باندې د متروکې کار وکړي چې څو دی خپل استعدادونه په کار واچوي او د حيات په کومه يوه خوا کې په داسې شان سر وباسي چې د ده عيب پټ شي يا يې تلافي وشي. لارډبائرن يې ښودلی دی چې پوزه يې پيته وه او سخت بدرنګ و. د دنيا ډېر فاتحان او مستبدان يې ښودلي دي چې اکثره د مردانه قوت په نقص مبتلا وو. په دې جمله کې يې ناپولن هم راوستی دی. خو حقيقت دا دی چې دا شرط د نبوغ په ټولو مواردو کې نه تطبيقېږي. سړی داسې فکر کوي چې دا ډله علماء په خپله په کوم داسې قسم ټيټ تفکر کې بند وو چې غوښتل يې د دنيا ډېر لوی خلک خپلې سويې ته راټيټ کاندي. څرنګه چې سړی فکر کوي نو په دنيا کې ډېر داسې کسان پيدا کولی شي چې هغوی د خپلې باطني علو او د همت د لوړوالي او د روح د صفايي له کبله لوړ او عالي کارونه کول او کړي يې دي. دا خبره ډېرو مثالونو ته ضرورت نه لري.

د علم او تعلیم د دې عمومیت په دوره کې ځینې کسان په دې اشتباه کې لوېدلي دي چې نبوغ اوس څه معنی نه لري. اوس علم لوړې پیمانې ته رسېدلی دی او هرڅوک چې علم زده کړي، هغه سره لویه وسله په لاس کې وي او دی مؤفق کېدای شي چې هر څه وکړي،یعنې پخوا به چې نابغه یو څه کول اوس یې هر تعلیم یافته کولی شي. خو دا خبره ظاهراً خبط دی. د تعلیم د عمومیت په وخت کې نبوغ له منځه نه دی تللی، بلکې په خپل اهمیت او ضرورت سره هماغسې پاته دی. لکه پخوا چې هر څوک نابغه نه شو کېدای اوس هم د تعلیمیافته خلکو په ډله کې نوابغ له ورایه ځلیږي خو دا خبره بېله ده چې ځینې نور بیا داسې وي چې نبوغ خطرناک ګڼي او عادي کسانو ته په نوابغو قیمت ورکوي. نو په داسې حال کې په ادنی مغالطه سره سړی کولی شي چې د یو نابغه په مخ کې یو تعلیمیافته ودروي او ظاهراً د یو لعل یا الماس په ځای مصنوعي او ساز شوی جوهر کښېږدي. البته تعلیم یوه ذریعه ده چې نبوغ صیقل کوي او د انسانانو استعدادونه کمال ته رسوي، مګر اصل فطرت نه زیاتولی شي او نه کمولای. هو! غلط تعلیم د انسان په طبیعت کې انحرافات پیدا کولی شي او سم تعلیم سړی سموي. وګورئ د تعلیم په زمانه کې هم چرچل، اتلی، خروشچف، ایزنهاور، جمال ناصر،ماووتسي تونګ، عبدالغفارخان، سردارمحمد

داؤدخان د نورو وګړو په منځ کې له ورایه ښکاري. د اقبال او ټاګور په اندازه تعلیم ډېرو خلکو حاصل کړی و. د نهرو تعلیم هم همداسې ګوندې له هر چا نه زیات و. خو دوی خپل شخصي استعداد دغه ځای ته ورسول. البته تعلیم یو لوی نقص هم لري چې که په تقلیدي او تلقیني صورت وشو او د انسان روح او نفس یې تر تأثیر لاندې ونیول، نو کېدای شي چې نبوغ ووژني او انسان په داسې شاړو واړو سر کړي چې هېڅ له سره سپینې لارې ته راونووځي. نو ځکه د نبوغ د انکشاف له پاره د تعلیم نه زیات د تفکر، تعمق، تجربې او موازنې زمینه ډېره په کار ده. انسانیت په هر وخت او حالت کې د نوابغو په واسطه لوړ شوی او پورته تللی دی. د هرې جامعې سر په دنیا کې نوابغو لوړ کړی دی. ځکه دا هغه کسان دي چې خدای د خپل عالم د اسرارو کنجي دوی ته سپارلې ده او ابتکار او نوې لار ایستل د دوی برخه ده. لږه موده مخکې چې د مصنوعي سپوږمیو په الوځولو کې اتحاد شوروي له امریکې څخه سبقت وکړ، نو امریکه ډېره تحریک شوه او ډېرې ویناوې یې په دې باب وکړې چې امریکه تر اتحاد شوروي د ژوند په ټولو څواوو کې وړاندې ده، نو په فضایي ساینس کې به هم ورڅخه سبقت وکړي.

نکیتاخروسچف په یوه بیانیه کې جواب ورکړ او ویې ویل چې «د انساني نبوغ روزل او په کار اچولو لارې چارې موږه له امریکې نه زیاتې او په ښه شان پیدا کړې دي، نو ځکه امریکه هېڅکله په اتحاد شوروي باندې سبقت نه شي کولای او اتحاد شوروي به نور هم مخکې کیږي.»حقیقت دا دی چې د تفوق او اعتلاء یو ډېر لوی راز او سُر ته په دې جمله کې اشاره شوې ده، خو دا چې څوک د دغه حقیقت پیروي کولی شي او څوک یې نه شي کولای جلا بحث دی.

## نوابغ عصر پيدا کوي که عصر نوابغ؟

دا موضوع هم اکثره زمونږ د وخت د مفکرينو او ليکوالو په مخ کې د څېړنې ميدان تودوي. ځينې د دې خبرې پلو نيسي چې نوابغ دومره قدرت لري چې د عصرپه ټولو مشکلاتو غالبيږي او له پاسه کيږي او دوی مؤفق کيږي چې نوی عصر او نوې زمانه او نوی رجحان پيدا کړي. ځينې نور په دې خبره ولاړ دي چې نه، نبوغ دومره زيات قوت نه لري. يا خو دا چې نبوغ اصلاً هيڅ وجود نه لري، بلکې دا څه چې مونږ ته ښکاري دا د زمانې پېر او تقاضاګانې دي. زمانه د خپل هر حالت سره سم هغسې خلک پيدا کوي. دغه خلک په خپل وخت کې خپل رول لوبوي، خپل کار کوي او له منځه ځي. په بل وخت کې بيا له هماغه حالت سره سم نور خلک پيدا شي او هغوی بله لوبه شروع کړي او هغوی خپله لوبه کوي. خلاصه دا چې دنيا يوه سينما ده. په دې سينما کې رنګارنګ پردې او رنګارنګ لوبې دي. يوه لا خلاصه نه وي چې بله وريسې شروع شي. دغه دواړه خبرې سمې نه دي حقيقت څه بل شی دی. دغه پورته بيان شوې دواړه نظريې افراطي او تفريطي دي. حق د دواړو په منځ کې دی. رښتيا او سمه خبره دا ده چې دا

دنیا د فعل او انفعال، جوړولو او ورانولو، د څه کولو او څه قبلولو ډګر دی.

زنده ګي یو مسلسل حرکت دی. په دې حرکت کې څوک د برق او برېښنا په وزرونو الوځي او مخکې روان دي. څوک په سینه ښوییږي او تېرېږي، څوک منډې وهي. څوک په اسونو سپاره دي او څوک په عادي تګ یون کوي. څوک ناست او څوک ویده هم دي. ځینې خلک ځینو نورو ته لاره ښیي او په مخ کې روان دي. ځینې د نورو تقلید کوي او ځینې هېڅ هم نه کوي. په کار او فعالیت کې هم د انسانانو په منځ کې ډېر فرقونه دي. دا فرقونه په دماغي او بدني قواوو کې هم شته او په اخلاقي او سیاسي صلاحیتونو کې هم. نوابغ خو بېشکه چې د عصر او زمانې پیداوار دی. له زمانې نه ډېره زده کړه او اخذ کوي او د زمانې له تقاضا او هوا سره مطابق، فعل، کار او حرکت کوي. ځکه چې که په سلو کې سل له زمانې نه مخالفت وکړي، نو زمانه یې په بېرحمی سره محو کوي. مګر دا خبره هم باید هېره نه کړی شي چې نوابغ په زمانه کې هم ډېر تغییر راولي او د هوا اوجریان مخه له یوې خوا څخه بلې خوا ته اړوي. ښاغلي نهرو ته په مصر کې جریدونګارانو وویل چې «ته د دې عصر ډېر لوی سړی یې مونږ په تا ډېر اعتماد لرو، ته په دنیا کې د معجزې غوندې کار کولی شې!» نهرو

موسكي شو او ويې ويل«اوس د معجزې وخت تېر شوی دی . ده وويل د دې وخت معجزه دا ده چې ناممکن د ممکن حد ته ورسول شي.»په دغه لنډه جمله کې د نبوغ حد او اندازه ښودل شوې ده. ناممکن د ممکن اندازې ته رسول د هر چا کار نه دی. دا د يو نابغه کار دی چې لوېدلی او مضمحل شوی، ويده او غافل اولس او ملت راپاڅوي، د مبارزې ميدان ته يې ګډ کاندي له ډېرو مخالفتونو سره دغسې فداکاران هم پيدا کړي چې د ده هر امر ته لبيک وايي. خلک د ده په مخ کې په مال، سر، اولاد او ناموس هيڅ باندې هم اړ نه وي. يا دغسې يوه موضوع او کار چې هيڅ وجود نه لري منځ ته يې راولي او هست يې کاندي. دغه د نبوغ کرشمې دي. وخت پېژندل او پر وخت اقدام کول او په خپل اقدام باندې تر پايه درېدل دا خو هم د هر چا نه پوره کېدونکی کار نه دی. ډېر خلک خواهش لري چې ګاندي، نهرو، عبدالغفارخان او بهاشاني شي، مګر کله کېږي. نور به هر څه پرېږدو په خپل نفس باندې قدم ايښودل تر ټولو مشکل او سخت کار دی. دا به فرض کړو چې د ګاندي او عبدالغفارخان په وخت کې زمانه دې حد ته ر سېدلې وه چې دغسې يو کس دې په هند او پښتنو کې پيدا شي. مګر د خبرې بله ډډه دا ده چې د ګاندي او عبدالغفارخان غوندې صبر، همت او عزم ولې د بل نه په نصيب کېږي؟ د ګاندي په تقليد ډېرو

خلکو د روژو نیت وکړ، خو دوهمه ورځ به یې ډوډۍ وخوړه. د عبدالغفارخان غوندې ډیرو خلکو ځان بند ته ورکړ، خو چې لږه سختي پرې راغله ځانونه یې په ضمانت خلاص کړل او یا یې چې په بله کومه ډله کې سودمنه ولیدله، فوراً ورغلل او خپل شخصیتونه یې خرڅ او تباه کړل. خوشحال خان وایي: د مرد او نامرد په منځ کې فرق په یو قدم یا یو ګام سره دی. د جنګ او برد و بای په وخت کې مرد څو دقیقې صبر کولی شي او نامرد ژر بې حوصلې کیږي. میړه له ځانه شرمیږي او بې پته وایي: چې زه مړ شم نو جهان به څه کړم. په دغسې مواقعو کې فطرتونه معلومیدای شي. په عادي حالاتو کې ممکنه ده چې یو نامرد او ناکس له میړه او لوی انسان څخه ښې مدللې، نرمې او چربې ویناوې او خبرې وکولی شي او ممکنه ده چې په شخصي منافعو او ګټو کې یو نامرد له میړه او نابغه څخه زیات چالاک او هوښیار وي. په دغه شان د میړه او نابغه فرق له عادي خلکو څخه کېدای شي. ډیره ممکنه ده چې زمانه د یو نابغه په کمالاتو خاورې واړوي او دا هم ممکنه ده چې حوادث کونجکې د مرغلرو په تول تیرې کاندي. خو که سړی لږې سترګې وغړوي او په خپل بصیرت وګوري، په هر وخت او هر حالت او هره جامعه کې نوابغ داسې ځلیږي لکه د سهار ستوری په تروږمۍ شپه کې. دغه خلک چې نابغه په هر څه فایق

او کامیاب بولي یا ټولې کارنامې عصر او زماني ته راجع بولي او نبوغ ته په قیمت نه قایلیږي دا هغه خلک دي چې دوی د حیات او ژوندون له وظایفو او واجباتو غاړه غړول غواړي. په دې خبره کې چې وايي: نابغه خو په هر قسم حالاتو کې سرباسي او کامیابیږي، د دوی مدعا دا وي چې یعنې لزوم نه لري چې موږ د نوابغو له ایډیالونو سره مرسته او کومک وکړو. ځکه چې دوی په خپله لاره ایستلی شي او که لاره ونه باسي نو خو نابغه نه دی. نو په دې صورت کې د دوی په غاړه هیڅ وظیفه ونه لویده. دا بله خبره چې وايي زمانه له هر حالت سره سم په خپله سړي پیدا کوي او نبوغ هلهو شته نه دی. د دې هم دا معنی ده چې په انسانانو کې فرق نه شته نو ځله څوک د چا خبرو ته غاړه کښېږدي یا انقیاد وکړي او ځان په عذاب کړي. که دوی ته وویل شي چې پاڅېږئ تاسو کار وکړئ دوی فوراً ویلی شي چې وخت نه دی راغلی. دغه پورته خبرې چې که څه هم له حقایقو څخه مخالفې دي او سم منطق یې نه اثباتوي په عین حال کې له بې همتۍ څخه هم سرچشمه نیسي. د همت او مېړانې خبره دا ده چې زموږ ګران استازي کړې ده ده فرمایلي دي:«خلک په دوه قسمه دي: معلم او متعلم او په نورو کې خیر نه شته.»معنی یې دا ده چې یا استاد شه یا شاګرد. یعنې یا مخکې شه چې نور درپسې شي یا په خپله د یو مشر پسې اقتداء وکړه چې کوم ځای ته

ورسبړي او که نه هغه يې او نه دا، نو رشتيا چې په دغسې انسان کې هېڅ خير نه شته. خلاصه دا ده چې نوابغ په عصر او زمانه کې ښکاره کيږي. خو د زمانې او عصر د اصلاح او ښکلا له پاره خورا ډېر مهم کار هم کوي او دا به په يو قوم او ملت باندې لوی ظلم وي، که څوک د يو حقدار په حق نه قايليږي او يا په روښانه حقيقت خاورې اړوي.

څو قصې خو راته وکړه د نيوو د نهنګانو
نه چه وی[6] کشتۍ مې نه ده د درياب د شر و شور
زه مريد د هغه چا يم چې پښه نږدي له همته
بې له ډاګ او له دريابه او د غوره نه په بل لور

[6]- وی: د وايې مخفف دی.

## د نبوغ پېژندل او پالل

په تېرو بحثونو کې ځای په ځای دې خبرې ته اشاره شوې ده چې دا دنیا د ابتکاراتو مرهونه ده. څومره پیشرفتونه او پرمختګ چې شوی دی یا کیږي، هغه مبتکرانو او نورو لارو ایستونکو، مخترعینو او مؤجدینو کړی دی. یعنې مخه یې دغو کسانو صافه کړې ده او دغه کسان ټول هغه خلک وو چې نوابغ او عبقریان بلل کیږي، نه عادي خلک. د اروپا او امریکا موجوده نهضت، علم او حکمت، اختراعات او ایجادات د یونان د فلسفې او د روم د قانون او د رنسانس د دورې د ادبیاتو او آزادو افکارو په اثر راپیدا شول. لومړی په اروپا کې نهضتونه پیدا شول او بیا امریکا ته ولاړل او وروسته د دغو افکارو او اعمالو له عکس العمل څخه نوې روسیه او سوسیالیزم منځ ته راغی. نن دنیا د علم او حکمت، تخنیک او ایجاد لوړې سطحې ته رسېدلې ده. اوس د مشرق ځینې خلک په دې فکر کې لوېدلي دي هر کله چې پخوانو، اوسنی دنیا ته ډېر څه لیکلي، تجربه کړي او تیار کړي پرېښي دي، نو لازمه ده چې زده کړه او تعلیم وړاندې بوتلل شي او قدم په قدم د مغرب د کړو شیانو تقلید وشي. دوی فکر کوي چې دا د هر چا مقدوره ده چې موټر، طیاره،، توپ او تراکتور وچلوي. بناروړنه جوړ

کړي، ځمکې آبادې کړي، ویالې وباسي او د مغرب د علم او تکنیک په اساسونو وچلیږي. نو نبوغ او نور کارو پسې ګرځېدو ته څه ضرورت دی؟ مګر خبره دغسې نه ده. دغه ټول کارونه دي چې دوه سړي يې کوي. یو پوه او مستعد دی او ذاتي قابلیت او ذوق لري. بل محض علم کړی او شهادتنامه یې اخستې ده. د عمل په میدان کې د دواړو په منځ کې د ځمکې او آسمان فرق موجود وي. بې ذوقه او بې استعداده سړی د خپل علم نه کار نه شي اخستی او غلط يې استعمالوي. وخت او زمانه بېځایه تېروي، غلطه نقشه ږدي. کړی کار يې اساسي نه وي. سبا ته يې معائب ښکاره کیږي او بېرته د ړنګولو وي. ذوق، تدبیر او سنجش او د خپل علم له اساساتو سره شوق، د کارونو د اصولي کولو له پاره لومړنی شرط دی.

طبیبانو او ډاکترانو ته خو موږ ډېر اړ کیږو او ورته ځو را ځو، دغه ټول د علم خاوندان دي. خو داسې کسان به تاسو ډېر لیدلي وي چې له يو مرض نه شل نور جوړ کړي او اکثره د بې پامۍ په سبب روغ سړی د مرګ له دروازې ورتېر کاندي. مګر داسې کسان هم شته چې د سړي زړه ورته دعا کوي او په اصطلاح خدای يې په لاس کې برکت ایښی وي. دغه برکت د معالج ذوق، استعداد، فکر او سرېتوب وي چې موږ ورنه په نبوغ تعبیر کوو. مدعا دا ده چې د دغه علم او رڼا په عصر کې تر پخوا زیات نبوغ او

استعداد ته ضرورت شته، څکه چې اوس فکرونه، نظريې او اختلافات بيخي ډېر دي. د دې ټولو له منځه د زمان او مکان په مقتضی سمه نقشه او نظريه را ايستل او تطبيقول د عادي خلکو کار نه دی. دنيا د تش تقليد ځای نه دی تغييرات او تحولات د دنيا فطرت دی. کوم کار چې پرون شوی دی نن په هماغه اساس کول درست نه دي. بايد چې د هرې ورځې د هر ملک او مملکت او د هر قوم تقاضاګانې په نظر کې ونيولی شي کار وشي. زما د دغو خبرو معنی بوالهوسي نه ده پاخه اصول او قوانين زر نه بدليږي. لوی مرام کې زر تغيير يا تبديل کول غلطي او بوالهوسي ده او کار سر منزل ته نه پرېږدي چې ورسيږي. مطلب دا دی چې مشرق د مغرب په سانچه کې سل په سلو کې نه اچول کيږي او نه دا کار سم دی.

د دنيا قومونه او ملتونه يواځې د روزمره او روزانه کار په واسطه نه مخکې تللی شي او نه فلاح او نجات حاصلولی شي، بلکې لوی فکر او قومي او ملي مرام په کار دی چې څو د يو قوم او ملت بېړی ساحل ته وباسي. په دنيا کې تل او دائماً تفوق او امتياز د هغو مسلکونو او هغو لارو چارو په لاس کې دی چې قومونه او ملتونه په ژوند کې د خپل پرمختګ له پاره غوره کړی وی. د زردشت مسلک، د بودا فلسفې او اسلام چې په دنيا نفوذ پيدا کړ، په هغو کې ضرور څه مزايا وو. انګلستان، امريکا او اروپايي

دولتونوچې په دنيا قبضه وکړه هلته څه حياتي فلسفې او مسلکي فرقونه موجود وو چې په لويه دنيا يې ورته تفوق ورورباخښنه. نن چې ځينې نوي ملتونه يوې قوي او عالمې دنيا ته ماتې ورکوي دا کومه سرسري خبره نه ده. دلته ډېر عميق او ژور مسلکي بنيادونه شته چې د دنيا ټول پخواني علم او حکمت سره مقابله کوي او ورنه تقدم حاصلوي. دغه کارونه تصادفي او عادي نه دي. دغه بنيادونه په هر عصر او زمان کې نوابغو ايښي دي. د انسان لويو دماغونو په کې کار کړی دی او په ډېر فکر او تعمق يې بنيادونه ايښودل شوي او ټينګ شوي دي. د دنيا کار لا تمام شوی نه دی. هره ورځ نوي فکر، نوي اساس او نوي ترتيب ته اړتيا ليدل کيږي. هيڅ ناممکنه نه ده چې په دنيا کې څه داسې مسلکونه او لارې پيدا شي چې انسان ته د کمونيزم او کاپيتياليزم دواړو څخه مفيد او ګټور وي او کوم انتقادونه چې په دې دواړو لارو موجود دي له هغو څخه عاري وي. که دا کار عجالتاً عالمي نه شي کېداې ، نو په ملي صورت خو ډېره ممکنه ده چې يو ملت ځان ته داسې کومه لاره پيدا کړي چې د کمونيزم او کاپيتاليزم دواړو نه بېله او د دغه ملت په حق کې تر دواړو ګټوره وي. خو په هر صورت هيڅ ملت او قوم په بې لارې- هيڅ ځای ته نه دی رسېدلای. سپينه لاره پيدا کول او ورباندې يون د هر ملت له سختو اولنيو ضروورياتو څخه حسابيږي او په دې

کار کې د علم، پوهې، استعداد او نبوغ کارولو ته ډېره اړتيا موجوده ده. نو بايد نبوغ وپالل شي او په کار واچول شي. زموږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ويلي دي که چا په لسو کسو باندې يو داسې سړی مقرر کړ چې په دغو لسوکې د ده نه بهتر سړی موجود وي، نو ربښتيا چې د خدای او د رسول او د مسلمانانو له ټولنې سره يې خيانت وکړ. د دې معنی دا ده چې د لياقت او د کار له پاره صلاحيت دې په نظر کې ونيول شي. يعنې بهتر دماغونه او بهتر صلاحيتونه دې په کار واچول شي چې څو حق حقدار ته ورسيږي او امور وړاندې لاړ شي او جامعه ترقي وکړي، سعادت او نيکمرغی ته ورسيږي. ګويا په دغه حديث کې د نبوغ د په کار اچولو له پاره سخت تأکيد او تائيد شوی دی. مګر نبوغ هغه وخت په کار اچولی شو چې ويې پېژنو راځئ چې اوس په دغه مسئله غور وکړو.

د نبوغ د معلومولو او کشف له پاره که څه هم څه معين او ټاکلي حدود نه شته کله داسې وي چې د نبوغ علايم او آثار په طفوليت او کوچنيوالي کې ښکاره وي طفل ډېر ذکي، هوښيار او د قوي حافظې خاوند وي دروغ نه وايي او داسې نور. کله داسې وي چې په کوچنيوالي کې د نبوغ هيڅ علامه نه ليدل کيږي، بلکې اکثره داسې وي چې له مکتبه تښتي. درس نه وايي، خبره نه مني، په امتحانونو کې کله ناکام شي او کله عادي

امتحان ورکړي. مګر چې عمر یې پخیږي، د لویي او نبوغ آثار په کې ظهور کوي.وایي چې انشتاین په کوچنیتوب کې بیخي یو عادي هلک و هیڅ ډول فوق العاده ګي په کې نه لیدل کېده. ټاګور به له سبقه تښتېده او شوق یې ورسره نه درلود.ده له درس څخه د نفرت قصې په خپلو آثارو کې لیکلې دي. ګاندي هم په وړکتوب کې له عادي هلکانو څخه څه امتیاز نه درلود. مګر له ناپلیون څخه حکایت کوي چې په صباوت کې یې د خپل یو مشر د استفسار په وخت کې په خپله یوه ګناه مردانه اعتراف وکاوه او مشر ورنه ډېر خوشحاله شو.ناپلیون به په هلکتوب کې له خپلو همزولو څخه ډلې جوړولې او په خپله به د مشر او قوماندان په حیث د دوی په سر کې روان و. زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کوچنیتوب احوال هم عجیب وو. په ده کې ډېر متانت، عالي اخلاق، رشتیا او امانتداري په ښه شان څرګند وو. ځکه په خپل مهربان تره جناب ابوطالب ډېر ګران و او د خپل سیوري لاندې به یې ساته. د بایزید روښان له کوچنیتوبه حکایت کوي چې لیک او لوست یې ډېر ژر او په اسانۍ زده کړ. په لږه موده کې یې متداول علوم وویل. دی لا کوچنی و چې ډېرې پخې خبرې به یې کولې او په اعلی مبادیو کې به غږېده. دی زهد او د نفس تزکیې ته په خپله متوجه او په خپله یې د ځان د اطمنان له پاره لاره ومیندله. د روسو د وړوکولیني حالات څه داسې

نه دي چې د ده په نبوغ دلالت وکړي. خو سره د دغو ټولو خبرو که څوک غواړي چې د نبوغ پسې وګرځي، پيدا يې کړي او ويې پالي، نو دا خبره څه دومره ډېره غامضه نه ده او نه پټه پاتې کېداى شي. په پښتنو کې ښخوا عادت و چې د اطفالو د اوضاعو ډېر مراقبت او څار به يې کاوه او چې چا کې به يې استعداد وليد په ښه توګه به يې پاله. د هندوستان نامتو او ښاغلى پښتون پاچا سلطان بهلول لودي د ملک کالا لودي زوى او د سلطان شاه اسلام وراره و د ده مور د خوني د نړېدو په واقعه کې مړه شوه او دى يې له نسه وزيږېد. پلار يې هم د ده د کوچنيوالي په وخت کې په يو جنګ کې د نيازيو پښتنو له لاسه ووژل شو. سلطان بهلول په دغه وخت کې«بلو»و، د تره شاه اسلام لاس ته پاته شو تره به په ډېره مهربانۍ ساته. بلو اګر چې په کورنۍ کې په هر چا ګران و، خو د تره د زړه سر او د ځيګر ټوټه وه. مشر خان«شاه اسلام خان»به دى له خپلو زامنو څخه خورا زيات نازاوه. د ده هره شوخي او بې ادبي به يې د ده د آينده عروج نخښه ګڼله، څکه چې سلطان شاه اسلام په ده کې څه ليدل. وايي چې يوه ورځ شوخ او نازولى بلو له موچنو سره د اکا پر مصله وخوت او هغه هم د مشرخان مصله!!! مينځو او نوکرانو پرې قيامت جوړ کړ چې دا دې څه وکړل! اسلام خان چې دا حال وليد ويې ويل:«بلو کمکى دى. که زما په

ککرۍ پښه کېږدي پروا نه لري.» د کور مېرمنې او مینځې اریانې پاته شوې چې خان د دوی اریانتیا ولیده ویې ویل:«مه اریانېږئ زه په دغه وړاره کې هغه اخلاق او خویونه وینم چې د هغو په سبب به یوه ورځ خورا نامتو مېړه شي او زموږ د کهول ستوګې پرې جګې وي.» په کشرانو کې د نبوغ څرک لګول او هغه پالل زما په فکر د پښتنو یو ډېر قدیم روایت دی چې درې زره کاله مخکې د زردشت او د اوستا زمانې ته رسېږي. په اوستا کې د اولاد د پالنې او سمې روزنې بابونه موجود وو. د پښتنو په تاریخ کې ډېر مثالونه شته چې دلته یې نه شو راوړای. څوک چې یو شي پسې ګرځي پیدا کولی یې هم شي. د نبوغ آثار او علایم په لومړنیو مراحلو کې تقریباً په دې ډول دي:

۱–په کوچنیتوب کې هوښیاري او زرنګي.

۲–په کوچنیتوب کې زیات متانت او عمیق تجسس.

۳–ډېرې پوښتنې او کنجکاوي.

۴–شوخي او تمرد او ضدي توب.

۵–کله داسې وي چې کوچنی د علم، سواد، زده کړې او څینو شیانو جوړولو سره سخته مینه لري او یواځېتوب خوښوي.

۶–له بدو، کرهو او ناوړه اقوالو او اعمالو څخه بېزاره وي.

۷–کله داسې وي چې په اوله کې له دغو علايمو څخه څه شی نه وي. خو ورو ورو يا يو وار د شخص په حالت کې تغيير راشي.

۸–په مکتب او مدرسه کې لمبرونه وړل او په اوله درجه کامیابېدل. په دې شرط چې تعليم او امتحان په طبيعي صورت وي.

۹–په کوم کار، کسب يا وظيفه کې ښه لياقت او مهارت ښودل. خو شرط دا دی چې حسد او اغراض دغه لياقت او مهارت باندې خاورې وا نه ړوي.

۱۰–نوو نکتو ته ملتفت کېدل ، په خبرو کې خبرې پيدا کول.

يادداشت:د تکامل په مرحلو کې د نبوغ نخښې موږ مخکې په تفصيل سره ښودلې دي.

د تېرو بحثونو څخه په موضوع تر يوه حده رڼا اچول شوې ده. د نبوغ دغه نخښې چې موږ دلته وښودې دا ټولې په هر نابغه کې نه څرګندېږي. په چا کې څه او په چا کې څه ښکاره شي. په ځينو کې ځينې او په ځينو کې ډېرې سره يو ځای کيږي. د نبوغ مزاج د عادي خلکو له مزاجه بېل او مختلف وي. کوم وخت چې په يو کوچني يا ژنکي کې څه عليحده طبيعت وليدل شي دغلته د مور او پلار، استاد او پالونکي له خوا بايد دقت وشي او دا خبره توضيح او سپينه کړي چې د عادي خلکو او عامې سطحې څخه دا جلاوالی او فرق د مرض په واسطه دی که د سوبې د ټيټوالي او که د نبوغ آثار دي. که څرګنده شوه چې نبوغ دی نو دغه الهي عطيې ته ډېره توجه په کار ده چې ضايع نه شي او خپل کمال ته ورسيږي.

## له نبوغ څخه کار اخستنه

دا د انسان وظیفه ده چې ټول قدرتي او فطري ودائع ، قوتونه او خزانې وپېژني، را وېې سپړي او د انسان د خیر له پاره یې په کار واچوي. انسان او د انسان د نفس کرشمې او عجائبات د دنیا له ټولو ذرائعواو وسائلو څخه قوي، توانا او له قوت نه ډک دي. ملتونه، دولتونه او حکومتونه که غواړي چې په دنیا کې د قوت،ښښتلتوب او ابتکار خاوندان وي او په جګ ورمېږ ښه ژوند وکړي، نو چاره یې فقط همدا ده چې نبوغ دې وپېژني، نبوغ دې ورروزي او نبوغ دې په کار واچوي. په دنیا کې دا نکته ډېره غامضه نه ده پاتې شوې. خلک وربانديې پوهیدلي او تر یوه حده وربانديې چلیدلي دي، نو څکه یې ګټه هم کړې ده. که انسان د فطرت په ټولو مظاهرو کې متکامل، ښښتلي او وتلي لتوي او خوښوي یې او په انسانیت کې د نبوغ پسې نه ګرځي، نه یې پالي او کار ورڅخه نه اخلي نو د خدای د ډېرو بخښنو او عطایارو غټه ناشکري به وي. نوهر ملت او جامعه چې دا کار کوي نو په نتیجه کې به یې خسران او خذلان په نصیب کیږي په قحط الرجال مبتلا کیږي. چې سړی قحط شي، نو دغه خلا خو په غوایي توب او خرتوب نه ډکیږي. نو ذلت، حقارت، مریې توب، انحطاط او

سپکاوی یې لازمي نتایج دي نو څېرې چې دا کار کیږي هلته به د قوم او وطن د خدمت دعوې څه معنی لري؟ کوم وخت چې په هیروشیما او ناگاسا کې د ایټم لومړنی بم ولوېد او د دنیا جرایدو او اخبارونو د ایټم په انرژي بحثونه شروع کړل، نو دغه انعکاس زموږ په اخبارونو کې هم وشو. دغه وخت زموږ د وطن یو لیکوال یوه مبسوطه مقاله ولیکله چې د ایټم د انرژي او د ایټم بم د قوت په باب یې تفصیلات ورکړل. د مقالې عنوان و«هزار مرتبه قویتر از بم آتوم». د مقالې په اخر کې یې لیکلي و دغه ماده چې د ایټم له بم نه زرگونه څله قوي ده«د انسان دماغ دی». ده ویلي و دا څکه چې ټول اختراعات او انکشافات د انسان دماغ کوي نو په معدني جامدو قوتونو پسې گرځېدل او د انسان د دماغ غونډې فعال قوت عاطل پرېښودل، څان ورنه نه خبرول او په کار یې نه اچول، آیا تلافي نه قبلوونکې خساره نه ده؟ نبوغ که په څپلو اولو مرحلو کې وي، باید کوشش او مرسته وکړی شي چې ضائع نه شي او تکامل ته ورسیږي او چې متکامل شي په کار اچول غواړي. په خلکو کې دا ډېره مشهوره ده وایي«پلانی کوچنی دومره هوښیار او ذکي دی چې هیڅ امید نه کیږي چې د مور و پلار روزي شي» یعنې دغسې فوق العاده انسانان په ډېرو طالعو رشد او کمال ته رسیږي، بلکې اکثره ضائع او تباه شي. دا څکه چې دغسې فوق العاده او وتلي طبیعتونه

حاد، مشتعل او تېز وي. د پالونکو په لړه بې پروايي سره د آفاتو، امراضو او يا د خپلو تجربو ښکار او محوه شي. يا ځينې داسې موانع ورپيښې شي چې نبوغ عاطل شي او جريان ونه مومي. كه په اولو مراحلو كې د نبوغ په تكامل او رشد باندې د روزونكو له خوا پاملرنه وشي او نابغه جسماً او روحاً ښه تربيه ومومي، نو جامعې ته ورڅخه زياته ګټه رسېدای شي.

د نابغه پالنه څه اسانه كار هم نه دی. تندي، تيزي، تقليد نه كول او شوخي اكثره د نوابغو مميزه خاصه ده. بله دا چې د نوابغو مزاجونه اكثره نازكه وي. كه چا په لومړنيو مرحلو كې نابغه د فشار، شكنجې او ټوكلو او ترټلو لاندې ونيو، نو ګويا ډېره لويه ګناه يې وكړه. د نابغه متجسس طبيعت بې دليله امر او نهې نه شي منلای او تلقين نه قبلوي. څو په خپله تجربه و نه كړي او نتيجه وانخلي په آرام كښېناستی نه شي. نو ځكه تهديد او تعذيب ممكن دی چې د نبوغ جنازه وكړي. ډېر ځله كېدای شي چې دغسې تربيه د نبوغ مزاج يا اخلاق منحرف كاندي او يا يې په روحي او جسماني امراضو اخته كړي. نو په حكيمانه صورت او دلاسانه د نابغه تربيه په كار ده. پرېښودل يې په كار دي چې دی په خپله حياتي تجربې وكړي، خو دا پاملرنه لازمه ده چې د كوم بد عكس العمل سره مخامخ نه شي. يعنې څه روحي، جسماني او اخلاقي تاوان ور ونه رسېږي. ډېر يو لوی او عالي

طبیعت که په اوایلو کې له غلو سره ملګری شي، غل کیږي. همدارنګه که نور بد مثالونه وګوری ممکنه ده چې دی په خپله د تجربې له پاره ورګډ شي او په نتیجه کې چرسي، بنګي، عیاش او خراب شي. د صحت له پاره د ده هاضمه، دماغ او اعصاب تر پاملرنې لاندې نیول په کار دي. ممکنه ده چې په ډېر کار ځان خراب کړي. ممکنه ده چې په خپلو علمي او دماغي کاوشونو کې دومره غرق شي چې کمزوری او مریض وګرځي او دا هم ممکنه ده چې که له ده سره سختي وشي، نو د سختۍ مقابله به په سختۍ وکړي، نو ځکه د ده شخصي حرمت پامالول په کار نه دي. مناسبه غذا، مناسب ورزش، مناسب تعلیم او موقع ورکول چې دی تجربه وکړي دا هغه اصول دي چې باید په نظر کې ونیول شي. د دې له پاره چې په اولو مرحلو کې د نبوغ پېژندل او په اخره کې په کار اچول لږ مشکلات لري، نو باید چې په یو مملکت کې داسې اصول تر پاملرنې لاندې وي چې څو طبعاً نبوغ ته لاره ببرته پاته وي او مانع نه وي. مثلاً:

۱–ابتدایي تعلیم دې اجباري وي، خو ښوونکی به وهل ټکول او د زده کوونکو تحقیر او تذلیل نه کوي.

۲–لوړ مکتبونه او مدرسې به د هر چا له پاره ببرته وي.

۳–هر زده کوونکی به د خپل طبیعت، میلان، شوق او استعداد له کبله یو مسلک ته معرفي کیږي اجبار به نه وي.

۴–باید په یو مملکت کې داسې ترتیب موجود وي چې تر ځلوېښتو او پنځوسو کلو پورې هر شخص خپله علمي او فني سویه لوړه کړی شي. یعنې کورسونه، مؤسسې او تعلیمي او تربیتي اداري دې له دغسې شوقیانو سره مرسته وکړي چې نوې نوې شهادتنامې واخلي.

۵–هغه کسان چې عملاً او د حیات په میدان کې امتحان ورکړي یعنې لیکوال ښه اثر ولیکي، عامل ښه فعالیت وکړي او صانع ښه صنعت راوباسي فوراً دې د هغه تقدیر وشي. مشکلات دې یې حل کړی شي او نوی میدان دې ورکړی شي.

٦–باید په هېواد کې دغسې یو عادلانه عالي قدرت موجود وي چې د حقدارانو د حقه ادعاګانو او د حقوقو د پامالۍ عرایضو ته غوږ کښېږدي چې څو حقدار خپل حق ته ورسیږي او د اشخاصو د استعدادونو او خدمتونو د اتلاف مخه ونیوی شي او هر څوک د خپل فعالیت ښه نتیجه وګوري او مطمئن شي چې ښه، ښه نتیجه لري او بد بده نتیجه.

۷– د تعلیم شهادتنامې او د علم ډګري ګانې باید د حق او حقیقت له مخې وي، نه د نورو ملاحظاتو له مخې.

۸–باید په یو مملکت کې داسې اصول او قوانین موجود وي چې د شخصیاتو او اغراضو مخه ونیسي او هر عالم، عامل، فني او میتکرد خپلو اعمالو له نتیجې څخه پوره استفاده وکړی شي. زما له زړه نه دا آواز بیا راپورته کیږي چې ووایم«دا ډېره د افسوس خبره ده چې په دنیا کې د قدرت د ټولو قوتونو پسې تجسس او لټون کیږي او هغه مقتدره مرموزه قوه چې د انسان په فطرت کې ایښودل شوې ده مهمله پرېښودل کیږي یا یې مخه نیول کیږي او سعې نه کیږي چې د لوی انساني خیر له پاره په کار واچول شي!!!»

## يو نابغه هلک

لاندې مضمون د«کرربنت»له مجلې څخه اخستل شوی دی. په دې مضمون کې د يو امريکايي پلار له خولې، د هغه د نابغه زوی د عمر ابتدايي احوال د يوخوږ نقل په صورت ليکل شوي دي. د دې مضمون له مطالعې څخه دا خبرې حل کېدای شي چې نبوغ څه شی دی؟دنيا په دغه حقيقت قايله ده که نه؟ نوابغ څه خواص لري؟ نبوغ بايد څنګه وپالل شي؟ منوره دنيا دغه الهي بخښنې ته په څومره قيمت قايله ده؟ نبوغ د دنيا په ښکلا او ترقۍ کې څومره دخل لري؟دغلته انسان د ژوندانه د يو داسې غامض او مرموز حقيقت په وجود باندې باور کولای شي چې د اقوامو او مللو، جوامعو او انسانيت جمال او کمال د هغه مرهون دی(خ).

«برين» د يو نابغه هلک نوم دی. د دغه هلک په باب ډېرې ويناوې او روايات خپاره شوي دي. دلته اوس د«برين» د پلار له خولې د خپل نابغه زوی په باب خبرې ولولئ: (مجله)

زيرک، مستعد او فوق العاده کوچنيان ډېر لږ پيدا کيږي. مګر ارمان چې ځينې اشخاص د دغسې مستعدو کوچنيانو د عادت نه د باندې افعالو ته په ښه سترګه نه ګوري. لاندې قصه چې واقعي او حقيقي نقل دی، مور او

تاسو، میندې او پلرونه او د کوچنیانو روزونکي دې خبرې ته ملتفت کوي چې څرنګه باید د کوچنیانو خارق العاده استعدادونو ته پام وکړو او په تربیه کې یې زیاته سعې، زیار او کوښښ صرف کړو. د دغسې سرګذشتونو لوستنه او مطالعه هر چا ته ګټوره او ضروري ده. وایي چې البرټ انشتاین په کوچنیتوب کې له یوا ځېتوب څخه د خلاصون له پاره په یوه زړه ګوډۍ[۷] خان مشغولاوه. وایي چې توماس اډیسون چې کوم وخت د مدرسې شاګرد و، تش د دې له پاره چې وښیي دی هم د نوروغوندې دی، د باسکټبال او فوټبال په لوبو کې به یې شرکت کاوه. زه خوشحال او مطمئن یم چې زما زوی هم په اوله مرحله کې د دوه لویو او مشهورو نوابغو په عاداتو معتاد دی.

ځینې وختونه ځینې مور او پلار د خپلو کوچنیانو د غیر عادي افعالو په باب په اشتباه کې لوېږي او دلایل نه شي پیدا کولی. په اوله کې زموږ له کوچني څخه هم ډېر له عادت نه وتلي کارونه لیدل کېده. زه او زما ښځه دواړه نه پوهېدو. «برین»په اوله کې ډېر لټ او تنبل و. مګر لږه موده پس په کې یو ناڅاپه انقلاب پیدا شو. تا به ویل چې د فکر په دریاب کې یې طوفان راغی، په لوستلو او مطالعې یې شروع وکړه. هر څیز به یې ژر زده

۷- پتنګ یا الوتونکی کاغذ.

کاوه او ياداوه. لومړی د تعجب پېښه داسې ده: «برين» فقط د دريوو کالو او څو مياشتو و چې يوه شپه د سالون په کوټه کې ناست وو ، کتابونه او مجلې مو کتلې. «برين» له خپل ورورسره چې تر ده دوه کاله مشر دی پرمخې پروت و. د مجلې په پاڼو يې ګوتې وهلې ناڅاپه مې پام شو چې«برين»د مجلې په کرښو ګوتې تېروي، يو ځای ته متوجه دی او ژبه ورو ورو خوځوي. زه د ده له طفلانه تقليد څخه خوښ شوم. مور ته مې وويل: ګوره «برين» څنګه ښه مور غوندې لګيا دی، لوبې کوي.«برين»په دې خبره وپوهېد او لږ خوابدی شو. په ځواب کې يې وويل نه، باباجانه لوبې نه کوم. اوس ليک په ښه شان لوستی شم. تر دې وروسته لکه د «برين»مغزو ته چې فوق العاده قوت حاصل شوی وي په لوست لګيا شو. که څه هم په ورو لګيا و، خو توري يې سم او فصيح اداء کول او لوستل يې. په دغه وخت کې مور دومره خوښ او خوشحاله شو چې تعبير نه شم کولای. په دغه شان ورځې او شپې تېرېدې، د «برين»قابليت او پوهه هم په درسونو کې پرله پسې زياتېده. په څلور کلنۍ کې يې هر شی په ښه شان په جګ غږ لوستی شو. په پنځه کلنۍ کې يې په بيالوجي، فزيک او رياضي کې د مطالعې له لارې زيات معلومات حاصل کړل. د خارجي ژبو الف، بې بې د ډکشنرۍ له مخې زده کول او د ځينو نورو ابتدايي کتابونو له مخې يې خارجي ژبې

زده کولې. په آخره کې مور ته معلومه شوه چې د«برين» د مطالعې شوق بيخي زيات شوی او له بلې خوا يې فکر د علومو په مختلفو څانگو کې شيندل شوی دی. نو مور تصميم ونيو چې پرته له بيالوجي او علم الحيات څخه نور کتابونه ده ته پرې نه ږدو. په دې باب کې «برين» زمور په مخ کې داسې عکس العمل ونبود لکه چې چا د ده پيسې يا د ده د کوچنيتوب د لوبو شيان له ده څخه پټ کړي وي.له هغه ورځې څخه چې «برين» د گرځېدو شوی دی، نور عجيب اعمال يې هم ښکاره کول. هېڅکله په آرام او عادي صورت نه دی گرځېدلای. لکه چې د منډې له پاره پيدا شوی وي، هر ځای او هر چېرته په بې احتياطۍ او منډه تگ او هر شی په لغته وهل، ماتول او ځان خطراتو ته معروض کول د ده عادت و.د«برين»عجيب حالات او اوضاع په څو عباراتو خلاصه کول مشکل کار دی. سره له دې هم کوشش کوم چې د مطلب حق ادء کړی شم. د «برين»بدن متناسب او لږ باريک دی. آبي رنگې آرامې سترگې لري. د بدن پوټکی يې صفا او کم خاپه دی. له خپلو همزولو هلکانو سره څه مينه او ميل نه لري. مگر بيا هم که کوم هلک ورسره د مبارزې داوطلب شي، «نه» نه وايي او ورسره نښلي. اکثره ليدل شوي دي چې څېرې گرېوان او شوکارې پوکارې کور ته راغلی دی.«برين» له سختو او جنجالي کارو سره چندان علاقه نه ښکاره

کوي. د ده میل دا دی چې یواځې په باغونو او ځنګلونو کې وګرځي، یا په خپله کوټه کې په مطالعه بوخت شي. د کور په احاطه کې مورږ ته د«برین»مزاج لږ و ډېر معلوم شوی و، خو مکتب ته تګ یې مورږ ته د ده نوې اوضاع او حالات راوښودل. په اوله کې مو چې دی عمومي مکتب کې داخل کړ، هلته ډېر ژر دلګیر شو. له اول صنف څخه لاړ او له خپل وروور سره په دوهم صنف کې کښېناست او نه یې غوښتل چې له هغه ځایه ولاړشي. دا خبره تلیفوناً د«برین»مور ته وویل شوه. هغه وخت چې مور یې مکتب ته راغله شور او غوغا جوړه وه، نورو هلکانو خندل او معلمان حیران وو، ګوتې یې په غاښ نیولې وې. «برین»وویل:«هغه څه چې هلته درس ورکول کیږي زه یې نه غواړم.»د مدرسې مدیر مورږ ته توصیه وکړه چې د «برین»وضع نسبت نورو ته فوق العاده ده، ده ته مخصوصه توجه په کار ده. دی ښایي چې په کوم خصوصي مکتب کې شامل کړی شي. تر دې وروسته یې مور د خصوصي ښوونې د مکتب په دروسو کې شامل کړ. په اولو ورځو کې «برین» قانع و.د صنف درسونه او سوالونه به یې په فوق العاده صورت حل کول او تل به د درس د مسایلو او افکارو په حل کې غرق و. دې کار یو ځل بیا د استادانو توجه راجلب کړه او په نتیجه کې یې وویل چې «نابغه برین»په کومه لوړه مدرسه یا مؤسسه کې چې ښه مناسب

وي، تر روزنې لاندې نيول په کار دي. مور د ده ضروري او لازمي اړتياوې سر ته نه شو رسولای. اوس نو تاسې ووايئ چې مور بايد څه کړي وای؟ مور پوهېدو چې «برين»يو غير عادي هلک دی تر دې چې ځينو کسانو به له دې مسئلې څخه بد تعبير کاوه او ويل به يې:«ممکنه ده چې برين په کوم روحي مرض اخته يا پېرياني وي.» پس له ډېرو پوښتنو چا راته وويل چې د«ماساچوستس»په ايالت کې«هاملټن»يوه خصوصي مدرسه د فوق العاده کوچنيانو له پاره جوړه کړې ده. دغه ځای زمور له کوره ۲۰ميله لرې و. بيا هم مور داسې تدبيرونه وسنجول چې هلک مو دغه مدرسې ته بوت او د مدرسې مدير ته مو معرفي کړ. نورې ټولې خبرې حل شوې مگر نه يوه او هغه دا چې «برين»نه غوښتل چې ځان د درس په مېز او چوکۍ پورې تړلی او محصور ومني. لکه چې په اوله ورځ هم له صنفه راووت او په پلټنه او تجسس لگيا شو. د مکتب ودانۍ ، کتابتون، د ورزش ميدانونه او نور مربوطه ځايونه يې په تفصيل سره وکتل. پس له دې پلټنې بېرته صنف ته لاړ. په صنف کې د الجبر د مضمون د درس وخت و. ښوونکي غوښتل چې د تېرې هفتې د درس امتحان واخلي. لږ وروسته ښوونکي د «برين»خوا ته مخ کړ او ويې ويل: ښاغلی برينه! که ستا مطالعه د مکتب په اطرافو کې تمامه شوې وي، نو کېدای شي چې زه ووايم هغلته يوه چوکۍ تا له پاره تشه پرته

ده تاسو کولی شئ چې هلته کښېنئ او په درس کې ګډ شئ! برين د ښوونکي خبرو ته غوږ ايښی و، ليکن لکه چې لا تر اوسه د درس د اخستو له پاره حاضر نه و. څکه چې يوه نوې چوکۍ او يو نوی ميز د ده له پاره په صنف کې ايښودل شوي وو، نو بويه چې کم و کيف يې وګوري او ځان ورباندې پوه کاندي، نو په دغو وجوهاتو برين پاڅېد او چوکۍ ته ورغی. وړاندې، وروسته، دننه او د باندې يې په تفصيل سره وکتله. د چوکۍ او ميز د جوړښت مواد او هر څه يې په ځير ځير وکتل. په دې وخت کې د صنف نورو هلکانو ورپورې په بک بک وخندل او د برين په غيرعادي وضع يو تربله په غوږو کې ويسېدل. مګر برين په هماغه سړه سينه بې له دې چې په رنګ او حال کې يې تغيير راشي، خپله پلټنه خلاصه کړه او پس له ډېر څخه په چوکۍ باندې په درنه وضع سره کښېناست.

د مکتب ښوونکي او چلوونکي د برين د ذکاوت په باب ازمېښتونه وکړل. بيا يې ويل چې برين دې د روحي طبيب تر کتنې تېر شي. ډاکټر بندا تر کتنې وروسته وويل:«برين د صحت او سلامتۍ له مخې روغ جوړ دی او د ذکاوت معيار(آی کيو) يې۱۸۵ته رسيږي.»د ډاکټر دې وينا مور هم ډاډه کړو او هم يې ووېرولو. مور وويل:«آيا دغه حالت خو خطرناک نه دی؟»ده ويل: نه، څه خطر لري! د يو نابغه د عادي ذکاوت درجه

عموماً ۱٦٠ ده. د مکتب مدیر د خوښۍ خندا وکړه ویل یې:«انشتاین ښایي چې د ذکاوت ۱٦٠درجه لرله. ګویټې، ولتر او نور هم ښايي چې همدومره وو.لیکن له هغه قراره چې د اډیسون له حافظې څخه عکاسي شوې ده، د ده نبوغ تقریباً د برین په اندازه و. دغو نوابغو د بشریت له پاره لوی کارونه وکړل نو هیله ده چې برین هم د کارنامو خاوند شي.»

د برین فکري قوت داسې ژر ژر مخ پورته تللو چې د مکتب مدیر به تل ویل:«برین به ډیر ژر لومړنی مکتب خلاص کړي او په لس کلنۍ کې به عالي مکتب ته ولاړ شي.» اوس برین په یوولسم ټولګي کې دی د ده د ټولګي ملګري په دوه هغومره د عمر د کلونو خاوندان دي. د ده ډیرو ملګرو لا تر اوسه د ده استعداد او لیاقت پیژندلی نه دی او دی نه پیژني. برین ښه لیک نه لري. مطالب جزء په جزء یادوي. په ازموینو کې لکه د کتاب له مخې چې څا څه لیکلي وي دغسې توري په توري کټ مټ د کتاب عبارات لیکي. د برین د پوښتنو د حل لاره ډیره خوندوره او مرموزه ده. یوه ورځ د ښوونځي د چلوونکي په بلنه زه د ازمېښتونو په وخت کې حاضر شوم. د فزیک ښوونکي په لاندې تفصیل له ده څخه پوښتنه وکړه:«موږ پوهیږو د پټرولي انجن په یو سلندر کې اوسط فشار په یو مربع انچ کې اویا پونډه دی، نو اوس که قطر او پشتن څلور انچه وي او پشتن په

نسبتي صورت زر فوته په يوه دقيقه کې وچلول شي، نو څو آسه قوه په کار ده؟» نور زده کوونکي ټول اريان شول د برين خوا ته يې کتل. برين پنسل له خولې څخه ايسته کړ. له يو څو دقيقې فکر نه وروسته يې وويل : تقريباً شپږ ويشت نيم آسه قوه! برين سم ځواب ويلی و. ښوونکي پوښتنه وکړه قضيه دې څنګه حل کړې ده؟ برين د رياضي ټول عمليات او فارمولونه يو يو په خوله بيان کړل.

ډاکټر بندا مور ته توصيه کړې وه چې برين تشويق کړو په اجتماعي محافلو او سپورتي لوبو کې ګډون وکړي. څکه ده ويل چې نبوغ له ذکاوت څخه پرته اجتماعي والي ته هم اړتيا لري. ما څو کرته د فوق العاده اشخاصو او د هغو د اطفالو د ژوندون په شا و خوا کې مطالعه کړې ده، نوابغ اکثراً متفکر او انزوا خوښوونکي وي ليکن زه نه غواړم چې ګران برين دې دغسې شي. زما بل زوی«واني»يو عادي شاګرد دی. دی په امتحانونو کې ښه لمبرونه وړي. زما د وړوکينې غوندې له لامبو سره شوق لري. طبيعت، برين ته خارق العاده ماغزه ورکړي دي. مګر له دې سره په سپورت کې هم د فوق العاده استعداد خاوند دی. کله کله د فتبال او باسکتبال لوبه هم کوي. يوه ورځ مې وليد چې برين يو عمارت ته نږدې ولاړ دی او د هغه د لاندې طبقې کړکۍ ته تيږي ورګوزاروي. ما وغوښتل

چې ورشم او تنبيه يې كړم مګر بيا هم ده د ماتې كړكۍ پل ته تيره ور وار كړه. زه په تعجب ورغلم چې وګورم اخر د ده مقصد څه دی. كړكۍ تقريباً دېرش فټه لرې وه. برين به دېرش ډبرې له سره تاوې كړې وې او ټولې به يې د ماتې كړكۍ په سوري ورننه ايستې وې. د ده دا لياقت هم د آفرين و. څكه كه د بيس بال په لوبه كې ګډون وكړي نو هم د مسابقې په ميدان كې به لوی«پيچر»شي.

د برين مشر ورور(واني)كله كله ده ته آزار وركوي. ورته وايي چې په محافلو كې برخه واخله او د ساعت تېرۍ له پاره دباندې ولاړ شه. مګر د برين سر و كار تل له لوست او كتاب سره دی. ځينې كسان چې زموږ كور ته راځي د ځينو عجيبو غريبو قصو د اورېدو له كبله له برين څخه پوښتنې هم كوي. مګر برين اكثراً وايي:«زه نه پوهېږم» او په حقيقت كې نه غواړي چې د خلكو په مخ كې ممتاز او په ګوته وښودل شي. برين نه غواړي چې د خپلوانو او ګاونډيانو له هلكانو سره وګوري. كله چې دوی زموږ كور ته راشي دی عموماً ځان په خپله كوټه كې په درس او سبق مشغولوي او پټوي. برين له يوه زاړه سړي سره آشنايي اچولې ده. د هغه د رفاقت د وجهې پوښتنه ترې چا وكړه وېې ويل هغه په داسې شان ما سره سازش كوي چې ته به وايې چې ما ته متوجه نه دی او هيڅ مې نه ويني. له دې نه پرته برين په

خوراک او څښاک کې د نورو عادي هلکانو په شان دی. غوښه، کچالو او نور په خوند او مزه خوري، په کور کې له ورور سره برين موافقه کوي، خو ډېره مينه نه ښکاره کوي. د نورو عادي ورونو غوندې کله ټوکې کوي او کله سره نښلي. ليکن په منځ کې ورڅخه کله عجيب حرکات واقع کيږي. مثلاً يوه شپه برين له خپل ورور سره په کاله کې لوبې کولې، يوه به منډې وهلې پټېده به او بل به ورپسې ځغاستل او پيدا کاوه به يې. په دې کې برين ستړی شو او بل حال يې غوره کړ. کوم وخت چې ورور يې ورسېد په سوک يې په پوزه وواهه ويل يې:«اوس پوه شوې چې لوبې څه شی دي؟»

برين د شپې له خوا ژر نه ويده کېږي. هره شپه په دې مسئله بحث او شور وي په آخره کې برين راضي کيږي او کټ ته ځي، مګر سم له ملاستې سره ته به وايې چې نور له دنيا خبر نه دی آرام ويده کيږي دومره آرام چې ګويا په خوب کې هم څه نه ويني. د برين درس ويل له نورو سره فرق لري. دی د درس کتابونه غالباً د خوراک خونې ته له ځان سره وړي. د مکتب درسونه هره ورځ ګوري. برين عادت لري چې د شپې تر ۱۲بجو پورې مطالعه کوي. مګر دغه افراط کاري يې مور ته چندان معقوله نه ښکاري. يوه ورځ يې کتابونه د خوب کوټې ته له ځان سره وړل، ما ورته ويل دا څه کوې؟ ده ويل د دې له پاره چې ما ته نږدې وي او ځايونه يې را نه هېر نه

شي. ظاهراً کوم وخت چې برین کټ ته تلو، چراغ به مړ کېده او هر څوک به غلی و. مګر اتفاقاً یوه شپه څه وینو چې برین په کټ کې نه شته. پس له معلوماتو ښکاره شوه چې برین تشناب(لمباځي)ته تللی، چراغ یې لګولی او په مطالعه بوخت دی. کوم وخت چې برین په طبیعت کې وي له خپلې مور سره ټوکې کوي او د خپلو کتابونو ځینې خوندور فصلونه ورته لولي او تفسیر یې کوي. د برین په لیدو مور خوشحالیږو مور چې د ده آرام او متفکر مخ ته ګورو زموږ نه روزانه غمونه هیریږي. مور حاضر یو چې د ده په روزنه او پالنه کې خپل بهترین زیار او کوشش صرف کړو. برین لا تر اوسه هلک دی. متفحص دی، متجسس دی. په ټوکو کې لطف او صفایي لري. کله اور وګرځي چې دا هم مور ته خوند او ښایست لري. د لویو خلکو خوښي او پوهه د نورو د خوښۍ او سرلوړۍ، پانګه ده مور هیله لرو چې ګران او نابغه برین په آخره کې د خپل هېواد نابغه او نامتو انسان شي او انساني نړۍ ته د لارې ډیوه وګرځي.

## ملاحظات

وګورئ خلک د نبوغ او نابغه د پاللو، روزلو، ځای ته رسولو او ورنه کار اخستلو له پاره څومره دقت کوي، تکليف او کړاو په سر اخلي سړی تياروي ميدان ته يې راباسي او په کار يې اچوي. سړی که لږ ځير شي پوهېدای شي چې د دنيا د اقوامو او مللو په منځ کې تيټ و پاس مدارج، وړاندې وروسته والی، ذلت او سرلوړي، سعادت او شقاوت فقط او فقط په سړيو پاللو، روزلو، رسولو او په کار اچولو پورې اړه لري. د انسان اجتماعي ارتياوې او د هغو د حل او انکشاف کلي ګانې په خپله د انسان په لاس کې دي. خو که دی پوه شي، وغواړي، سعې او کوشش وکړي او سمه لار تعقيب کړي.

که نابغه برين په يوه کښته او منحطه ټولنه کې پيدا شوی وای، د ده به څه حال و؟ اول به د مور و پلار بيا به د استادانو او ښوونځي له لاسه په عذاب و. سپکول کېده به، پورې وهل کېده او تېل ماتېل کېده به. زياتې به لا په زور او جبر سره هغه خوا ته سوق کېده چې د ده د طبيعت، مزاج، ميل او روح نه به مخالفه وه. دغه لوی انسان به چا نه شو پېژندای. که چا پېژندای نو په حسد او رقابت به ورسره اخته و. د ده حق او لياقت به بل چا

ته ورکول کېده. ده به په غتهو غتهو سترګو کتل، چاره به يې نه شوای کولای. نو د نبوغ په سايقه به يې سر غړاوه او سزاګانې او جزاګانې به ورکول کېدې، وهل کېده او ټکول کېده به، نو له مکتبه به تښتبدلای او په آخره کې که مريض او لېونی شوی نه وای، نو لوی غل او نابغه ډاکو، يا به سخت محيل او لوی اسباب ساز ترې وتلی وای.

## د شلمې پېړۍ نابغه

برټراند رسل د شلمې پېړۍ خورا لوی فیلسوف او لیکونکی د ۱۸۷۲ ع.کال د می په ۱٦نېټه د انګلستان په یوه آزادي غوښتونکې کورنۍ کې زیږېدلی دی. د ده ور نیکه«ویلیم جان رسل»چې مشهور لاټ و، د دوهم چارلس د سلطنت په دوران کې د آزادۍ غوښتلو په اثر خپل ژوند له لاسه ورکړ. د ده نیکه چې«لارډجان رسل»یې باله تر جګړې دمخه د انګلستان له نامتو او مشهورو صدراعظمانو څخه و. همدغه ډول د ده پلار یو آزادیخواه او د روڼ فکر خاوند و. مګر له دې کبله چې د مذهبي افکارو او عقایدو سره یې مخالفت درلود له سیاسي مؤفقیتونو څخه محروم پاتې شو.

برټراند رسل لا وړوکی و چې پلار او مور یې مړه شول. په یوولس کلنۍ کې یې د اقلیدس د هندسې په مطالعاتو پیل وکړ او څو کاله وروسته په هماغه وړوکتوب کې د انګلستان د مشهورو ریاضي پوهانو په ډله کې ودرېد. په څوارلس کلنۍ کې «رسل»تصمیم ونیو چې ځان ووژني. مګر لکه څنګه چې ده لیکلي دي وایي چې له خپل دغه تصمیم څخه مې ببرته ډډه وکړه، د دې له پاره چې په ریاضي ښه وپوهېږم او ژوندی پاتې شم.

کله چې ده د کیمبرج په پوهنتون کې زده کړه کوله د ده نظر فلسفې جذب کړ او د جبر او اختیار په باب کې یې ډېر مطالعات وکړل، تر دې چې په خپله د نظریې خاوند شو.ورروسته تر هغه چې د کیمبرج دوره یې تمامه کړه د انګلستان لوی سفارت ته په پاریس کې استخدام شو. مګر هر کله چې سیاست یې له خپلې روحیې سره مناسب ونه باله له دغه وظیفې څخه منصرف شو او د اقتصاد او سوسیالېزم په موضوع کې د ډېر تحصیل له پاره برلین ته ولاړ. په دغه وخت کې برټراند رسل په ځان کې د سوسیالېزم په تمایلاتو پوه شو او په ټینګه سره یې له مارکسېزم څخه نفرت ښکاره کړ. تر څه زماني وروسته انګلستان ته راستون شو او بیا له هغه ځایه سم امریکې ته ولاړ او هلته په یو مخ د فلسفې په کتنه بوخت شو او تر اوسه پورې یې له هغې څخه لاس نه دی اخیستی. یو وخت د کیمبرج د پوهنتون له خوا د«مک نګارت»پرځای په استادۍ وټاکل شو. په ۱۹۰۰ع. کال کې د انګلستان د فلاسفه وو له خوا د فلسفې بین المللي کنفرانس ته چې په پاریس کې و، ولېږل شو. هلته یې خپل ځینې مشکلات په خبرو او مذاکرو حل کړل. په ۱۹۰۱ع. کال کې د وخت او زمان شرایطو بېرته د سیاست ډګر ته راوست او د هغه زور او فشار په مقابل کې یې چې په انګلستان کې د کلیسا له خوا جاري و، سخت مخالفتونه وکړل. په ۱۹۱۰ع.کال کې یې

په انتخاباتو کې د ښځو د برخې او حق د اثبات په باب په مبارزو لاس پورې کړ. په دغه وخت کې د آزادي غوښتونکو له خوا د مجلس د غړيتوب له پاره کانديد شو. مګر له دې جهته چې د مذهبي عقايدو پابند نه و، اعتبار نامه يې ونه منل شوه. په ۱۹۱۴ع.کال کې د بين المللي جګړې په لومړي کال په دې سبب چې په جګړه کې يې ګډون ونه کاوه څه موده بندي شو او د ده شخصي قيمتداره کتابخانه د هغه وخت د حکومت له خوا ضبطه شوه او هم له استادۍ څخه معزول شو.

ويل دورانت امريکايي څو کاله وروسته په دغه باب وليکل:«هغه وخت چې رسل د امن غوښتلو په جرم له کيمبرج څخه وايستل شو له نړۍ څخه يې د ځان لپاره پوهنتون جوړ کړ.» تر جګړې وروسته په ۱۹۱۸ع.کال کې شوروي روسيې ته ولاړ او له هغه ځای څخه يې چين ته سفر وکړ او يو کال يې د شاګردانو په پوهنتون کې تعليم ورکاوه. هغه وخت چې له چين څخه بيرته انګلستان ته راغی نو واده يې وکړ او د دوو زامنو پلار شو. په ۱۹۵۰ع.کال کې يې د نوبل جايزه واخيسته. د برټراند رسل او د نړۍ د لوی رياضي پوهاند«انشټاين»په منځ کې نږدې دوستي موجوده وه. مګر د علم په ساحه کې يې يو تر بله فکري اختلاف درلود. د۱۳۳۷ش.کال په مې کې يې د خپلې زيږېدنې د۸٦ کلنۍ جشن جوړ کړ.

ستایل شوي ډېر تألیفات لري چې تر ټولو مهم يې دا دي: د لایب فلسفه، د معنی او حقیقت په باره کې تحقیق، اخلاق او ازدواج، تعلیم او تربیت، تربیت او اجتماعي نظم، آزادي او تشکیلات، د تالس له وخت څخه تر اوسه پورې د فلسفي تحقیق، عرفان او منطق، علمي روش،فلسفي مسایل، علم او دین. رسل له هغه فلاسفه وو څخه ګڼل کیږي چې فلسفه يې له سطحي او خیال بافی څخه جلا کړېده. وايي چې سقراط فلسفه له آسمان څخه راکښته کړه، خو د ده په باب کې ویل کېدای شي چې د علمي روش په کار اچولو سره يې فلسفه په ځمکه کې میخ کړه. یوه ورځ له ده نه پوښتنه وشوه چې فلسفه څه شی دی؟ ده يې په جواب کې وویل:«فلسفه عبارت ده له دې څخه چې موږ په یوه توره تیاره کوټه کې یوه خورا توره پیشو ولټوو او ويې مومو. حال دا چې په دغه کوټه کې له سره پیشو نه وي.»برټرانډ رسل په فلسفه، ریاضي،علم اللغات، فزیالوجي او منطق کې مثلي او بېساری استاد دی. د ده د نظریاتو او فلسفي فرضیاتو په باب ډېر کتابونه لیکل شوي دي. انشتاین د ده په باب داسې لیکلي دي:«رسل د شلمې پېړۍ یواځنی نابغه دی»

## د نبوغ مخالفت

په ټولو تېرو مقالو کې د نبوغ مخالفې ډلې باندې ځای په ځای خبرې شوې دي او د ځینو شکونو او اشتباهاتو پر شاو خوا باندې یو څه رڼا اچول شوې هم ده. مګر په دې مقاله کې سم دم په دې موضوع ګرېږو چې د نبوغ مخالفین څه وایي او څه دلایل لري. که څه هم ځینې کسان په دې فکر کې دي چې په حاضر وخت کې د نبوغ مسئله د نوو افکارو په رڼا کې رد شوې ده. ولې دا خبره په مطلق صورت سره د منلو وړ نه ده. ځکه هر څوک ویني چې هره ورځ د دنیا په هره خوا کې د ادیبانو او اجتماعي څېړونکو له خوا په نبوغ او نابغه او د دې موضوع په قیمت او اهمیت بحثونه کیږي. سمه خبره به دا وي که سړی ووایي چې د نبوغ په باب افراطي عقاید اعتدال ته راغلي دي. د نبوغ له افراطي معتقدینو او طرفدارانو څخه یو مشهور انګلیس ادیب(کارلایل)دی. کارلایل د قهرمان پرستۍ جدي مبلغ دی او په دې باب یې کتاب لیکلی دی چې په هغه کې یې نوابغ په شپږو ډلو ویشلي دي او په هره ډله یې بېل بېل بحث کړی دی. کارلایل د افلاطون غوندې جامعه په ډلو ویشلې ده. خو افلاطون جامعه درې ډلې فلاسفه، عسکر او کاسبان ګڼي، مګر دی وایي چې جامعه فقط له دوو ډلو

ځنځه جوړه ده چې یوه یې پوهان، فلاسفه او حکماء دي او بله یې توده وګړي او عوام دي.

د ده په عقیده لاربنوونه او مخکښ تګ د نوابغو حق دی. ځکه دی وايي نبوغ یوه عطیه ده چې د خدای له خوا دوی ته شوې ده، نو که څوک یې نه مني نو ګویا د قدرت له یوه مسلم قانون ځنځه مخالفت کوي او مثال به یې داسې وي لکه څوک چې د فولادو پر ځای له لرګي نه کار واخلي یا د مرغلرو په عوض مشکنې ولګوي. دی وايي د خدای د معرفت لار په یواځې سر یې د کامل عارف له لارښوونې ځنځه نه شي وهل کېدای. نو لار ښودونکي او استاد ته اړتیا پیدا کېږي او د کارلایل په ژبه دغه لارښوونکی قهرمان یا نابغه دی. دی وايي چې تاریخ بل هیڅ شی نه دی، یې د نوابغو د کارنامو له یاد ځنځه او همدارنګه وايي چې دا نوابغ دي چې د تاریخ مجراء اړوي را اړوي او بس.

شک نه شته چې د کارلایل د دغسې استدلال سره ننني ځیني فکري مکتبونه جګړه کوي، مګر نبوغ او په جامعه کې د نابغه د ځرګند رول او اغیزې ځنځه قطعاً انکار نه شي کېدای. که څوک غر ویني او مخامخ پرې ورځي او وايي چې غر نه شته نو نتیجه به یې څه وي؟ د سرې سر به په تیږو ولګیږي، لیکن غر خو د چا په انکار سره له منځه نه ځي. بنایي چې د

کارلایل استدلال له سخافته خالي نه وي، خو د نبوغ مسئله په خپل قوت سره پرځای پاتې کیږي. نو د دې له پاره چې په دې موضوع کې د شکونو سلسله له بېخه وایستل شي، مناسبه به وي چې د دغسې مخالفو آراوو په باب د یوې مفصلې مقالې اقتباسات ترجمه او رانقل کړو او وروسته ورنه نتیجه واخلو. دغه مقاله د ښاغلي علي دشتي په قلم په (سایه)کې نشر شوې ده.[٨]

غور کېږدئ: اکثره خلک ګومان کوي چې نوابغ په خپل محیط استیلا کوي او د تاریخ مجرا بدلوي . د اجتماعي محیطونو لوی تبدلات او عظیم تطورات د یو څو افرادو د ارادې معلول دی. د دغې عقیدې له جدي طرفدارانو څخه یو «توماس کارلایل»دی . ده خپل اجتماعي افکار پر دغه ټکي متمرکز کړي دي. د ده په نزد تاریخ د یو څو کسانو د اخلاقي، سیاسي او اجتماعي فعالیتونو او د دوی د ژوند له کارنامو څخه عبارت دی. دا عقیده لوی مخالفین هم لري. دا خلک عقیده لري چې نوابغ د لیاقت له اندازې نه زیات مشهور شوي دي. نوابغ مخکې تر هر څه د خپل محیط پیداوار ، د خپلې زمانې د اړتیاوو او تقاضاګانو زېږنده او د خپلو پلرونو او نیکونو تابع دي او په محیط کې تأثیر نه لري، بلکې اجتماعي محیط ، د

[٨]- علي دشتي د ایران مشهور معاصر لیکوال دی.

نیکونو توارث او ملي استعداد په دوی باندې اغېزه لري. دوی د خپلې جامعې له عنعناتو او سوابقو څخه استفاده کوي او په حقیقت کې د خپلې زمانې د استعداد او غوښتنو ممثل دي. د دې له پاره چې قضیه واضحه شي او په مسئله باندې قضاوت اسان شي لومړی باید په دې ځان پوه کړو چې نابغه یا ژني کوم قسم سړي ته ویل کېدای شي. معمولاً خلک هغه چا ته نابغه وایي چې د سیاست او اجتماع له پلوه څرګند وي او د تاریخي قضایاوو بنیاد یې ایښی وي. نو له دغه جهته څومره چې د ناپلیون، سکندر او ژول سزار نوم د خلکو په خوله جاري دی او خلک یې په تحسین او تعجب یادوي ، هغومره د کوپرنیک، ګالیله، واټ، نیوټن، ډاروین او ارشمیدس نوم نه اخلي. حال دا چې یواځې فاتحین خو نوابغ نه دي، بلکې هر څوک چې د خپل عصر او زمانې په خلکو کې د قوت او فعالیت تر نورو ښه ثبوت ورکړي هغه نابغه دی. هو قوت او امتیاز چې د ژوند په هره خوا کې وي. مثلاً د هر چا دماغي قوتونه چې د خپلې جامعې له وسطي حد نه زیات وي نابغه دی. یا مثلاً د هر چا چې اخلاقي او روحي قوتونه په داسې اندازه وي چې نور خلک تر خپل نفوذ لاندې راولي او د ځان تابع یې کړي نابغه حسابیږي. د دې له پاره چې مسئله ښه وځېړو ښایي چې له دغو ډلو څخه بېل بېل بحث وکړو:

نوابغ په درې قسمه دي بدني، عقلي او سياسي.

۱— بدني نوابغ: دا خلک هغه وخت زيات وو چې د انسان عقل او ادراکاتو پوره تکامل او نمو، نه وه کړې او د انسان تفوق پر انسانيت يوازې د بدني قوت او پهلوانۍ پر بناء مثل کېداى شو. نو دغسې نوابغ او پهلوانان به پيدا کېدل. دا سمه ده چې نن هم دغسې پهلوانان او د قوت خاوندان شته او پيدا کيږي چې تر نورو پر دغه خوا کې زيات امتياز او برجستګي لري، خو د اجتماع له پلوه هيڅ قيمت نه لري، ځکه چې د تمدن مخکې والى، د قوانينو او نظام استحکام، د جنګ د تجهيزاتو او وسلو د ډېرېدو او د تخنيک د بروز له کبله دغسې خلکو ته په جامعه کې مقام پاتې نه شو. هو په تېرو اعصارو کې چې ورته حاجت و، نو بدني قوت د سيادت او زمامدارۍ لويه ذريعه وه.

۲— عقلي نوابغ: د دې عنوان په احاطه کې مخترعين، مکتشفين، شعراء، فلاسفه او متبحر عالمان راځي. حقيقي نوابغ همدغه کسان دي. ځکه چې دوى د عقل او ادراک په قوت په نورو تفوق لري. دوى ښه فکر کولى شي او د مسايلو د حل لارې په ښه توګه ميندلاى شي. د دوى استنتاج د دنيا په معماګانو او حوادثو کې حقيقت ته نږدې وي. که موږ فکر وکړو چې څه ډول اشخاص په محيط کې مؤثر واقع کيږي يعنې د مدني

تطور او تحول سبب ګرځي نو هغه همدوی دي. ځکه چې یو اکتشاف د یوې نوې مبداء اثبات او یوه اساسي اختراع د ملتونو د تفکر طرز د هغوی د معیشت ډول او په غیرمستقیم صورت د دنیا د سیاسي او اجتماعي ژوند جریان په بله خوا اړوي. مثلاً د بخار د ماشین اختراع وه چې کارخانې او مزدوران، صنعتي دولتونه د اجرت او کار ساعتونه او سوسیالیزم ورځخه منځ ته راغې. ویل کېدای شي چې جیمزواټ د مدنیت په تطور او د محیط په تغییر کې له کرومویل ځخه زیات مؤثر و او ډاروین د خپلې ارتقایي فلسفې په ذریعه د تاریخ لیکلو اسلوب د اجتماعي مسئلو د حل لار، د اخلاقو مبادي او د نظري فلسفې اساس په بل مخ واړاوه. دغه فلسفه وه چې د انسان پخواني عقاید او د ژوند په باب د هغه د تلقي طرز یې تبدیل کړ. نیوټن د جاذبې د کشف په واسطه د طبیعت د نوامیسو د پېژندګلوی له پاره لویه لاره پیدا کړه. اګر چې د مخترعینو او فلاسفه وو تأثیر په محیط باندې په یوه اندازه نه دی. د چا قوي او د چا ضعیف دی. خو بیا هم په دې ارزي چې د اجتماعي تحولاتو او تطوراتو مبداء وبلل شي. لیکن که ځیر شو نو رامعلومیږي چې دغه کسان بیا هم په مستقل طور عامل او مؤثر نه وو. یعنې دا چې ټول افتخار دوی ته نه شي راجع کېدلای. که څه هم واټ د بخار ماشین اختراع کړ، لیکن له ده نه مخکې ډېرو خلکو په دې موضوع فکر

کړی و او تجربې یې ناتکمیلې پرتې وې. جیمزوات ایله دومره وکړل چې هغه ناقصې تجربې یې تکمیلې کړې . نو ویلی شو چې دا کوم داسې فکر نه و چې یواځې د ده په دماغ کې پیدا شو او د ده په لاس عمل ته راووت. همدارنګه له ډاروین نه مخکې ډېرو حکماوو لکه لامارک، لاپلاس او داسې نورو د تکوین په مسئله فکر او استدلال کړی و او همدارنګه زرګونو اشخاصو په طبیعي علومو لکه د نباتاتو علم، د حیواناتو علم، د ځمکې د طبقاتو علم، د اعضاوو د وظایفو علم، بشر او ژوندپوهنه او داسې نوروکې ځانونه ستړي کړي وو او یوه حد ته یې رسولي وو چې ډاروین له هغو څخه استفاده وکړه. نو دغه طبقه خلک په خپله د محیط د مقتضیاتو معلول و او د محیط د اغېزو په کومک یې وکولی شول چې اختراع او اکتشاف وکړي.

۳–سیاسي نوابغ: دلته موږ د مؤرخینو او ځینو نورو هغو کسانو د تندو او تېزو احساساتي تقریرونو او مبالغه آمېزو بیانونو حد ته چې دوی زور لګوي د ځان او د بشر له پاره معبودان جوړ کړي، رسیږو. لکه چې مخکې مو وویل له دغو کسانو څخه ځینې عقیده لري چې نوابغ د تاریخ پیداکوونکي او د حوادثو او لویو انقلابونو راوستونکي دي. دوی وایي چې اجتماعي تبدلات او تاریخي تحولات د دوی د ارادې په سبب منځ ته راځي. حال دا چې زیات متفکرین دغسې عقیده نه لري. دوی وایي سیاسي نوابغ

محیط نه شي بدلولای، بلکې دوی له هغو تغییراتو سره چې محیط ورته مساعد وي کومک کوي.

د دنیا د دغسې لویو خلکو قدر او قیمت په دې کې نه دی چې د انقلاب او تحول سبب ګرځیدلي دي، بلکې په دې کې دی چې د هغسې تغییراتو او حوادثو باعث کیږي چې ډیره موده مخکې ورته زمینه تیاره شوې وي. د دغسې اشتباه بنسټ دا څیزونه دي:

اول داچې سیاسي نوابغ د حوادثو په سر کې روان وي، نو خلک ګومان کوي چې حوادث د دوی د ارادې په سبب پیدا شوي شوي دي. مثلاً خلک ګومان کوي چې لینن او د ده ملګرو د روسیې لوی انقلاب منځ ته راوست. مګر حقیقت دا دی چې د دغسې انقلاب له پاره دوه پیړۍ مخکې د تزاریانو فساد او نیمه پیړۍ وړاندې د المان سوسیالستانو او بیا د جنګ فشار، لوږې او د کارګرو بې سر و سامانۍ میدان ښه صاف کړی و. لینن او د ده ملګرو له وخت نه استفاده وکړه . د لینن ټول فکري تفوق په دې کې نه دی چې انقلاب یې ایجاد کړ، بلکې په دې کې دی چې د اجتماعي محیط استعدادونه یې تشخیص کړل او له هغو څخه یې استفاده وکړه. بله دا چې اکثره سیاسي نوابغ د قدرت، دبدبې، تمول او جلال خاوندان وي او په دغسې وسایلو د خلکو په سترګو پردې اچوي. بله دا هم ده چې د جامعې د تجسس رګ پیژني او په هماغه ځای یې ګوتې ږدي.

يعني د افرادو د وطنپرستۍ احساسات راپاروي او د ناپليون، سکندر او سزار په شان په خپلو فتوحاتو د جامعې غرور او ملي غيرت په هيجان راولي او مؤرخين هم د خپلو صفاتو د تزئين له پاره پهلوانانو ته اړتيا لري او د تاريخ قيمتدارې پاڼې هغه ګڼل کيږي چې په هغو کې د وحشتناکو جنګونو، بېرحمه مرګونو، لويو تباهيو او هجومونو ذکر وي. هوا سياسي نوابغ د يو لړ طبيعي مواهبو په برکت پر خپل اجتماعي محيط د پاسه دي. مثلاً د دوي ارزوګانې لوړې او پراخه دي. کوم کار چې کوي په ثبات او استقامت يې کوي. لوړ نظر، اخلاقي قوت، د سردارۍ ميل، شجاعت او فصاحت، د افرادو د اخلاقي ارزښت قوه پېژندل، د وخت د اړتيا تشخيص، دهاء او د زړه سختوالی لنډه دا چې يو سرکش بلند پرواز او نه ماتېدونکی روح په سياسي نوابغو کې لږ او ډېر مشترک ليدل کيږي. په دغسې خلکو کې د تعمق او د اطلاعاتو د وسعت او په علومو کې د تبحر او د احتياط پرځای حماسي روح، ثابت ايمان او تفوق سره سخته علاقه، زياته ليدل کيږي. نو هرکله چې د دغې ډلې خلکو کار له اجتماع سره دی او داسې نه دي لکه عقلي نوابغ چې په يواځېتوب کې فکر کوي، غوږې وهي او مرغلرې راباسي، نو د ټولنې په زور بايد خپلو مقاصدو ته ورسيږي. خو که ټولنه د دغسې خلکو د ظهور او د هغو د تلقيناتو د منلو له پاره تياره نه وي يعني د محيط پټ استعداد دوی نه وي غوښتي، نو ماتيږي او هېڅ نه شي کولی. که څه هم

دغه خلک د علم او عقل خاوندان وي. دا د اجتماع په نوامیسو کې یو منل شوی حقیقت دی چې «د ملت د ارادې له پاسه بله اراده نه شته». هیڅ یو حکومت د ملت له معنوي تمایل نه پرته د پاته کېدو نه وي. هر حکومت د ملت پر پښو ولاړ وي، نو ځکه وایو چې سیاسي نوابغ د محیط د تغییراتو عوامل او حاکمان نه دي، بلکې د محیط د غوښتنو اجرا کوونکي دي. په بل عبارت: اجتماعي محیط په دوی کې مؤثر دی، نه چې دوی په محیط کې تأثیر کوي. مطلب دا دی چې سیاسي نوابغ د زمان او مکان تابع دي. د کومو سیاسي نوابغو چې په تاریخ کې نوم پاتې شوی دی دا هغه کسان دي چې دغه مواقع یې پېژندل. له دې نه پرته داسې زړګونه د فکر خاوندان وو چې لوړ نظر، اخلاقي قوت او پراخه معلومات یې لرل دوی په هر ملت کې راغلي او تللي دي. خو چې دوی د کوم تغییر او تحول باعث ګرځېدلي نه دي ، نو ځکه تاریخ یې نوم نه دی ثبت کړی او مورږ یې نه پېژنو. تل په هر ملت کې داسې ډېر سړي پیدا کیږي چې د هغوی عقل او ذکاوت له معمولي حد نه پورته وي. دغه قریحې او عقول په دې واسطه چې لاره او وسیله ونه مومي ضایع کیږي او له منځه ځي. د انحطاط په زمانه کې ډېر عقلونه او فکرونه د تملق او چاپلوسۍ د فورمولونو په پیدا کولو پسې ګرځي. خلاصه دا چې هرکله د سیاسي نوابغو سر و کار له خلکو سره دی او د دوی د مطامعو تخت د خلکو په اوږو ایښی دی نو ځکه له خلکو سره سازش

کوي او د هغوی زړونه ځان ته راکاږي. له دغه امله ویلی شو چې سیاسي نوابغ اکثره روح پیژندونکي دي. د نوابغو د دغې ډلې د شهرت لوی سبب همدغه نکته ده. که نه نو که پاستور او بوناپارت دواړه په یوه تله کې واچوو ، نو بوناپارت شیطان دی چې غیر له شر او فساد او وینو تویولو څخه بې نور څه نه دي کړي. مګر په مقابل کې پاستور لکه د رحمت ملائکه د خلکو او محتاجانو د درد، الم، تکلیف او زحمت پر بالښت ولاړ دی او د خلکو خدمت کوي. ولې بیا هم د ناپلیون په مدحه او صفت خلک نه مړیږي او له پاستور څخه، له څو منورینو پرته نور څوک خبر هم نه دي. نو نتیجه دا شوه چې لومړی خو نوابغ یواځې په سلاطینو او فاتحینو پورې منحصر نه دي. دوهمه دا چې د علم او معرفت نوابغ له نورو څخه زیات په خپل اجتماعي محیط کې مؤثر دي. دریمه دا ده چې سیاسي نوابغ د خپل محیط تابع دي. د دوی امتیاز او تفوق په دې کې نه دی چې پر محیط غالب دي، بلکې په دې کې دی چې د خپل محیط مخفي اوامر په ښه شان اجراء کولی شي او وروستنی خبره دا ده چې د خپل حق نه زیات مشهور شوي دي.

## په تېره مقاله زموږ ملاحظات

په نبوغ باندې د عقيدې او عمل د ترديد له پاره به له دې نه زيات قوي دلايل نه وي چې په تېره مقاله کې راوړل شوي دي. که چا د کتاب مخکې مقالې لوستې وي هغه په خپله پوهېداى شي چې دغه دلايل د حقيقت او واقعيت له مخې څومره کمزوري او سخيف دي. مګر که دلته د دغسې خبرو د ترديد او ځواب له پاره هغه نکتې راغونډې کړو چې د نبوغ د عقيدې او عمل په باب ټول کړل شوي اغزي يو وار له مخې وباسي دا به بې ځايه نه وي. له نبوغ نه مطلق انکار لکه چې مخکې هم ويل شوي دي په مطلق صورت باطل فکر دی، ځکه چې له نبوغه مطلق انکار د ارتقاء له طبيعي قانون سره مخالفت لري. په دې چې د ارتقاء اصول دا وايي چې د نباتاتو او حيواناتو افراد او انواع په تدريج سره تغيير او تحول مومي او په دغه تغيير او تحول کې مترقي پاتې کېږي او کمزوري او منحط له منځه ځي. نو که د افرادو استعدادونه او صلاحيتونه سره فرق ونه لري نو ارتقاء به څنګه ممکنه شي؟ د کائناتو په ټولو موجوداتو کې فردي تفاوت او په وروسته کې له اول نه تکامل او بهتري يوه داسې خبره ده چې نن دنيا ورنه انکار نه شي کولای. هوا دومره ده چې دا عمل د مد او جزر په صورت او

ډېر تدريجي دی. خو په هر صورت د نن دنيا ټول لوی دماغونه له دې انکار نه شي کولای چې دنيا مخ په تکامل او ترقۍ روانه ده، نه چې ولاړه او نه مخ په کښته درومي. نو پر دغه اساس ښايي چې د افرادو او کتلو په منځ کې دې متکامل او متر قي افراد، دماغونه او افکار موجود وي او موجودېدای دې شي. دغه ده د نبوغ منبع! راغلو د ترديد د مقالې موضوع ته، مقاله وايي چې نبوغ په درې قسمه دی: بدني، عقلي او سياسي. وايي چې د بدني نبوغ وخت تېر شوی دی او نور ورته چانس نه شته. په عقلي او سياسي کې عقلي پر سياسي د زيات اهميت وړ دی او دا د خلکو خبط يا د سياسيونو چالاکي ده چې ځان په خلکو باندې له خپلې اندازې څخه په زيات حيثيت ومني. مقاله کې د اتکاء يوه غټه خبره دا هم شته چې«زيات مفکرين عقيده لري چې سياسي نوابغ بدلولی نه شي، بلکې دوی له هغو تغييراتو سره چې محيط ورته مساعد وي کومک کوي.»

دلته يوه لويه سهوه او خطا چې کومه موجوده ده هغه دا ده چې عقلي نبوغ په سياسي نبوغ مخکې، مقدم او مهم ګڼل شوی دی او په سياسي نبوغ کې ځيني حريص، طامع، سفاک او ټيټ شخصيتونه داخل ګڼل شوي دي او بيا استدلال شوی دی. که له سره څخه داسې فکر وشي چې نبوغ د تکامل، ارتقاء او اصلاح نوم وپېژندل شي، نه د انحراف، نو په دې صورت کې

کیدای شي چې ډېر ناقص، کمزوري، منحرف او منحط طبیعتونه چې برازنده ګي لري، خو کمال نه، اساساً نبوغ له دایرې څخه دباندې وایستل شي. نو په دې وخت کې به په نبوغ کې د شیطانانو، چالاکانو، خپل چارو او لیونیو له پاره ځای پاتې نه شي او په پاتې مفکرینو، صالحو، فداکارانواو مهربانو اشخاصو کې به د فکر او عمل خاوند یوازې د فکر په خاوند څو ځله مخکې او افضل وګڼل شي. مونږ دا منو چې تخنیک او اختراع د دنیا په ترقۍ کې ډېره مرسته کړې ده، خو له دې هم غفلت په کار نه دی چې که اجتماعي او سیاسي مفکرینو او کارکوونکو په نظام او سیستم کې تحول او تطور نه وای راوستی نو هېڅېږي به هم نه چا کومه نظریه کشف کړې او په کار اچولې وای او نه به څه شی اختراع شوی او جوړ شوی وای. په غیر مساعد محیط کې ټول استعدادونه او طبائع داسې ضایع کیږي لکه چې په وچ ډاګ او شوره ناکه ځمکه کې د ګلانو تخمونه.

مونږ خو چې څومره فکر او استقراء کولی شو رامعلومیږي چې د یوې مفکورې، ایډیا او نظام تخلیق او اختراع د یو ماشین، آلې او کوم طبیعي قانون له کشف، موندلو او جوړولو نه ډېر مهم، مخکې او د اهمیت وړ کار دی. علم، فن، کسب او هنر ټل په هغو نظامونو کې وده کړې ده چې امن، عدل او تقدیر په کې موجود و او نظام جوړول د لویو او متکاملو سیاسیونو

کار دی، نه د مخترعینو او مکتشفینو. بخار، برق او ایتم او داسې نور خو لوی لوی اختراعات دي. دا هم موږ ولیده چې انسان له دې خاورو څخه پورته شو له ځمکې په یو ساعت او څو دقیقو کې چاپېره وگرځېد او بېرته هم راکوز شو او اوس د ستورو په تکل کې دی. مگر دا کارونه ډېر مهم دي او که هغه نظامونه چې په نتیجه کې ترې دا اعمال صادر شول؟ زما په نزد اجتماعي ماشین جوړول ډېر سخت او مهم کار دی چې دا وشي نو نور کارونه په خپله کیږي. که نه وي نو، نه. پاتې شوه دا خبره چې سیاسي نوابغ محیط بدلولی نه شي، بلکې د هغو تغییراتو له راوستو سره کومک کوي چې محیط ورته مساعد وي. موږ به دا ومنو. مگر د محیط له غوښتنې سره سم تغییر له پاره زمینه تیارول او یا مخصوصاً په محیط کې د مساعد تغییر له پاره غوښتنه پیدا کول محیط له بدې غوښتنې څخه د ښې ِغوښتنې په خوا اړول خو هم په خپله نه کیږي عامل غواړي. نو که رښتیا مې پوښتئ دغه عامل یا عوامل هم د نبوغ له انرجي څخه برخه لري. موږ ویلي دي چې نابغه کوم داسې مخلوق نه دی چې مرگ، درد، ژوبله او ناکامي نه لري، بلکې دا وایو چې د فکر، اختراع، ابتکار عمل، اقدام او تأسیس قوه په نوابغو کې تر نورو زیاته پرته ده او باید چې تر یې کار واخستل شي او دا خو راسره زموږ معاصر او ملگري«علي دشتي»هم منلې وه چې«سیاسي نوابغ د یو لړ طبیعي

مواهبو په برکت پر خپل اجتماعي محیط له پاسه دي. مثلاً د دوی ارزوګاني لوړې او پراخه دي، دوی د ثبات او استقامت خاوندان دي. لوړ نظر، اخلاقي قوت، د سرداری میل، شجاعت او فصاحت ، د افرادو د اخلاقي ارزښت قوه پېژندل، د وخت د اړتیا تشخیص، دهاء او د زړه سختوالی لنډه دا چې یو سرکش، بلندپرواز او نه ماتېدونکی روح په سیاسي نوابغو کې لږ و ډېر مشترک لیدل کیږي. په دغسې خلکو کې د تعمق او اطلاعاتو د وسعت او په علومو فنونو کې د تبحر او احتیاط پرځای حماسي روح، ثابت ایمان او له تفوق سره سخته علاقه لیدل کیږي.»

دا پورته اعتراضات د هغه چا له خوا دي چې له نبوغه منکر دی. مګر په عین انکار کې اقرار کوي. موږ مخکې ویلي دي چې نوابغ له محیطه پاځیږي او د خپل محیط پیداوار دی. خو په محیط باندې اغېزه او تأثیر هم لري او کېدای شي چې د تاریخ مجرا بدله کړي.

د مقالې په خبرو کې یوه خبره دا هم ده چې «مؤرخین او ځینې نور کسان زور لګوي او کوشش کوي چې د تندو او تېزو تقریرونو او خطابو په ذریعه د خان او بشر له پاره معبودان جوړ کړي.» موږ وایو چې د نبوغ او نوابغو منل او په مقام ورته قایلېدل د هغو پرستش او عبادت نه دی. بلکې د انسانیت شرط دی چې د عالم، عامل، رهبر او رهنما عزت، احترام او

منبست وکړي. که نه وي نو جامعه به د ظلم، استبداد، جهالت او ضلالت له پښو لاندې شي او نجات به ونه مومي. د شرق په آسماني رواياتو کې پيغمبر لا هم يو سړی ګڼل شوی دی، نو نابغه به څنګه معبود کيږي. البته له فطري صلاحيتونو څخه انکار کول يا رهبر او خدمتګار معبود ګڼل د خلکو د انحطاط او غلامانه ذهنيت علامه ده او له دې څخه د نجات لار دا نه ده چې ملتونو ته په طبيعي او قدرتي صلاحيتونو او استعدادونو باندې د انکار تبليغ وکړی شي چې څو په ټولو عالي مبادیو ناباوره او بې ايمانه شي او تودې ته د غونډېدو او ټولېدو هيڅ ځلی پاتې نه شي او د بې شپانه رمې په شان يې لېوان وخوري. د ليډر، لارښوونکي او رهبر د اطاعت غريزه يوازې د انسان خاصه نه ده، بلکې په کبانو، مرغانو، زانو او تقريباً ټولو ژوو کې ليدل کيږي. البته په دې ټولو مواقعو کې صلاحيتدار او متکامل تر نورو مخکې کيږي او د نورو قيادت کوي. نو دا خو تعبد او استعباد نه دی.

هو! که څوک د آزادۍ په نامه انسان له ټولو حيواناتو څخه کښته درجې ته راکاږي، نو لوی ظلم به کوي. د دغسې تبليغاتو اغېزه ده چې ځينې جوامع تر ابده په دام کې نښتي پاتې دي. هو يو شی د منلو دی او انکار ترې نه دی په کار او هغه دا چې د نبوغ په باب افراطي عقايد بايد اعتدال ته راوستل شي دغه به وي په دې موضوع کې حقيقي فيصله.